# کامیابي ستاسي لارې څاري

«ته ناکام نه يې، يوازې کامیابي دې ځنډېدلې»

لیکوال: قاسم علي شاه
ژباړنه: منزه غفورزی



# کامیابي ستاسې لارې څارې

لیکوال: قاسم علي شاه
ژبـاړنه: منزه غفورزۍ



# کامیابي ستاسې لارې څاري

لیکوال: **قاسم علي شاه**

ژباړنه: **منزه غفورزۍ**

ډیزاین: **سپین سهار**

چاپکال: **۱۴۰۱ل/ ۲۰۲۲ ز**

چاپشمېر: **۱۰۰۰ ټوکه**

[redacted]

# نیولیک

ډالی ........................................ ۵
سریزه ........................................ ۶
خپله برخه ........................................ ۹
خپل ارزښت لوړ کړئ! ........................................ ۱۴
بریالیتوب څنګه ممکن دی؟ ........................................ ۱۹
برخلیک ټاکونکې پرېکړې ........................................ ۲۳
سم لوری وټاکئ ........................................ ۲۶
د ژوند په ټولو برخو کې توازن ساتل حقیقي بریا ده! ........................................ ۳۰
تاسې یې وټاکئ! ماضي، حال او که راتلونکی؟ ........................................ ۳۵
د بریالیتوب لپاره ناکامي اړینه ده! ........................................ ۳۹
مناسب ځای ........................................ ۴۲
خپل فکر بدل کړئ! ژوند مو پخپله بدلیږي ........................................ ۴۵
د اړیکیو د ټینګښت او ملګرتیا پاللو لارې ........................................ ۵۱
پیل له تاسې څخه... ........................................ ۵۴
سخته او سره ډبره ........................................ ۵۹
د ناکامۍ لاملونه ........................................ ۶۳
وېره، د بریالیتوب تر ټولو لوی دښمن! ........................................ ۶۸
له شتمنۍ سره مینه یا ترې کرکه ........................................ ۷۳
د شتمن یا غریب اوسېدو بنسټیز لاملونه ........................................ ۷۶

پر فکر، احساساتو او جذباتو بارز ځواک ........................................ ۸۳
بریالي اشخاص کوم کارونه کوي؟ ........................................ ۹۰
زه هم له تاسې ګیله لرم! ........................................ ۹٤
مخکې له دې چې... ........................................ ۹۷
په موږ احسان کوونکی ........................................ ۱۰۱
د صبر مېوه خوږه وي ........................................ ۱۱۱
ستاسې لپاره یو اړین نصیحت ........................................ ۱۱٦
اندازې (باورونه، فرضیې) بدلېدای شي ........................................ ۱۲۰
پرته له مقصده یې وویشئ! ........................................ ۱۲٤
د خوشحاله اوسېدو هنر ........................................ ۱۲۹
کتاب غوره ملګری ........................................ ۱۳٤
آسان او سخت ګڼل ........................................ ۱۳٦
بریا بخښونکي الفاظ ........................................ ۱٤۱
استعداد (وړتیا) د الله تعالی غوره ډالۍ ده ........................................ ۱٤٦
د خپل ځان لپاره مو وخت جلا کړئ! ........................................ ۱۵۰
نېکي وکړه او سیند ته یې ګوزار کړه ........................................ ۱۵٤
ستاسې دیانتداري نور خلک هم دیانتداره کوي ........................................ ۱۵٦
ستاسې واقعي پېژندګلوي ........................................ ۱٦۱
وروستۍ خبرې... د ژوند عنوان ........................................ ۱٦۵

# ډالۍ

زما نازولیو خویندو:

**مهناز غفورزۍ، مینې غفورزۍ او مسرت غفورزۍ** ته!

چې د ژوند په هر ډول سختو شرایطو کې یې تل زما ملتیا کړې، حوصله او مورال یې را لوړ کړی، ددې کتاب ژباړلو ته یې هڅولې یم او زما پرمختګ او بریالیتوب یې لوی ارمان دی.

# سریزه

لکه څنګه چې پوهېږو نړۍ په ډېرې چټکتیا سره پر مخ روانه ده، ورو ورو د ژوند کولو پخوانۍ ساده تګلارې له کاره لوېږي او خپل ځای نویو او د اوسني عصر له غوښتنو سره برابرو تګلارو او اصولو ته پرېږدي چې له دې سره د پرمختګ پړاوونه هم ګام پر ګام پېچلي او تخنیکي کېږي او دا چې هر هېواد او هره ټولنه دې ته اړه ده چې دغه مزل له نړیوالو سره په ګډه ووهي چې وروسته پاتې نشي او په نوې پرمختللې نړۍ کې د ژوند کولو جوګه شي...

ددې هدف لپاره هر فرد مکلف دی چې هم د ځان او هم د خپل هېواد لپاره د پرمختګ دروازې پرانیزي.

نن- سبا تقریباً موږ ټولو دا درک کړې ده چې موږ څوک یو؟ چېرته یو؟ او څه کوو؟

په دې هم پوهېږو چې نن ورځ موږ په کوم ځای کې ولاړ یو، دا زموږ منزل نه دی، خو دا چې زموږ منزل چېرته دی او له کومې لارې ور رسېدلی شو، په دې نه پوهېږو.

کله چې یو هېواد پرمختګ کوي، نو ټول افراد یې پرمختګ کوي، داسې چې کله افراد بریالي کېږي، نو ټول ملت و هېواد یې اتومات ورسره بریالی کېږي او پرمختګ کوي.

خو دغه بریالي خلک څه ډول بریالي کېږي؟ له کومو لارو چارو او اصولو څخه کار اخلي؟

زموږ په ټولنه کې ډېری خلک له دې اصولو څخه ناخبره دي چې دا درې مهم لاملونه لري، لومړی دا چې دې برخې ته ډېره توجه نه ده شوې، ډېر لږ شمېر کتابونه پدې برخه کې په پښتو ژبه لیکل شوي او ژباړل شوي دي. دویم دا چې ډېری افغانان نالوستي دي او درېیم دا چې ډېری لوستي مو له کتاب لوستلو سره مینه نه لري، کتاب نه لولي!

که چا ځان پېژندلی وي، که څوک پوهېږي چې منزل یې کوم دی، که څوک غواړي خپل هدف تر لاسه کړي او که څوک غواړي چې بریالی شي، نو د قاسم علي شاه دغه کتاب ورته غوره لارښود دی.

په دې کتاب کې ټول هغه قواعد او اصول په تفصیل له بېلګو سره ذکر شوي چې د لوستونکیو لپاره د ډېوې په څېر لارې رڼوي او هدف لرونکي انسانان په اسانۍ سره د بریا سفر پای ته رسوي او خپل منزل ته رسېږي.

قاسم علي شاه وایي:

«ډېری انسانان پدې خاطر نه ناکامېږي چې دوی تنبل دي، یا یې وړتیا نه لري، بلکې له دې لامله ناکامېږي چې بریالي کېدل یې ندي زده».

د کتاب هره موضوع او هره کرښه په لوستونکیو کې یوه انګېزه او انرژي پیدا کوي او انسان هڅوي چې د بریالي کېدو لپاره عملي ګام پورته کړي، تسلیم نشي او ماتې و نه مني.

زما په اند داسې کتابونه د افغانانو او په ځانګړي ډول د پښتنو لپاره ډېر

ګټور دي.

همدې موخې ته د رسېدو لپاره چې وکولای شم له یو څو لار ورکیو سره د لارې په پیدا کولو کې مرسته وکړم، یو څو نهیلي زړونه هیله‌من او ډاډمن کړم او ورته ووایم چې تاسې هم بریالي کېدای شئ، یوازې بریالي کېدل زده کړئ! بیا به بریالیتوب پخپله ستاسې لارې څاري!

په پای کې غواړم چې له ټولو هغو دوستانو څخه مننه وکړم چې ددې موخې په تر لاسه کولو کې یې را سره ربړې ګاللي، په ځانګړې توګه ظاهر عمار صیب -چې د کتاب په انتخاب او تر لاسه کولو کې یې را سره مرسته کړې- او خپلې ګټورې مشورې او تجربې یې را سره شریکې کړې دي.

د سپین سهار او دانش خپرندویې ټولنې مننه چې کتاب یې ایډېټ او په ښه کیفیت چاپ کړ، خدای دې ټول دوستان تل سوکاله او بریالي لري.

ژوند ژوند

منزه غفورزۍ

# خپله برخه

د هغه انداز له تجسسه ډک و او د خبرو لهجه یې هم تونده وه. له څو هاخوا دېخوا خبرو وروسته یې یوه عجیبه پوښتنه را نه وکړه: ښاغلیه! تاسې بالآخره څه کول غواړئ؟

ما په بې پروایۍ ځواب ورکړ: «څه خاص نه!»

بیا یې وویل: نه ښاغلیه! کوم هدف خو خامخا لرئ! تاسې پخپلو لیکنو کې کله د بریالیتوب پټ رازونه را سپړئ، کله د اخلاقو په اړه په نوې بڼه غږېږئ او کله بیا خپل لوستونکي برخلیک ټاکونکو پرېکړو کولو ته هڅوئ. تاسې دا ټول د څه لپاره کوئ؟!

ما د هغه پوښتنه له پامه وغورځوله او ترې ومې پوښتل: ته څه ډول تر ما را ورسېدې، په داسې حال کې چې زما شاګرد هم نه یې؟

سمدستي یې وویل: ستاسې د لیکنو د لوستو له لارې در سره آشنا شوم. زه چې په کوم پوهنتون کې زده‌کړې کوم، هلته ستاسې شاګردان ستاسې د لیکنو چاپ شوې پاڼې پر زده‌کوونکو وېشي. دا پاڼې تر ما هم را ورسېدې، زه مو له خبرو ډېر اغېزمن شوم، نو ځکه مې وغوښتل چې تاسې ووینم او دا دی دلته راغلم.

ما ورته وویل: د همدې لپاره خو زه دا ټول رازونه او دا ټولې مهمې خبرې په‌خپلو لیکنو کې رانغاړم چې تر تاسې در ورسېږي.

هغه په اندېښنې وویل: مګر ښاغلیه! دا خبرې به چېرته زموږ ټول ولس اصلاح او سمې لارې ته رهبري کړای شي، دلته خو له زړو تر وړو ټول بې لارې دي، دلته خو یو بشپړ انقلاب ته اړتیا ده او همدا یوازینۍ حللاره ده؟!

د ځوان دلیل ډېر روښانه او له احساساتو ډک و، زه څو شېبې غلی شوم او خپل ټول حواس مې د ځوان د نهیلۍ د لېرې کولو په موخه په کار واچول. ما غوښتل د هغه ذهنیت په بشپړه توګه بدل کړم. ورته ومې ویل: وایي، یو ځل په ځنګل کې اور ولګېد او ټول حیوانات په تېښته شول. په دې وخت کې یو کارغه چې د یوې ونې په ښاخ کې یې ځاله جوړه کړې وه، په ځنګل کې له اور لګېدنې خبرېږي. سمدستي الوځي او له نږدې ویالې څخه څو څاڅکي اوبه پخپلې مښوکې کې د اور مړه کولو لپاره راوړي. دا کار څو ځله تکراروي، په دې وخت کې د ځنګل پاچا – زمری- راځي او ورته وایي: فکر کوې چې ستا په دې څو څاڅکو اوبو به د ځنګل اور مړ شي؟

کارغه ورته په ځواب کې وایي، پاچا سلامت! ستا دا پوښتنه چې دا څو څاڅکي اوبه به د ځنګل اور مړ کړای شي، که نه، هومره مهمه نه ده، بلکې مهمه پوښتنه د هغه لوی پاچا ده چې د ټولو کایناتو خالق دی. هغه چې د محشر په ورځ به له ما پوښتنه کوي چې کله ټول ځنګل په اور کې سوځېده، تا د اور د مړه کولو لپاره څه وکړل؟

نو زه به په لوړ سر ځواب ورکړم، کله چې ځنګل اور اخیستی و، ما یې د مړه کولو لپاره د خپل وس مطابق هڅه کړې وه او څو څاڅکي اوبه مې په اور اچولې وې، نو زما رب به له ما راضي شي.

ستا د پوښتنې ځواب دا دی چې زه هم د هغه کارغه په څېر خپله برخه مسئولیت سر ته رسوم چې د حساب په ورځ کله چې له ما وپوښتل شي: مونږ تاته د قلم په واسطه د رڼا خپرولو قوت درکړی و او ستا غږ مو نورو انسانانو ته رسولی و، ووایه تا څه وکړل؟

نو زه به یې په خدمت کې خپله دا کوچنۍ هڅه وړاندې کړم. هغه دومره غفور او رحیم ذات دی چې د هغه کارغه په څېر به زما برخه هڅه هم قبوله کړي.

بچیه! خبره د گټلو او بایللو نه ده. مهمه دا ده چې قبلېږي او که نه. که الله تعالی وغواړي، د یوه کوچني الوتونکي د مښوکې په واسطه د یوه پیاوړي انسان د سترگو دید اخیستی شي.

هغه ذات خو د یوه کوچني ماشي په واسطه د نمرود په څېر لوی پاچا ته له ذلته ډک مرگ ور کولی شي. هغه چې د یوې کمزورې غنې په واسطه د خپل محبوب نبي صلی الله علیه وسلم ساتنه کولای شي. څوک څه پوهېږي، کېدای شي د کوم عابد له تکبره ډک عبادت ورته قبول نشي، خو د کوم گناهکار د عاجزۍ او پښېمانۍ دوه څاڅکي اوښکې ورته قبولې شي او هغه وبخښي.

«دیانتداره او امین سوداگر به د قیامت پر ورځ د انبیاوو، صدیقینو او شهداوو په ډله کې را پاڅېږي». (حدیث شریف)

بچیه! څوک پوهېږي کېدای شي زما ددې کوچنۍ هڅې له امله کوم سوداگر سمې لارې ته راشي او پخپل کسب و کار کې له ایماندارۍ څخه کار واخلي او کله چې هغه د حشر پر ورځ د عظیمو انسانانو په کتار

کې ولاړ وي او الله تعالی ته ووايي چې زه خو د فلاني کس د ليکنو له امله يو ايماندار سوداګر شوم؛ نو ای د مخلوقاتو ربه! هغه هم زموږ ډلې ته راوله. کېدای شي هغه وخت زما ددې زحمتونو بدله ما ته را کړل شي. مهمه نه ده چې زموږ د هر نېک عمل بدل دې موږ ته سمدستي راکړل شي او هر کار دې فوراً نتيجه ولري يا ومنل شي، بلکې مهمه دا ده چې د يوه عمل د تر سره کولو لپاره زموږ نيت او انګېزه څه ده؟ که نيت د خير وي، نو مخکې له دې چې موږ هغه کار عملي کړو، الله تعالی زموږ نيت ته په کتو نېکه بدله راکوي.

نن ورځ چې زموږ هېواد په بدمرغيو کې را ښکېل دی، بايد وګورو چې کوم چا يې د حالت د ښه کولو لپاره تر خپله وسه کوم بار ته اوږه ورکړې او که نه؟ هر څوک خپله برخه مسئوليت تر سره کوي او که نه؟ دغه برخه مسئوليت ځينې خلک په دعا سره هم پوره کولای شي. همدارنګه دا مسئوليت د ليکوالۍ له لارې هم اداء کېدای شي او د ويناوالۍ له لارې هم.

نبي صلی الله علیه وسلم فرمايي: «الله تعالی دې هغه انسان آباد لري چې زما خبرې واوري او تر نورو خلکو يې ورسوي».

د نېکو خبرو خپرول هم عبادت دی. د نهيلۍ پر وخت هيله ورکول او هيله بخښونکې خبرې کول هم د خپلې برخې مسئوليت د اداء کولو په معنا دي، نهيلي خو هسې هم ګناه ده؛ نو بچيه! ستا چې هر څه له وسې پوره وي، له خلکو يې مه دريغوه.

د الله تعالی لپاره، د هغه د رسول صلی الله علیه وسلم لپاره، د خپل هېواد

لپاره او د راتلونکو نسلونو د غوره ژوند او پرمختګ لپاره ته هم خپله برخه مسئولیت تر سره کړه، که څه هم هغه د کوم چا د درد له احساسولو وروسته څو څاڅکي اوښکې تویول وي. څوک څه پوهېږي که همدا دوه څاڅکي اوښکې د الله تعالی په دربار کې ومنل شي او ستا د بخښنې لامل شي.

# خپل ارزښت لوړ کړئ!

نړۍ هغه خلک هېروي چې د نړۍ لپاره ارزښتناک نه وي. لکه څنگه چې ځینې خلک خپلې شتمنۍ په لاکرونو (د پیسو ساتلو په اوسپنیزو صندوقونو) کې ساتي، همداسې ډېر خلک د لویو هستیو د یادونو خزانې پخپلو زړونو کې پټې ساتي. د سمندر یاغي څپې یوازې یو لوی کمر په دوو برخو وېشلای شي، کوچنۍ ډبرې خو د سمندر څپې له ځان سره وړي. د نړۍ تاریخ ددې شاهد دی کومو اشخاصو چې نړۍ او بشریت ته خدمت کړی، مینه یې خپره کړې او د امن پیغام یې خپور کړی، د هغوی نومونه نن هم ژوندي دي.

د فکر وړ خبره خو دا ده چې په هغو ټولو کسانو کې کومه داسې ځانگړتیا وه چې د نړۍ لپاره ارښتناک ول؟ بشر ذات که نن پخپل بشریت ویاړي، نو لامل یې زما په اند د همدې عظیمو هستیو لاسته‌راوړنې او کارنامې دي. ددې ټولو لویو اشخاصو تر منځ مشترک ټکی دا و چې دوی خپل ځانونه د نړۍ د خیر و پرمختگ لپاره وقف کړي وو او له همدې امله یې نومونه تر ننه یادېږي.

په اردو شاعرۍ کې د مرزا غالب او علامه اقبال نومونه نه هېرېدونکي دي. په فلسفه کې د سقراط نوم له پامه نشي غورځول کېدای. د اختراعاتو خبره چې کېږي، د توماس اډیسن نوم به هرومرو اخېستل کېږي. مقصد دا دی چې په هره برخه کې داسې نومونه او لوړ شخصیتونه لرو چې د

نړۍ لپاره يې اوږدمهاله سختۍ زغملې او د لويو لويو کارونو په تر سره کولو يې خپل ارزښتونه لوړ کړي، ځکه هغوی پوهېدل چې تر هر څه مهم د دوی خپل ځان دی او که دوی نه وي، نو هر څه بې مانا دي. له همدې امله هغوی له خپلو شتمنيو، کورونو او حتا له خپلو کورنيو او دوستانو تېر شول، خو له خپلو اهدافو تېر نشول. تاسې هر هغه څه لاسته راوړلی شئ چې هيله يې لرئ، خوددې لپاره بايد خپل ارزښتونه ډېر لوړ کړئ. پوهېږئ چې ارزښتمنېدل يعنې څه؟

«که په يوه مجلس کې ستاسې موجوديت او نه موجوديت بې تفاوته وي، نو داسې مجلس کې ګډون کولو ته څه اړتيا ده؟ همدارنګه، که ستاسې په راتګ سره نړۍ ته کومه ګټه و نه رسېږي، نو په تګ به مو هم نړۍ زيانمنه نشي. يعنې دا چې ستاسې راتګ دې نړۍ ته بالکل بې ګټې او بې معنا و».

تاسې د نړۍ لپاره هغه وخت با ارزښته شمېرل کېږئ کله چې ددې شعر مصداق شئ:

«زما لـــه برکته ښايسته شوی دا محفل
که زه نه وم هم نو ياد به مې پکې وي».

په ياد ولرئ، ستاسې لپاره تر هر څه مهم ستاسې خپل ځان دی، له همدې امله تر کومه چې کولای شئ هڅه وکړئ چې پر خپل ځان پانګونه وکړئ او ځان جوړ کړئ!

تر پانګونې دمخه له ځانه لومړی دا پوښتنه مطرح کړئ چې: «تا ته ژوند

یوازې یو ځل در کړل شوی او د دویمې موقعې تر لاسه کولو هېڅ چانس نه لرې، نو ووایه ته له دې فرصته څه ډول استفاده کوې او څه تر لاسه کول غواړې؟ او کله چې له دې دنیا ولاړ شې، نړۍ ته څه شی په میراث پرېږدې؟»

ددې دواړو پوښتنو تر ځواب لیکلو وروسته په آرامو مغزو د یو څه وخت لپاره غور و فکر وکړئ، نو تاسې ته به ستاسې د ژوند مقصد معلوم شي او بیا د هماغه مقصد د تر لاسه کولو لپاره لاس پکار شئ.

گټور کتابونه وپېرئ، دا به ستاسې شخصیت لا وځلوي. د کتابونو مطالعه انسان د کامیابۍ لوړو څوکو ته رسوي، داسې کتابونه ولولئ چې ستاسې اخلاق او ارادې لوړې کړي، لکه څنگه چې زموږ په هېواد کې د تعلیم کچه ډېره ټیټه ده، همداسې د کتاب لوستلو فرهنگ هم ډېر کمزوری دی. زموږ ځوانان خپل ډېر وخت د انټرنېټ په کارولو او د ټلوېزیون په کتلو ضایع کوي، مگر په پرمختللیو هېوادونو کې خلک په فارغو اوقاتو کې هم له کتابونو سره لیدل کېږي او همدا له علم و مطالعې سره مینه یې د پرمختگ او آبادۍ لاملونه بلل کېږي.

د خپل ځان د جوړونې لپاره د غور و فکر کولو عادت خپل کړئ، یعنې میډیټېشن یا مراقبه وکړئ. دا نړۍ د رب تعالی ښکلی کتاب دی چې هر موجود یې هره شېبه د خپل ځان د موجودیت احساس راکوي. مولانا رومي یو ځل د شپېلۍ غږ ته په فکر کې شو، نو ویې ویل، دا خو د جدایۍ داستان غږوي. فکر او غور کول دومره ضروري دي چې الله تعالی پخپل کتاب کې بیا بیا انسانان فکر و غور کولو ته را بولي.

د خپل ارزښت لوړولو لپاره ټریننګ اخیستل او علمي سیمینارونو کې ګډون کول ډېر اړین دي. نه یوازې دا چې په علم کې به مو زیاتوالی راشي، بلکې دا داسې مثال لري لکه کوم نالیدلی قوت چې موږ د خپل هدف او کامیابۍ پر لور ټېل وهي، څکه ویل کیږي "To Earn More, Learn More".

له بده مرغه زموږ په ټولنه کې د (Self Help) یا له ځان سره مرستې او (Personality Development) یا د شخصیت د ودې پر موضوعاتو ډېر لږ سیمینارونه جوړیږي، خو که تاسې ترې کله هم خبریږئ، هرومرو ځان ور رسوئ. کله چې یو عالم خبرې کوي، نو د هغه د کلونو تجربې او معلومات تاسې په څو ساعتونو کې تر لاسه کوئ، څکه خو وایي: «له عالم سره څو ساعته ناسته، له څو کاله عبادت څخه غوره ده».

دا څو کاله کیږي چې موږ د (Self Help)، ګټورې مطالعې او زده کړې په هکله سیمینارونه جوړوو چې ډېره ښه نتیجه یې ورکړې.

د خپل ارزښت لوړولو لپاره داسې علوم او فنون زده کړئ چې ستاسې په وجود کې پټ استعدادونه او وړتیاوې را بهر کړي. په دې برخه کې هیپنوټېزم (Hypnotism) [1] یا مصنوعي خوب خورا ګټور هنر دی. همدا راز د (NLP) [2] لخوا د فکر د استعمالولو لپاره ګڼې لارې- چارې معرفي شوې چې کولای شو استفاده ترې وکړو.

د ورځپاڼو او رسالو لوستل هم ستاسې په معلوماتو کې زیاتوالی راوستی

---

[1] هیپنوټیزم یا مصنوعي خوب...

[2] دا یو ذهني-رواني تخنیک دی چې د ذهن د آرامولو او د رواني ستونزو د درملنې لپاره کارول کیږي.

شي. په علمي او ادبي غونډو او مناظرو کې ګډون هم ستاسې د لید زاویه پراخولی شي. ښکلې سیمې او منظرې ووینئ، د نړۍ د ښکلاوو په لیدو به ستاسې د باطن ښکلاوې هم را ویښې شي.

په یاد ولرئ! پخپل ځان د پانګونې پرېکړه ستاسې د بریا تضمین دی.

# بریالیتوب څنګه ممکن دی؟

هر انسان هیله لري چې خوښ او بریالی وي. خلک خپل بری او ناکامي تقدیر ګڼي، په داسې حال کې چې د بریالي کېدو لپاره ځانګړې فلسفه او عملیه موجوده ده. د اکثریت بریالیو خلکو په وجود کې دغه فلسفه او د کامیابۍ جذبه فطرتاً موجوده وي. دا خلک که څه هم بریالیتوب ته رسېږي، مګر دوی خپله هم پر دې نه پوهېږي چې د دوی د بریا راز څه دی؟ ځکه نو نشي کولی چې دا بهیر (Process) په واضح ډول تشریح کړي، یا یې نورو ته لارښوونه وکړي.

همدا راز هغه بریالي اشخاص چې ډېره ښه وینا هم کوي، د مصروفیتونو له لامله وخت نه پیدا کوي چې نورو ته لارښوونه وکړي او ځیني بیا وېره لري چې بل څوک د دوی د لارښوونو له لامله دې مقام ته و نه رسېږي او د دوی ځای و نه نیسي، مګر دا ناسم فکر دی. هېڅوک د چا د لارښوونو په عملي کولو د هغه ځای نشي نیولی، بلکې دومره به خامخا وکړي چې خپل حقیقي ځای به په ټولنه کې پیدا کړي. همدا د ژوند اصول دي چې خپلې تجربې او برې ته د رسېدو لپاره اغېزناکې تګلارې له نورو سره هم شریکې کړو.

د نړۍ او کایناتو نظام د یو لړ منظمو قوانینو او ځانګړو اصولو په چوکاټ کې پر مخ ځي او کله چې انسان ددغو اصولو او حقایقو په اړه پوهېږي، نو د قوانینو نوم ورته غوره کوي. ډېرې داسې پېښې چې د انسان له عقل

څخه ډېرې لرې دي هم ممکن کېږي، خو د مخصوصو قواعدو په عملي کولو سره.

د شلمې پېړۍ په لومړیو کې امریکایي څېړونکي نیپولېن هېل د بریالیتوب او خوښۍ د راز معلومولو پرېکړه وکړه. هغه ۲۵ کاله په ډېرو کړاوونو د زرګونو تنو بریالیو او ناکامو خلکو ژوند مطالعه کړ. د هغوی د فکر کولو طرز یې معلوم کړ او د هغوی په چال- چلند یې غور وکړ او د تر لاسه شویو پایلو پر اساس یې نړیوال د بریالیتوب او پرمختګ له فلسفې سره آشنا کړل.

د نیپولېن هېل څېړنه ډېره واضحه او یقیني وه، د شک پکې هېڅ ځای نشته. د هغه څېړنه تر ډېره د سوداګرو او کاروباري افرادو پر ژوند تر سره شوې وه. که چېرې هغه اصول د اسلام له هراړخیز نظام سره یو ځای او د ټولنې ځوان قشر ورسره اشنا کړای شي، نو ډېرې ښې پایلې به ولري.

د کایناتو خالق په نړۍ کې بېلابېل طبیعتونه پیدا کړي، همدا مختلفوالی (Variety) دی چې نړۍ ته یې ښکلا بخښلې.

هر انسان د خپل مزاج او طبیعت پابند دی، که یوه خبره یا یو کار د یوه انسان د خوښۍ لامل شي، بل لور ته به بل انسان د همدې موضوع له کبله ځورېږي. هر انسان هم غم لري او هم خوښي، مګر د هر یوه لپاره یې لاملونه جلا جلا دي.

تاسې د قدرت په لاس جوړو شویو د تضادونو دې ښکلا ته ځیر شئ! یو خوا که یو انسان د مال او شتو په زېرمه کولو کې سکون تر لاسه کوي، بل یې په مصرفولو کې د سکون احساس کوي. څوک د بشریت د

نا ارامۍ او بربادۍ لپاره کار کوي او چا یې د ارامتیا او ابادۍ لپاره شپه او ورځ یوه کړې. د همدې خصلتونو د توپیر له امله د هر چا لپاره د بریالیتوب تعریف جلا دی، بیا هم ویل کېږي چې:

«په یوې ځانګړې برخې کې که کوم فرد خپل ځانته منفرد مقام جوړوي، نو دا بریالی شخص دی».

د بېلګې په توګه:

غالب په شاعرۍ کې نوم ګټلی، سقراط په فلسفه کې او شېکسپېر په ډرامه لیکلو کې، غرض دا دی چې که څوک په یوه کار کې هم خوښي تر لاسه کوي او هم لوړتیا، نو دا کس بریالی دی. په دې اساس د یوه زده کوونکي، لوبغاړي، سیاستوال، سوداګر او ساینسپوه لپاره د بریالیتوب مفهوم جلا دی.

اسلام یوه مسلمان ته د کامیابۍ نوي تصورات وړاندې کوي، دغه تصور موږ هره ورځ لولو، مګر فکر پرې نه کوو.

[ربنا آتنا فی الدنیا حسنة و فی الآخرة حسنة و قنا عذاب النار]

په دې دعا کې د دنیا او اخرت د کامیابۍ غوښتنه شوې، یعنې اسلام دین له دنیا څخه جلا نه ګڼي، بلکې په دې ټینګار کوي چې دنیا داسې جوړه کړئ چې اخرت دې هم ورسره جوړ شي. د اسلام له نظره کامیابي دومره مهمه نه ده، څومره چې د هدف ټاکل مهم دي.

د اوسني عصر د غوښتنو مطابق د بریالیتوب تصور د ژوند ټولې برخې اغېزمنوي، که یو سړی بریالی وي، په مالي لحاظ پیاوړی وي، نو کولی شي چې له نورو سره هم مرسته وکړي چې په دې کار سره ذهني سکون

تر لاسه کوي. روغتیایي وضعیت یې نورمال وي، له خلکو سره ښه چلند کوي، له ژونده خوند اخلي چې په نتیجه کې د خدای جل جلاله شکرگذاره بنده ترې جوړېږي او د الله تعالی او د هغه د رسول صلی الله علیه وسلم اطاعت کوي.

د کامیابۍ لپاره اړینه ده چې د کامیابۍ د تر لاسه کولو هیله ولرئ. د هر مضمون له لوستلو وروسته د همدې مضمون علم تر لاسه کېږي. کامیابي هم یوه مهمه څانگه ده او ستاسې لپاره یو نوی مضمون دی، نو لازمه ده چې په پوره توگه دا مضمون زده کړئ! زموږ دا کتاب د کامیابۍ د همدې شعور عاملو لپاره دی.

د بریالي کېدو لپاره لېوالتیا او مثبتې جذبې او احساس ته اړتیا ده، په داسې حال کې چې په ډېری انسانانو کې منفي احساسات ډېر غالب وي، د مثبتو احساساتو پیاوړتیا او د گټنې وړ احساساتو د تر لاسه کولو لپاره ډېرې لارې- چارې شته چې زه به یې تاسې ته ووایم. مخکې له دې چې د بریا سفر پیل کړئ د یوه داسې راز ویل تاسې ته ډېر اړین دي چې له دې پرته هېڅ کوم انسان تر اوسه د بریا د غرونو لوړې څوکې نه دي لمس کړي. او هغه راز به د کتاب په را روانو پاڼو کې ولولئ.

# برخلیک ټاکونکې پرېکړې

په نړۍ کې د لویو لویو بدلونونو او پرمختګونو پیل له یوې برخلیک ټاکونکې پرېکړې څخه شوی، که تاریخ ته ځیر شئ، نو ډېر داسې موارد به مو په نظر راشي. تاسې خپل ماشومتوب او د ښوونځي لومړۍ ورځې در یادې کړئ، ټولګیوال، ملګري او استادان مو در یاد کړئ او د ټولګي هغه دروازه، دېوال او هغه سیمې چې تاسې پکې را لوی شوي یاست در په زړه کړئ او بیا خپل اوسني ژوند او وضعیت ته ځیر شئ. آیا هغه وخت مو دا تصور کړی و چې یوه ورځ به دلته په دې حالت کې اوسئ؟ نه مو و کړی کنه؟ ځکه چې هغه وخت تاسې کومه مناسبه شعوري پرېکړه نه وه کړې، نو همدا یې لامل دی چې له اوسني وضعیت څخه مو راضي نه یاست، مګر ژوند خو هغه دی کوم چې لا را په غاړه دی. که نن هم تاسې په فکر او دقت سره کومه شعوري او برخلیک ټاکونکې پرېکړه وکړئ، نو کولی شي چې ستاسې راتلونکی په پوره توګه بدل کړي.

یاد یې لرئ!

«ژوند په پېړیو، کلونو، میاشتو او ورځو کې بدلون نه مومي، بلکې په هغې شېبه کې بدلون مومي په کومه کې تاسې د ژوند د بدلون پرېکړه کوئ».

بریالیتوب د غوره پرېکړې پایلې ته ویل کېږي. بریالي انسانان ټول حقایق او خطرات په پام کې نیولو سره سمدستي د پرېکړې کولو عادي

وي دغه خلک که يو ځل پرېکړه وکړي بيا يې نه بدلوي او نه ترې په شا کېږي.

برعکس ناکام خلک د ورځې په پيل کې پرېکړه کوي او د ورځې په پای کې يې بدلوي. ډېری خلک له دې وېرې چې ناکام نشي پرېکړه نه کوي، لکه څنګه چې بريالیتوب د غوره او سنجيده پرېکړو نتيجه وي او غوره پرېکړې د ډېرو تجربو پر اساس کېږي، همدا راز تجربې ډېری وخت له ناسمو پرېکړو څخه تر لاسه کېږي، نو هېڅکله له پرېکړې کولو مه وېرېږئ.

زموږ په ټولنه کې يوه لويه ستونزه دا ده چې ژوند به د يوه انسان وي او د ژوند پرېکړې به يې نور انسانان کوي. ډېری مور و پلار داسې وي چې د خپلو اولادونو پر ځای پرېکړې کوي، له همدې امله کله چې يې اولادونه ستر او د ځوانۍ مرحلې ته ورسېږي، د پرېکړې کولو توان نه لري. يوې پر ځای پرېکړې کې دومره ځواک وي چې ستاسې د ژوند هر اړخ، لکه ټولنيز اړيکي، چاپېريال، ستاسې راتلونکی، عايدات، ستاسې تقدير او ستاسې پخپل وجود کې پام وړ بدلونونه را وستلی شي.

تاسې چې نن څه تر لاسه کوئ هغه ستاسې د تېر وخت د هڅو او هاند پايله ده. د ځانګړيو او لويو لاسته‌راوړنو لپاره پکار ده چې ځانګړې او لويې پرېکړې وکړئ. هر عمل يوه نتيجه لري، هر قدم مو يوې لارې ته برابروي او هره لاره مو يوه منزل ته رسوي، مګر آيا صرف يو ځل د يوه عمل په تر سره کولو سره کوم بدلون يا انقلاب راتلای شي؟ هېڅکله نه! ځکه چې ژوند د مسلسلو هڅو او مبارزې نوم دی. د يوه ځانګړي هدف لپاره د ځانګړې تګلارې عملي کول زموږ تقدير بدلولی شي. انسان په

هغې لارې ثابت قدمه پاتې کېږي کومه چې هغه خپله د ځان لپاره ټاکلې وي.

تاریخ ددې خبرې ګواه دی چې:

«کمزوري خلک د حالاتو زېږنده وي په داسې حال کې چې پیاوړي خلک د خپلې خوښې حالات پخپله را منځته کوي، ځکه چې هغوی د حالاتو د بدلولو او جوړولو اراده کړې وي».

نو همدا نن د خپل د ژوند د بدلون پرېکړه وکړئ، یوازې هیله لرل بسنه نه کوي، هدف وټاکئ او کلکه اراده وکړئ، ځان وهڅوئ، ورته ووایئ چې ژوند یوازې د یو ځل لپاره درکړل شوی، داسې نه چې بې ځایه در څخه تېر شي او کله چې د ژوند په مقصد پوهېږئ نو د پرېکړې کولو لپاره ناوخته شوې وي او ملتیا دې پرېږدي.

د ځوانۍ له عمرڅخه غوره فرصت بل نشته. د څېړونکو له یوې سروې معلومه شوه چې ډېرو بریالیو اشخاصو بریا ته د رسېدو څخه ډېر کلونه پخوا اراده کړې وه او هدف یې ټاکلی و او نننۍ بریا یې د کلونو پخوا پرېکړې پایله ده، نو سر له نننه پخپلو افکارو، اعمالو او چلند کې د بدلون را وستلو پرېکړه وکړئ. لږ تر لږه پېنځه داسې پرېکړې خامخا وکړئ کومې چې وکولای شي ستاسې د ژوندانه هر اړخ اغېزمن کړي.

په راتلونکي کې درته وایم چې وروسته له پرېکړې کولو تر هر څه مهم څه دي.

# سم لوری وټاکئ

د څو شېبو لپاره پر لاندې درېیو جملو فکر وکړئ:

۱: زه غواړم خوشحاله ژوند او ښه راتلونکی ولرم.

۲: زه غواړم ډېر شتمن شم.

۳: زه غواړم په راتلونکي کې یو بریالی انسان و اوسم.

په ورځني ژوند کې موږ پورتنۍ جملې له ډېرو انسانانو څخه اورو. دا هغه جملې دي چې یوازې د هیلو لرلو څرگندونه کوي، خو د هدف د پېژندلو او بیان لپاره ځینې قواعد او ضوابط شته چې باید په پام کې ونیول شي، چې هدف واضح او روښانه شي، ځکه که چېرې هدف مشخص نه وي، نو تر لاسه کول یې ناشوني دي.

د هدف د ټاکلو لپاره باید لومړی لاندې قواعد په نظر کې ونیول شي:

**لومړۍ قاعده:** هدف باید پر حقیقت ولاړ وي. فرضي تخیلات او هیلې هدف نه بلل کېږي.

**دویمه قاعده:** هدف باید واقعي او قطعي (مشخص) وي او د تر لاسه کېدو شونتیا ولري. د مثال په ډول: «زه باید په ازموینو کې ښې نومرې واخلم» دا جمله اوس کوم مشخص هدف نه څرگندوي، مگر دا جمله «زه باید په آزموینو کې ۹۰٪ سلنه نمرې واخلم» په بشپړه توگه یو واضح او مشخص هدف څرگندوي.

**درېیمه قاعده:** د هدف د تر لاسه کولو لپاره باید وخت تعین شي، چې تاسې خپل ټاکلی هدف په څومره وخت کې تر لاسه کول غواړئ. د مثال په ډول: «زه به په یوه ښه پوهنتون کې داخله واخلم» دا یو غیر قطعي ناڅرګنده هدف دی کوم چې وخت یې هم ندی تعین کړای شوی چې کله به دغه کار کوي، مګر دا چې ووایي: «زه به په راتلونکې میاشت کې په اسلام آباد نړیوال اسلامي پوهنتون کې داخله اخلم» دا یو مشخص او روښانه هدف دی چې وخت یې هم معلوم دی.

**څلورمه قاعده:** هدف باید ستاسې خپل اختیار او لاس کې وي او د نورو په لاس نه وي. د مثال په ډول: «زه له خپله زویه ډاکتر جوړوم» چې دا هدف له تاسې څخه ډېر ستاسې د زوی په لاس کې دی، نو ویلای شو چې دا یوازې یوه هیله ده چې یا به پوره شي او یا نه، مګر «زه غواړم ډاکتره شم» دا یو داسې هدف دی چې ۱۰۰٪ سلنه ستاسې په اختیار کې دی، که زیار وباسئ، نو تر لاسه کولی یې شئ.

**پېنځمه قاعده:** هدف باید لوی وي. کوچني هدفونه تاسې ته لوړ همت، جوش او جذبه نه در کوي او نه مو د هدف د تر لاسه کولو لپاره عملي ډګر ته په داخلېدو تحریکولی شي. پر خلاف یې لوړ هدف انسان کې ډېره مثبته انرژي پیدا کوي، همت او جرئت یې لوړوي او د هدف د تر لاسه کولو لپاره یې اقدام کولو ته تحریکوي.

خلک د خپلو لومړنیو ضرورتونو، لکه د کور مصارف، د ماشومانو د ښوونځي فیسونه او میاشتني بېلونه (Bills) په نظر کې نیسي او کار کوي، ځکه نو د هغوی احساسات هم ساړه وي او ایله همدومره پیسې د میاشتې په پای کې لاسته راوړي، خو که یو سړی وغواړي ډېر مال او شتمني تر

لاسه کړي او ماډرن ژوند ولري، نو هغه بیا په لېوالتیا او جنون سره کار کوي او د ډېرو پیسو ګټلو لپاره تلاش کوي، ځکه خو وایي:

*"Always Shoot the Moon"*

ډېرى زده کوونکي یوازې د کامیابۍ لپاره درس وایي، مګر هغوى چې غواړي پوره نومرې واخلي، شپه او ورځ درس وایي او زیار وباسي، ځکه د دوى هدف لوړ وي او لوړ هدف په دوى کې یو نوى جوش او ولوله پیدا کړې وي.

**شپږمه قاعده:** هدف باید په مثبت لیدلوري او مثبتې انګېزې بناء وي. مثلاً تاسې له ناروغیو څخه د ځانژغورنې پر ځاى صحتمنده اوسېدل خپل هدف وګرځوئ.

د Anthony Robbins په نوم عالم وایي:

«انسانان کمزوري او تنبل نه وي، بلکې د هغوى اهداف کمزوري او بېکاره وي کوم چې هغوى نشي تحریکولی او په نتیجه کې دوى خپله هم له کاره لوېږي».

ډېرى انسانان د هغو الوتکو د بېرته راتلو په تمه وي کومې چې دوى هېڅکله په سفر نه وي لېږلې. که هدف روښانه، مشخص او حقیقي نه وي او ورته ټاکلې محدوده موده په پام کې نه وي نیول شوې، نو هېڅ امکان نه لري چې هدف دې تر لاسه کړاى شي. که یو په پوره مانا هدف تاسې وټاکئ، نو هغه به خپله تاسې ته لارښوونه وکړي چې تاسې باید څه وکړئ؟ په کوم لوري لاړ شئ؟ او ترکله باید ورسېږئ؟ نو پرته له شکه چې بریا ته به رسېږئ.

Napoleon Hill وایي:

«انساني ذهن چې د هر څه په اړه په واضحه توګه فکر کولی شي هغه تر لاسه کېدای شي».

څېړونکي او پوهان وایي، یو داسې راز شته چې د هر انسان د ژوند مسیر بدلولی شي، مهمه نه ده چې د هغه عمر څومره دی او په څه ډول ټولنه او شرایطو کې ژوند کوي. هغه راز دی «ټاکلی (مشخص) هدف لرل». د هدف له ټاکلو وروسته به تاسې خپل ځان یو جلا انسان حس کړئ. ستاسې فکر، هڅې، زیار، لټون، مینه او لېوالتیا دا ټول به مو د هدف تابع شي. ستاسې ټولې وړتیاوې او انرژي به د یوه هدف د تر لاسه کولو لپاره مصرفېږي، ځکه نو ستاسې بریا حتمي ده.

کله چې تاسې د پورتنیو قاعدو پر اساس اهداف وټاکل، نو په یوه کاغذ کې یې په واضحو الفاظو ولیکئ او په یو داسې ځای کې یې وځړوئ چې هره ورځ مو پرې نظر ولګېږي، په دې کار سره به ستاسې هدف د یو حقیقت بڼه خپله کړي. دغه راز له ځان سره باید تعهد وکړئ چې هرومرو به یې تر لاسه کوئ. د مشخصو او واضحو اهدافو ټاکل هم ستاسې د وخت د ضایع کېدو مخنیوی کوي او هم مو بریا یقیني کوي. هغه انسانان چې د ژوند د مسیر لپاره یې منزل نه وي ټاکلی او بې هدفه ژوند کوي عموماً لاره ورکوي او ناکامېږي.

اوس راځو د ژوند مختلفو اړخونو او برخو کې د بریالیتوب د تر لاسه کولو په هکله خبرې کوو چې که چېرې تعادل پکې وساتل شي، نو غیرِ معمولي بریاوې به تر لاسه کړای شئ.

## د ژوند په ټولو برخو کې توازن ساتل حقیقي بریا ده!

ډېری انسانان ظاهراً بریالي ښکاري، مګر په حقیقت کې ناکام وي. مال، جایداد، قدرت، عزت، په ټولنه کې لوړ موقف او امکانات یې په اختیار کې وي، خو بیا هم هغوی خواشیني او ذهني سکون نه لري. په اصل کې انسان خپل بریالیتوب د دوه ډوله احساساتو په مرسته حس کوي، یو د داخلي سکون احساس دی او بل په ټولنه کې خپل قدر او ارزښت درک کول دي.

ځیني خلک چې پیسې او شتمني تر لاسه کول خپل هدف ټاکي او دا هېروي چې هغه احساسات د پیسو په واسطه نه اخېستل کېږي او پرته له دې چې د نړۍ ګڼ شمېر نعمتونه او د سوکالۍ اسباب تر لاسه کړئ بیا به هم ناکام یاست.

ډېری خلک چې کله سهار خپلو دندو ته ځي، نو ماشومان یې له دوی مخکې ښوونځیو ته تللي وي او کله چې د شپې بېرته کور ته را ستنېږي، نو ماشومان یې ویده شوي وي.

ډېره د افسوس خبره ده چې موږ خپلو ماشومانو ته -کومه چې زموږ واقعي شتمني ده- وخت نه لرو. لامل یې دادی چې موږ د خپل ژوند د بېلابېلو برخو تر منځ توازن نه دی ساتلی.

ځیني خلک په دیني چارو او عباداتو کې دومره مصروفېږي چې خپل مسوولیتونه هم ترې هېرېږي. هغوی فکر کوي چې یوازې تبلیغ ته تلل

عبادت دی، په داسې حال کې چې د خپلې کورنۍ پالنه کول، خپلې مېرمنې او ماشومانو ته حلال رزق پیدا کول تر ټولو لوی عبادت دی. دا خلک د خپل اخرت د جوړولو په جنون کې خپله دنیا په بشپړه توګه ویجاړوي. خپل اصلي مسوولیتونه له پامه غورځول د تېښتې یو ډول دی.

که ستاسې نیت په دنیوي چارو کې صفا وي، نو دا خپله په نېکۍ کې حسابېږي، توپیر نه کوي چې تاسې یو عادي دوکاندار یاست، که په کوم لوی تجارتي شرکت کې دنده لرئ، په تدریس بوخت یاست یا په زده کړه، دین او دنیا له یو بله جلا نه دي، بلکې دنیا خو د آخرت مزرعه ده. په دنیا کې چې تاسې هر کار په نېک نیت او اخلاص سره کوئ په اخرت کې به یې هرومرو نېکه بدله تر لاسه کوئ، نو که چېرې څوک یوازې په عبادت کې ځان مصروفوي او د ژوند له نورو چارو څخه مخ ګرځوي دا د یو غیر متوازن ژوند نښه ده. ددې پر ځای باید هڅه وکړئ خپلې ورځنۍ چارې په عبادت بدلې کړئ.

زموږ د ټولنې ځوانه طبقه د سپورټي لوبو په اړه ډېر احساساتي برخورد کوي، د ښوونځي او پوهنتونونو زده کوونکي د خپلو درسونو په پرتله کرکټ، فوټبال، والیبال او نورو سپورټي لوبو ته ډېر وخت ورکوي چې دوی په دې کار سره خپل راتلونکی له تیارو سره مخ کوي. دا رنګه ځینې ځوانان مو په تېکواندو او بدن جوړونې خپل وخت، انرژي او سرمایه مصرفوي، ځکه دوی نه پوهېږي چې ژوند یوازې ورزش نه دی.

اسلام د پیسو ګټلو خلاف نه دی، مګر له پیسو سره مینه بده ګڼي. خلک د ډېرو پیسو او مال په تر لاسه کولو سره د ژوند نورې ټولې برخې له پامه غورځوي. دوی ته ښځه، اولاد، سکون، د خپلوۍ او دوستۍ اړیکي، هېڅ

ارزښت نه لري. په داسې حال کې چې یوازې د پیسو تر لاسه کول بریالیتوب نه دی. لوی لوی سرمایه‌داران سره له بې حسابه شتمنۍ په ډول ډول ناروغیو اخته وي او نشي کولی چې پرې ځانته روغتیا واخلي. د پیسو حرص د انسان عمر بې برکته کوي، که چېرې پیسې او شتمني هر څه وای، نو شتمنو به د شپې لخوا د ویده کېدو لپاره د خوب ټابلېټ نه خوړل.

د لوستې طبقې ځیني افراد د کتابونو لوستل او مطالعه بریالیتوب ګڼي. د بې شمېره قوي حافظې خاوندانو او ځیرکو ځوانانو شخصیت د کتابونو تر بوج لاندې داسې ځپل شوی وي چې په اصلي ژوند کې د اتل پر ځای بوتل وي. څېړنو څخه په لاس راغلي عموماً هغه زده کوونکي چې ډېر زیات درس وایي د دوی ملګري لږ او ټولنیز اړیکي یې ډېر محدود وي، دغه ځوانان په ټولنیز لحاظ ناروغان دي. د معتبرو اسنادو ګېډۍ او د مډالونو ډېرۍ هم نشي کولی چې دوی په عملي ډګر کې د یوه کامیاب شخص په حیث معرفي کړي.

زموږ اکثره ملګري غواړي چې ټولنیز فعالان شي، دغه خلک د نورو د کارونو ترسره کولو لپاره هلې ځلې کوي، د دوی له بې شمېره خلکو سره د ملګرتیا اړیکي وي، مګر یو هم د دوی ملګری نه وي. دا خلک د نورو ژوند جوړولو کې داسې بوخت وي چې پخپل ژوند کې له ناکامۍ سره مخ کیږي. دوی سره د خپلې کورنۍ لپاره وخت نه وي. د غیر منظم شخصیت لرلو له کبله د ژوند وروستۍ ورځې له خلکو څخه په شکایت کولو او له فقر او ناداري سره په مبارزه کولو تېروي.

که ستاسې موخې او مقاصد یوازې یوې برخې پورې تړلي وي، نو تاسې

به ناکام او د یو غیر منظم شخصیت لرونکي اوسئ. د ژوند مهمې برخې دا دي:

۱: اقتصادي حالت (Financial)

۲: روغتیا (Health)

۳: کورنۍ (Family)

۴: کیریر (Career)

۵: خدمت (Serves)

٦: ستاسې خپل ځان (Self)

۷: دین او روحانیت

که تاسې په دې ټولو برخو کې توازن و نه ساتئ، نو هېڅکله به د حقیقي بریالیتوب په مانا پوه نه شئ. له دوی څخه باید یوه برخه هم له پامه و نه غورځول شي. پیسې او شتمني تر لاسه کول اړین دي، مګر دا هر څه نه دي. که روغتیا و نه لرئ، نو شتمني او هر ډول بریالیتوب بې ګټې دی. ستاسې د ژوند تر ټولو ښکلي او غوره وختونه هغه دي کوم چې تاسې له خپلې کورنۍ سره تېروئ.

پر تاسې له هر چا ډېر حق ستاسې د کورنۍ دی. پخپله خوښه د مسلک نه ټاکل به ستاسې ژوند د هغه قیدي په څېر کړي کوم چې د حبس د مودې تر پایه له مسلسلو شکنجو لاندې وي، نو اړینه ده چې پخپله خوښه مسلک وټاکئ. دغه راز که ستاسې بریالیتوب او شتمني د نورو انسانانو کوم درد نه دوا کوي او په ژوند کې یې د اسانتیا را منځته کېدو

باعث نه گرځي، نو دا بریالیتوب او شتمني د هیڅ کار نه دي. خدمت کول او نورو انسانانو ته خیر رسول ډېر ضروري دي.

تاسې ډېر ارزښت لرونکي انسانان یاست، هر څه چې لرئ پخپلو متو او خپلو هڅو مو تر لاسه کړي. د همدې لپاره تاسې ارام او تفریح ته اړتیا لرئ. تاسې کولای شئ د خپل جسمي ځواک د تقویې لپاره ښه خوراکونه وکړئ او د ذهني پیاوړتیا لپاره ښه کتابونه مطالعه کړئ.

په پای کې ددې ویل خورا اړین دي چې ستاسې د ژوند په هرې برخې کې تر لاسه کړې بریاوې بې گټې دي، تر کله چې ستاسې د نفسونو مالک متعال رب جل جلاله له تاسې راضي نه وي.

بریالیتوب ته د رسېدو لپاره باید له هغه ستر ذات څخه د بریا غوښتنه وکړئ او وروسته له بریالي کېدو یې شکر اداء کړئ او عبادت یې وکړئ. ددې ټولو برخو تر منځ توازن او هماهنگي به مو د اندروني سکون او حقیقي خوښۍ سره برخمن کړي.

# تاسې یې وټاکئ! ماضي، حال او که راتلونکی؟

یو کم عقل سړی یوه ټاپو ته په چکر ځي. د شپې په دویمې برخې کې غواړي بېرته کور ته لاړ شي. خپل ټول توکي په بېړۍ کې ځای پر ځای کوي او د بېړۍ د حرکت لپاره د پارو وهل پیلوي. په پارو وهلو وهلو شپه سبا کېږي او د ډېرې ستړیا له امله یې لاسونه او ټول بدن بې حسه کېږي. کله چې روښنایي خپرېږي او مخامخ ګوري تر لرې لرې د منزل څرک نه ښکاري. سړی ډېر زیات حیرانېږي چې شاته وګوري، نو د ډېر قهر او تعجب له امله یې وار خطا او سترګې را ووځي، ځکه چې هغه له پارو وهلو څخه مخکې هغه رسۍ چې بېړۍ پرې له ساحل سره تړل شوې وه نه وه پرانیستې او ټوله شپه یې پرته د رسۍ له پرانیستلو پارو وهلی و، ځکه خو بېړۍ دوه اینچه فاصله هم نه وه وهلې.

بالکل ددې مثال په څېر ډېری خلک تل د ماضي د ترخو حادثو، بې عدالتیو او بدو خاطرو په اړه فکرونه کوي چې د دوی د ژوند بېړۍ یې پر خپل ځای پاتې کړې وي، ځکه چې دوی په ماضي پورې تړلې رسۍ نه غوڅوي، کومه چې د دوی د پرمختګ مخه نیسي.

تاسې یې ووایئ! که چېرې کوم سړی مخکې تګ وغواړي او هغه دې د خپل منزل لور ته شا کړي او بیا دې سرچپه ګامونه واخلي، نو آیا هغه به خپل منزل ته ورسېږي؟ هېڅکله نه!

ماضي تاسې ته د درس درکولو لپاره وه چې تاسې ترې څه زده کړئ او

له تجربو څخه يې د مخکې تگ لپاره کار واخلئ او گړندی پرمختگ وکړئ. موږ د نړۍ د هېڅ کوم طاقت او ځواک پر مټ نه شو کولی چې خپل تېر وخت بدل کړو. تللي وختونه بيا هېڅکله نه راځي، خو يو کار کولای شو چې موږ د تېر وخت ترخې خاطرې او تجربې د کومو يادول يې موږ ته بې گټې دي باید هېر کړو. د هغو په پام کې نیولو سره قضاوت ونکړو او په اړه يې خبرې ونکړو. په ژوند کې لومړنۍ تېروتنې ډېرې مهمې وي دا موږ ذهني پوخوالي ته رسوي.

همدارنگه ځيني خلک د راتلونکي په اړه په خوبونو ليدلو کې غرق وي. په داسې حال کې چې راتلونکی تر اوسه کوم حقیقت نه لري. سبا ورځ چا ليدلې ده؟ د سبا لپاره اندېښنه مه کوئ. سبا ورځ چې کله راغله هماغه وخت به بيا ورسره گورو. ستاسې اصلي شتمني ستاسې «نن» ده. يعنې همدغه حاضر وخت او ستاسې حال، ځکه چې تاسې د حال په بدلولو سره خپل راتلونکی هم بدلولی او جوړولی شئ او هغه ډېر لرې وخت نه دی، تاسې به پوه هم نشئ چې هغه وخت به راشي.

پخپل راتلونکي ژوند باندې د مثبتې اغېزې پرېښودلو لپاره غوره لاره دا ده چې تاسې په حال کې ژوند کول زده کړئ. د واصف علي واصف(رح) د يو بيت مفهوم دی:

«چا چې په ځوانۍ کې خپل راتلونکي ته پاملرنه وکړه، د هغه به په زوړتوب کې د حسرتونو شمېر ډېر لږ وي».

هره شېبه، هره ورځ او هر کال له تاسې سره مخه ښه کوي او در څخه ځي. دا مهمه نه ده چې تاسې څو کاله او څو شېبې ژوندي یاست، بلکې

مهمه داده چې تاسې څومره وخت په واقعي مانا ژوند کوئ او څومره استفاده ترې کوئ. تر ټولو قيمتي او ارزښتناک وخت ستاسې حال (اوسنی وخت) دی. که په حال کې هڅه وکړئ او زحمت وباسئ، نو کولی شئ خپل راتلونکی روښانه کړئ. ماضي ياد دی او راتلونکی خوب دی، يوازې حال حقيقت دی. حال نسبت نورو ته ستاسې د پاملرنې ډېر مستحق دی. هوښياران د تېر وخت ماتم نه کوي او د راتلونکي انديښنه، بلکې هغوی خپل حال صيقل کوي او ځلوي يې، ځکه خو دا خلک پرته له وېرې او په ډاډه زړه ژوند کوي.

ډېری خلک د کار کولو په وخت کې ذهناً حاضر نه وي. هغوی د ماضي په يادونو کې ورک وي، له همدې امله دوی خپل کار ته پوره پاملرنه نشي کولی او هغه کار له ناکامۍ سره مخ کېږي. د ډوډۍ خوړلو په وخت کې، د موټر چلولو په وخت کې، د تفريح او چکر په وخت، له کورنۍ سره د وخت تېرولو په وخت کې ډېری خلک د ماضي په چورتونو او د راتلونکي په انديښنو کې غرق وي او نشي کولی چې دغه کارونه په سمه توګه تر سره کړي او د خوښۍ له شېبو څخه خوند واخلي.

له غمجن انسان سره په خبرو کولو تاسې هم غمجن کېږئ. خفګان او نا اميدي د ذهن وړتياوې له منځه وړي. د سکون په حالت کې د انسان ذهن ډېر پياوړی وي او ښه کار کوي او انسان هغه وخت په سکون کې وي چې کله هغه په حال کې ژوند کوي. د نړۍ ټول روحاني مکتبونه په حال کې په ژوند کولو ټينګار کوي، ځکه په دې ډول تاسې له خپلو وړتياوو څخه ډېره استفاده کولی شئ.

د راتلونکي په اړه انديښنه کول لرې وغورځوئ! په نن کې ژوند کول زده

کړئ او په قناعت سره ژوند وکړئ. دا په یاد ولرئ مور چې څه لرو په هغو قناعت کول سم کار دی، مګر مور چې څه یو په دې قناعت کول سم کار نه دی.

ماضي او راتلونکی هېر کړئ او کار وکړئ. خپل نن جوړ کړئ، راتلونکی به مو پخپله ښکلی شي. هغه څښتن تعالی چې پرون یې تاسې ته رزق درکړی و او نن یې هم در کوي په دې ډاډه اوسئ چې سبا یې هم درته برابروي، نو د اندېښنې کولو اړتیا نشته، بلکې د صبر لمن ونیسئ او زیار وباسئ او په دې ډاډه اوسئ چې تاسې به نېکمرغۍ ته رسېږئ، ځکه ډاډ او اطمینان لویه شتمني ده.

سبا ورځ چې کومې غوټۍ غوړېږي د هغو تخم نن ستاسې په لاس کې دی، نو پکار ده همدا نن یې وکرئ چې ژر تر ژره یې مېوه تر لاسه کړئ.

ګاتم بُد (بودا) وایي:

«زموږ راتلونکی، زموږ د ننني افکارو او اعمالو په واسطه تعینېږي».

تر کله چې تاسې د یوه روښانه او ویاړلي راتلونکي لپاره له زړه نه هڅه نه وي کړې، تر هغې کامیابي نشئ تر لاسه کولی. معجزو ته مه په تمه کېږئ. ژوند په عمل جوړېږي، په معجزو نه. خپل راتلونکی د جنت په څېر ښکلی او روښانه کړئ او له نن څخه هڅه او زیار پیل کړئ.

# د بریالیتوب لپاره ناکامي اړینه ده!

د مسافر په څېره کې د ستړیا نښې د هغه د اوږده سفر د ستونزو او سختیو زغملو شاهدي وايي. د نن ورځې مصیبت دا دی چې زاړه او د پاخه عمر خاوندان خو لا څه کوې، ځوانان مو هم چې د ژوند په تر ټولو غوره پړاو کې قرار لري، له ژونده ستړي ښکاري.

د استقامت او جد و جهد دومره کمی دی چې یو یا دوه ځله ناکامي هغوی تر دې حده مایوسه کوي چې د بریالیتوب تصور کول خو لرې خبره ده، نوم اخېستل یې هم هېروي.

ما څو ځله ځوانانو او زده کوونکو ته د روحیې ورکولو او همت لوړولو په خاطر ویلي، «تاسې ډېر زیات پرمختګ کولی شئ او بریالي کېدای شئ»، نو د دوی اکثریتو به دا ویل، «ښاغلیه! تاسې پر موږ ملنډې خو مه وهئ، موږ او بریالیتوب؟ دا خو ډېره لرې خبره ده». بیا نو ما په یوه مهم افاقي اصل پوهول چې «ماتې د بري خواره دي» یعنې له بریالیتوب څخه وړاندې ناکامي حتمي او ضروري ده.

تاسې چې په نړۍ کې څومره بریالي اشخاص پېژنئ دوی یو هم په لومړي ځل نه دي بریالی شوی، بلکې له بې شمېره ناکامیو څخه وروسته بریالي شوي.

همدا اډیسن ته که موږ وګورو له ۹۹۹۹ ځله ناکامۍ وروسته د برېښنا په اختراع کولو بریالی شو. کوم چا ترې پوښتلي ول چې ته ۹۹۹۹ ځله ناکام

شوې، نو آیا ته مایوسه نه شوې؟ هغه په ځواب کې ورته ویلي ول: «نه! هېڅکله نه، بلکې ما ۹۹۹۹ داسې طریقې اختراع کړې په کومو چې گروپ نه روښانه کېږي». اوس تاسې لږ فکر وکړئ که اډیسن خپل همت له لاسه ورکړی وای او مایوسه شوی وای اوس به نړۍ داسې روښانه وای؟

کله چې زه د ناکامۍ د ارزښت په اړه خلکو ته وایم، نو هغوی دا پوښتنه کوي چې اخر ناکامي ولې دومره ضروري ده؟

ددې لاملونه ډېر زیات په زړه پورې دي، لومړی خو دا چې که له ناکامۍ پرته بریالیتوب تر لاسه کېده بیا خو به هر انسان بریالی کېده او دا کار به ددې لامل شوی وای چې له بریالي کېدو وروسته چې انسان د خوښۍ کوم احساس کوي هغه به له منځه تللی وای. دوهم لامل یې دا دی؛ هغه څه چې موږ په ډېرو خواریو او ستونزو تر لاسه کوو زموږ لپاره قیمتي وي او ډېر ارزښت ورکوو. درېیم لامل یې دا؛ تر هغې چې موږ بریالیتوب ته رسېږو له هغه وړاندې موده کې چې د بریالیتوب د ترلاسې لپاره موږ کومې هلې ځلې کوو، له دې سره زموږ شخصیت بشپړېږي او موږ ذهني او شخصیتي پوخوالي ته رسېږو او کولی شو چې له هغه موقف څخه په ښه توگه ساتنه وکړو. څلورم لامل یې دا دی چې د لویو انسانانو شخصیت او اصلیت په سختو حالاتو کې صیقل کېږي او خلکو ته څرگندېږي، بالکل داسې چې د قیمتي او ښکلو امېلونو د جوړولو لپاره سره زر په اور اېشول کېږي.

لوی انسانان د Tea Bags (د وچ چای د کڅوړو) په څېر دي، تر هغه وخته به یې په ارزښت و وړتیا پوه نشئ تر کله مو چې په اېشېدلو اوبو کې نه وي اېښې.

د زده کړې بې شمېره لارې موجودې دي، مګر بیا هم ویل کېږي چې «وخت یا ژوند تر ټولو لوی استاد دی» د ټاکلي هدف یا منزل په لاره کې راتلونکې ستونزې او سختۍ تاسې ته زده کړه در کوي.

د تېروتنو پایلې د انسان تجربې زیاتوي او لیدلوری یې پراخوي. د ښوونځي او پوهنتون استادان لومړی زده کړه او درس در کوي، بیا ازموینه اخلي، مګر ژوند یو خاموشه استاد دی چې لومړی دې ازمايي او بیا درس در کوي.

د ناکامۍ په دور کې د بریالیتوب باور لرل لویه نېکمرغي ده.

«په استقامت کې کرامت پروت دی». (واصف علي واصف)

له ستونزو، مسایلو او مصیبتونو سره مبارزه کول شجاعت او زړورتیا ده. هغوی چې له ناکامۍ څخه تښتي په حقیقت کې له بریالیتوب څخه تښتي، ځکه چې پرته له ناکامۍ هېڅ ډول بریالیتوب نشته.

ناکامي د هېڅا مخه نشي نیولی، که چېرې څوک پخپلې بریا یقیني وي. انسان د سبا ورځې د راتګ په هیله د نن ورځې ستونزې زغمي، کنه نو هره شپه به پرې لکه کال داسې تېرېدله، نو پکار ده چې له همدې شېبې څخه د امید او هیلې شمع بله کړئ او له زړه نه خپلې ناکامۍ ومنئ، چې ستاسې بریالیتوب هم تاسې له زړه نه ومني.

# مناسب ځای

هر څیز په هر ځای کې پروت ښه نه ښکاري. وايي کوم ساده کلیوال کوه نور الماس پیدا کړل، سمدستي یې د الماسو غمی کور ته راووړ او د خپل خره په غاړه کې یې واچاوه. ټوله ورځ یې خر په کلي کې وگرځاوه چې وگورئ زما خر څومره ښکلی ښکاري. کلیوالو به یې چې له ده هم ساده ول ویل، هو ولا! خر خو دې نن ډېر ښه ښکاري.

یوه ورځ یو زرگر له دې کلي څخه تېرېده هغه چې دا صحنه گوري، نو حیرانېږي او نږدې ورځي، سمدستي پوهېږي چې دا خو کوه‌نور الماس دی. زرگر په ډېر کم قیمت سره الماس له ساده کلیوال څخه اخلي، د سروزرو په یو امېل کې یې ږدي او ملکې ته یې ډالۍ کوي، چې په بدل کې یې له ملکې څخه ډېر زیات انعامونه او تحایف تر لاسه کوي. هغه وخت د ملکې په غاړه کې د الماسو په لیدلو سره ټول پوهېږي چې ددې غمي اصلي ځای دا دی او همدا یې د استعمال تر ټولو مناسب ځای دی.

نن- سبا ټول واک او اقتدار د نا اهلو په لاس کې دی او اهل له صحنې څخه لرې کړای شوي دي. د یوه قوم لپاره تر دې لوی امتحان او عذاب نشته چې ترې اهل حاکمان او مشران واخیستل شي او د ولس برخلیک د نا اهلو او مفسدو لاس ته ولوېږي. رهبران د رهبرۍ څخه لرې کړای شي او یوازې د رهبر روزلو لپاره ترې کار واخیستل شي. هر څوک د خپلو شخصي گټو لپاره نا اهل چارواکي ته رایه ورکوي او پر ملت یې

حاکمان کوي. هر سړی غواړي چې حاکم شي او که نه نو تل له نورو حاکمانو سره مخالفت او ترې د کرکې اظهار کوي.

«پر مهمو منصبونو د اهل او با دیانته اشخاصو گومارنه غوره پایلې را کولی شي». (واصف علي واصف)

په دې نړۍ کې د هدایت غوره سرچینه زموږ مبارک دین اسلام دی او دا دین الله تعالی خپله بهتر او بشپړ بللی دی او ددې اعلی مذهب په سمه توگه عملي کولو او ترې د هدایت سرچینه جوړولو لپاره پکار ده چې لومړی پرې هر مسلمان ځان پوه کړي، فکر پرې وکړي او نورو ته یې ورسوي.

د غوره مذهب لپاره غوره انسانانو ته اړتیا ده چې اوسمهال داسې نه ده او هیڅ شی پخپل مناسب ځای کې نه دی. دا دعا مه کوئ چې څوک پر موږ مسلط دي هغوی دې مړه شي او موږ یې پر ځای وگومارل شو، بلکې دا دعا وکړئ چې موږ ته دې زموږ د کمزورۍ احساس وشي او موږ دې خدای وینښ کړي، ځکه د وینښ قوم راتلونکی ډېر روښانه وي.

زموږ کمزوري هغه وخت په طاقت بدلیدای شي چې کله موږ د گیلو او شکایت کولو پر ځای په عمل لاس پورې کړو. له نورو څخه د توقع ساتلو پر ځای نورو ته څه ورکړو.

په راتلونکي کې له سختیو او مشکلاتو څخه د ځان او هېواد د ژغورلو لپاره نوي نسل ته روزنه ورکړئ.

«که خښتې له یو بل سره د سمنټو په واسطه و نه نښلول شي، دېوال د خپل وزن له امله چپه کیږي». (واصف علي واصف)

نو موږ ولې یو له بل سره لاسونه ور نکړو؟ د مجبورۍ له امله نه، بلکې د مینې او ورورګلوۍ له امله او په دې ډول به د یوه مستحکم دېوال په څېر د هر طوفان پر وړاندې ولاړ او مقابله به یې کولی شو.

له یو بل سره د مینې او درناوي کولو لپاره د جواز لټه مه کوئ، همدا یو جواز بسنه کوي چې ووایو، دوی هم زما د رب بنده‌ګان دي او دوی هم زما د نبي علیه السلام له امت څخه دي، ټول په یوه دین یو او له یوې خاورې څخه یو، ځکه چې هر یو شی په هر یو ځای کې مناسب نه ښکاري او موږ هم په دې وروسته‌پاتې‌والي او بې‌وسۍ کې ښه نه ښکارو.

نو راځئ د غوره دین پیروان، غوره مقام ته د رسولو لپاره د متعال رب پر وړاندې سر ټیټ او اوښکې تویې کړو او د خپل قوم د بېدارۍ او د هېواد د پرمختګ لپاره له زړه نه دعا وکړو.

# خپل فکر بدل کړئ! ژوند مو پخپله بدلېږي

د غیر معمولي شخصیت لرلو لپاره تاسې باید غیر معمولي افکار ولرئ. په نړۍ کې د تر ټولو لوی بریالیتوب سفر هم له یوه فکر څخه پیل شوی. په سمڅو کې د ژوند له دور څخه تر ننه چې کوم پرمختگونه شوي، دا ټول د همدې فکر د پرمختګ نتیجه ده.

انسان له ابتداء څخه په ژوند کې د اسانتیاوو را منځته کولو لپاره فکر کول پیل کړي وو او نن ورځ د همدې فکر په نتیجه کې د برق، ټیلیفون، الوتکې، کمپیوټر او موبایل په څېر وسایلو ته هر انسان لاسرسی لري.

له لویو انسانانو څخه منفرد انسان جوړوونکی ځواک، د دوی فکر دی. فکر پخپل ذات کې حقیقت نه دی او د هرې پېښې پر وړاندې د هر انسان فکر جلا دی، مګر هر فکر او سوچ یو حقیقت زېږوي. ستاسې اوسنی وضعیت ستاسې د فکر او سوچ زېږنده دی، ځکه تاسې چې څه فکر کوئ هماغه در څخه جوړېږي. څوک چې د خوښۍ او بریا په اړه فکر نه کوي هېڅکله به یې تر لاسه هم نکړي.

فکر کول د بهېدونکو اوبو مثال لري، که د اوبو دا جریان په متواتر ډول له یوې ډبرې سره په ټکر کې واقع شي، نو غټه او کلکه ډبره به هم په منځ جلا او اوبو ته لاره پرېږدي.

په دې نړۍ کې هېڅ شی ښه او بد نه دی، دا یوازې ستاسې د فکر کولو طرز او طریقه ده چې تاسې ځینې شیان ښه او ځینې بد ګڼئ.

هر انسان خپل ژوند بدلول غواړي؛ مګر خپل فکر بدلولو ته تیار نه وي، ځکه یې نو ژوند هم له ناکامۍ سره مخ وي.

زموږ حالت زموږ انتخاب نه دی، مګر موږ کولی شو خپل فکرونه په خپله انتخاب کړو او دا یو ښکاره حقیقت دی چې «د فکرونو بدلون، د حالت د بدلون لامل کیږي». د یوه ښه انسان جوړېدو لپاره ښه او مثبت فکر وکړئ.

په حدیث شریف کې راځي، نبي علیه السلام فرمایي: «نېک ګومان کول عبادت دی».

که تاسې د یوه لوی کار د تر سره کولو اراده لرئ، نو داسې افکار خپل کړئ چې ستاسې وړتیاوو او استعدادونو ته وده ورکړي. هغوی چې له تاسې څخه غوره حالت لري ورسره ناسته- ولاړه او خبرې- اترې وکړئ، د هغوی افکار خپل کړئ، چې ستاسې د کړنو پایلې هم د هغوی په څېر ګټورې را ووځي.

فکر کول یو هنر دی، منفرد فکر کول له تاسې څخه منفرد انسان جوړوي، که تاسې ښه فکر نه شئ کولی بد فکر هم مه کوئ. منفي فکر کول د موریانې (Termite) مثال لري کوم چې له داخل څخه ستاسې وجود خوري او خلاء پکې را منځته کوي، ستاسې خوښۍ له تاسې اخلي.

په نړۍ کې تر ټولو ډېر مداوم لرګي د (Teak) ساقې د ونې دي، ځکه چې موریانه د هغه ذایقه نه خوښوي، نو تاسې هم منفي فکرونو ته اجازه مه ورکوئ چې تاسې ته نږدې شي. په دې ډول به تاسې د یوه محکم

شخصیت مالک شئ.

هر فکر د تخم مثال لري او ستاسې ذهن د بڼ مثال لري. که تاسې په دې بڼ کې پخپله خوښه ګلونه او بوټي و نه کرئ، نو غیر ضروري بوټي او واښه به پکې پخپل سر را شنه شي.

یو فکر یو عمل زېږوي، کله چې تاسې یو عمل بیا بیا تر سره کوئ هغه ستاسې په عادت بدلېږي او چې عادت پوخ او همېشنی شي، نو هغه ستاسې سلوک او چلند زېږوي او ستاسې سلوک ستاسې تقدیر جوړوي، نو د خپل تقدیر بدلولو لپاره باید تاسې خپل فکر بدل کړئ. غوره فکر غوره سلوک را منځته کوي.

ویل کېږي چې:

*(Our attitude determines our altitude).*

یعنې په ژوند کې هر ډول پرمختګ او لوړتیا زموږ د چلند پر اساس ټاکل کېږي.

د خپل چلند د غوره‌والي لپاره خپل فکر ښه او غوره کړئ. ستاسې اوسنی حالت ستاسې د ماضي د فکرونو پایله ده او ستاسې نني فکرونه، ستاسې راتلونکی اغېزمنولی شي.

د ښه قسمت دوهم نوم ښه فکر او خیال دی، ځکه داسې خو نشي کېدای چې یو انسان دې لوړ فکرونه او خیالونه ولري او نتیجه دې د هغه د فکر خلاف ناکامي وي. په نړۍ کې تر اوسه هېڅکله داسې نه دي شوي چې یو بزګر دې غنم کرلي وي او ببرته یې پنبه (مالوچ) ترې حاصل کړي وي. څه چې کرو هغه به رېبو.

هر څه تر لاسه کول ممکن دي، خو چې په سنجیده‌ګۍ او تدبیر سره یې په اړه فکر وشي. ستونزه دا ده چې خلک تل له ناکامۍ څخه د ځان ژغورلو په اړه فکر کوي، په داسې حال کې چې باید د بریالیتوب په اړه فکر وکړي.

ډیری انسانان یوازې د ژوند تېرولو په اړه فکر کوي، په داسې حال کې چې دوی باید پخپل ژوند کې د خوښیو را وستلو په اړه فکر وکړي.

زده‌کوونکي له ناکامۍ څخه د ځان ساتلو په اړه فکر کوي، دوی باید د لوړو نومرو او لوړې درجې د تر لاسه کولو په اړه فکر وکړي. همدا راز خلک د جرایمو، بدیو، ټولنیزو خرافاتو، ځان‌وژنې، فقر، بې‌نظمیو، ناروغیو او نورو ستونزو په اړه فکرونه او اندېښنې کوي چې دا ټول فکرونه د هغوی شخصیت له تباهۍ سره مخ کوي.

انسان د خبرو په وخت کې د خپل د شخصیت څرګندونه کوي. نن ورځ د همدې مسایلو تذکرې او تبصرې په هره ژبه دي. تاسې خپله قضاوت وکړئ، آیا د بدیو په اړه په فکر کولو او پرې بحث کولو سره به دا بدۍ کمې یا له منځه لاړې شي؟

ډېر لږ داسې خلک دي چې هغوی ددې بدیو او ستونزو د حل او د له منځه وړلو په موخه پرې غور او فکر کوي او همدا خلک ددې وړ دي چې اتلان وبلل شي.

که تاسې مخکې له دې د خپل ژوند د غوره‌والي په اړه فکر نه وي کړی، نو اوس فکر وکړئ. په فکر کولو هېڅ بندیز نشته. خوب لیدل کوم جرم نه دی. تاسې د ډېرې زیاتې شتمنۍ د تر لاسه کولو په اړه فکرونه وکړئ،

د ډېرې شتمنۍ لرلو په مرسته به تاسې ډېر ښه ژوند ولرئ، ښه کور او ښه موټر به ولرئ. د خلکو تر منځ د ډېر عزت او محبوبیت ګټلو په اړه فکر وکړئ. چکر، تفریح او نورې له خوښۍ ډکې شېبې تصور کړئ. د خپلې خوښې ژوند کولو په اړه ستاسې په فکر کې څه ګرځي؟

بې شمېره مخلصه او مینه‌کوونکي ملګري او خپلوان دې له تاسې سره وي، تاسې دې له هر ډول فکر او اندېښنې څخه آزاد او یو له خوښیو او سکون څخه ډک ژوند ولرئ، ستاسې ژوند دې د نورو لپاره د خیر و ښېګنې سبب شي او تاسې دې د نورو لپاره الګو او ستاسې ژوند دې د نورو لپاره یوه بېلګه شي. تر کله مو چې دغه مثبت او ګټور فکرونه پخپل وجود کې نه وي ځای پر ځای کړي، ستاسې ژوند به بدلون ونکړي. لوی فکرونه وکړئ! ځکه چې ویل کېږي:

*"Think more, Get more"*

ډېر فکر وکړه او ډېر څه تر لاسه کړه!

دا ژوند هغوی ته محدودې پایلې په لاس کې ور کوي، څوک چې محدود فکر کوي.

دا په یاد ولرئ چې یوازې په یو ځل فکر کولو سره کوم څه نه بدلېږي. په متواتر او دوامداره توګه فکر وکړئ، ځکه چې د نړۍ ټول لوی انسانان په رڼا ورځ، په خلاصو سترګو د خوب لیدلو عادي وي. تاسې بیا بیا فکر وکړئ چې تاسې څه لاس ته راوړل غواړئ، په دې ډول به دا فکر ستاسې په وجود کې یو (جن) پېرې را ویښ کړي. دا پېرې ستاسې لاشعور دی او لاشعور چې کله یو فکر او خیال خپل کړي هغه بیا هرومرو تر لاسه

کوي. ددې د فعال ساتلو لپاره باید تاسې په مکرر شکل د خپل هدف او بریالیتوب په اړه فکر وکړئ.

تاسې لومړی دا فکر وکړئ چې تاسې به وروسته له دې د څه شي په اړه فکر کوئ. که یو شخص په سمه توګه د فکر کولو له هنر سره آشنا شو، نو داسې وګڼئ چې هغه د ژوند کولو هنر زده کړ.

# د اړيکيو د ټينګښت او ملګرتيا پاللو لارې

انسان فطرتاً داسې جوړ شوی چې په يوازې توګه ژوند نشي کولی. له همدې امله د ژوند تېرولو لپاره له خلکو او ټولنې سره اړيکي جوړوي. هغه اړيکي چې له پيدايښت سره متعال رب هر انسان ور پورې تړلی، لکه مور پلار، خور ورور او خپلوان، دا د وينې اړيکي دي او نورې ټول اړيکي انسان خپله جوړوي، لکه ملګري، مېرمنه، ګاونډيان او همکاران. انسان ټول عمر دې دوه ډوله اړيکيو ته په پام سره خپل کارونه او ژوند مخ ته وړي.

د نن ورځې د پرمختللي عصر يوه لويه ستونزه دا ده چې خلک له يوه بله تل ناراضه او ګيله‌من وي. دوی وايي، خپلوانو او ملګرو يې له وخت سره بدلون کړی، خپل پردي شوي دي، ځينې وايي، ورسره د مطلب دوستي شوې، ملګري يې احسان فراموشه دي او ځينې بيا په مقابل لوري د چل او فريب تور پورې کوي.

دا ټولې خبرې سمې دي، خو موږ په عام ډول ځينې اصول له پامه غورځولي چې له امله يې دا ستونزې را منځته شوې. لومړی خو دا چې له اړيکيو جوړولو وړاندې بايد دې ته پام وکړو چې دا شخص د څه ډول خواصو او عاداتو لرونکی دی، د ژوند کولو طرز او طريقې يې څه دي؟ هو دا خبره منم چې هېڅ انسان پوره نه دی او هرومرو به ځينې نيمګړتياوې لري، نو که چېرې تاسې يو ځل له کوم چا سره کومه اړيکه

ټینګه کړه بیا یې هرومرو پالنه هم وکړئ، که کله تاسې دې نتیجې ته ورسېدئ چې هغه نالایقه او نا اهله دی، نو دا هم په نظر کې ونیسئ چې د هغه یوازېنی اهل او لایق ملګری ته یې، که ته هم د هغه ملتیا پرېږدې، نو هغه خو بېخي یوازې پاتې کېږي او یوازې ژوند کول خو ناشوني دي.

که غواړئ له کوم چا سره د ملګرتیا یوه ښه مستحکمه او دوامداره اړیکه ټینګه کړئ، لاندې څو مهم ټکي باید په پام کې ونیسئ:

۱) اړیکي تل د اخلاص او صداقت په بناء ټینګوئ او تل د نورو لپاره نیت صفا ساتئ.

۲) د اړیکیو له ټینګښت څخه وروسته مقابل لوري ته مینه او درناوی کول لومړیتوب وګڼئ. داسې به له تاسې سره هم مینه او درناوی وشي.

۳) د خپل ملګري لومړیتوبونه او ارزښتونه وپېژنئ او خپل هم ورته واضح کړئ چې کله د یوه- بل په مقابل کې واقع نشي.

۴) د پیسو راکړه- ورکړه که لرئ؛ حساب مو صفا ساتئ.

۵) له چا څخه د مرستې او احسان کولو تمه مه کوئ، که تاسې کومه مرسته ورسره کولی شئ، هرومرو یې وکړئ.

۶) توقعات مو کم کړئ.

۷) هڅه وکړئ چې ځینې وختونه نړۍ، حالاتو او پېښو ته د خپل ملګري له نظر او لیدلوري وګورئ، چې پوه شئ هغه په کوم وضعیت کې دی، څه زغمي او د نظر د اختلاف ټکی مو کوم یو دی.

۸) شک مه کوئ، ځکه شک او بدګوماني اړیکي کمزوري او له منځه

وړي.

۹) ستونزې یې واورئ، د حل کولو هڅه یې وکړئ، که چېرې یې د حل کولو توان نه لرئ، خواخوږي هرومرو څرګندوئ.

۱۰) ملګرو ته مو ډالۍ ورکوئ، ځکه له دې سره مو تر منځ مینه ډېرېږي.

۱۱) کله هم چې له یو بل سره مخ کېږئ، په شونډو موسکا ساتئ، لاس ورکړئ او د روغبړ لپاره غاړه ورکړئ، خندانه څېرې د ښو اړیکیو نښه ده.

۱۲) که ملګری مو له تاسې خفه وي، نو په پخلا کولو کې لومړیتوب وکړئ، دا کړنه به مو د ملګرتیا اړیکه لا پیاوړې کړي.

زموږ مبارک دین اسلام موږ ته ښودلي چې «مسلمان هغه څوک دی چې څه د ځان لپاره خوښوي هغه خپل بل مسلمان ورور او خور ته هم خوښ کړي». که انسان نورو ته خوښي ورکړي، هرومرو به خوښي دده دروازه هم وټکوي.

«ملګری هغه دی چې غم دې کم کړي او خوښۍ دې ډېرې کړي». (واصف علي واصف)

همدا نن تصمیم ونیسئ چې د کوم ملګري غم کموئ او خوښۍ یې ډېروئ، چې د ملګرتیا حق مو اداء کړئ.

# پیل له تاسې څخه...

د زوکړې او مرګ تر منځ وخت ته ژوند وايي. یعنې هغه وخت چې همدا نن یې موږ لرو همدا ژوند دی.

متعال رب د نړۍ او انسانانو لپاره د وېش داسې یو نظام برابر کړی چې د ډېرو انسانانو د ژوند حالت، چاپېریال، وخت، وړتیاوې او صلاحیتونه تقریباً یو ډول دي.

د انسان عمر اوسطاً له ۵۰ څخه تر ٦۰ کالو دی. د نړۍ ډېره برخه ابادي بېوزله او متوسط انسانان تشکیلوي. د زده‌کړې او پوهې وسایل په هر ځای کې کم دي. دا ددې لامل کېږي چې خلک په دې پوخ باور وکړي چې «خوښي او بریالیتوب په قسمت تر لاسه کېږي»، خو دا باور د حقیقت خلاف دی، ځکه ډېری انسانان له عمومي حالت څخه له ډېر سخت حالت او مشکلاتو سره مخ شوي، خو هغوی له هماغه بد وخت او هماغه سخت ژوند څخه ډېرې ګټورې او حیرانوونکې پایلې تر لاسه کړې دي.

د بېلګې په ډول، فرنکلن روزویلېټ د ۳۹ کلو په عمر د پولیو له امله معذور یا معلول شو، سره له دې هم هغه خپل امېد له لاسه ور نکړ او په ډېرو هڅو او زیار یې وکولای شوای چې څلور ځله د امریکا ولسمشر شي. توماس اډیسن ته یې ښوونکو د نالایق او تنبل نوم ورکړ او له ښوونځي څخه یې اخراج کړ، مور یې مجبوره شوه په کور کې ورته

تدریس پیل کړي. اوس ټوله نړۍ په دې پوهېږي چې هماغه توماس اډیسن ددې نړۍ د غوره‌والي او ترقۍ لپاره ۱۲۴۹ اختراعات وکړل او نن د هغه جوړ کړي اصول او قواعد په هر ښوونځي او پوهنتون کې تدریسېږي.

ایلوس پرسیلې ته یې ویلي وو، ته د سندرغاړي کېدو وړ نه یې، خو نن د هغه لخوا جوړې شوې نغمې ټوله نړۍ زمزمه کوي.

ابراهام لنکن له پوځ څخه وشړل شو چې گواکې د پوځ د مشر کېدو وړتیا نه لري، خو همدا ابراهام د امریکا بې تاجه پاچا شو. البرټ اینشټاین ته یې ښوونکو د پڅ ذهنه لقب ورکړ، خو هماغه اینشټاین د نوي ساینس د پلار لقب خپل کړ. اخر په دې کې څه راز دی؟

د رخصتۍ پر وخت د ښوونځي مخې ته یوه سړي پوکانۍ خرڅولې چې کله به د ماشومانو پام ورته نه و، نو یوه پوکانۍ به یې هوا ته پرېښوده، ددې منظرې په لیدلو سره به ماشومان خوشحاله شول او د پوکانۍ پېرلو لپاره به یې د پوکانیو پلورونکي خوا ته ور منډې کړې. کله چې ټول ماشومان خپلو کورونو ته ولاړل او پوکانۍ پلورنکي هم د خپلو توکیو د راټولولو او کور ته د تللو تابیا نیوله، نو یو کوچنی حبشي ماشوم یې خوا ته راغی او ویې ویل، کاکا جانه! کاکا جانه! یوه پوښتنه لرم! پوکانۍ پلورونکي په ډېره مینه وویل، ووایه بچیه! په څه شي پوهېدل غواړې؟ ماشوم وویل: «کاکاجانه! که تاسې ددغې تورې پوکانۍ مزی خوشې کړئ، نو دا به هم پورته هوا ته والوځي؟» پوکانۍ پلورونکی پوه شو چې ماشوم د کمترۍ په احساس اخته دی، نو ورته ویې ویل: «بچیه! پوکانۍ د خپل رنگ له امله نه الوځي، بلکې د پوکانۍ په منځ کې یو گاز دی

چې هغه هوا ته پورته کوي».

توپیر نه کوي چې تاسې په کوم حالت کې یاست، له تاسې سره وسایل او امکانات شته که نه، تاسې ته کوم ډول چاپېریال برابر دی او تاسې شتمن یاست، که غریب. که ستاسې په وجود کې هغه جذبات وي چې تاسې ته د لوړ الوت کولو ځواک درکوي، نو تاسې هم کولی شئ چې ډېر لوړ الوت وکړئ او خپله نړۍ پخپله خوښه جوړه کړئ.

دا مهمه نه ده چې له تاسې سره څه وشول، بلکې مهمه دا ده چې تاسې د کومې پېښې پر وړاندې څه ډول عکس العمل ښودلی و. د نورو کړنې او عمل ستاسې په اختیار کې نه دي، خو ستاسې عکس العمل ستاسې پخپل لاس کې دی. تر دې لویه بدمرغي نشته چې څوک له خپلو وړتیاوو څخه ګټه وانخیستلی شي. ستاسې وړتیاوې ستاسې لپاره ډېره لویه خزانه ده، وده ورکړئ او ویې غوړوئ. دا خزانه مه پرېږدئ چې ښخه شي.

احساساتي چلند مه کوئ، ځکه داسې به ستاسې د ژوند ریموټ کنټرول د بل چا لاس ته ولوېږي او هغه به بیا تاسې پخپله ګټه استعمالوي.

مسوولیت منونکي و اوسئ! ځکه د نړۍ د تر ټولو بریالیو اشخاصو یوه مشترکه ځانګړنه مسوولیت مننه (مسولیت پذیري) وه. دا خلک د ګیلو او شکایت کولو پر ځای د کار کولو عادي وي. کوم خلک چې تل یوه نه یوه ستونزه بهانه کوي او کرار کېني، په اصل کې ستونزه د دوی په ذهن کې وي. زه باوري یم که کوم څوک تاسې د کوم کار له کولو څخه ایساروللی شي، هغه به یوازې تاسې خپله یاست.

پرمختګ کوونکي انسانان یوازې په هغو شیانو تمرکز کوي کوم چې د هغو په اختیار کې وي او کولی شي بدلون پکې را ولي.

تاسې خپل رنګ، نسب، د زیږېدو ځای، قد و څېره، والدین، د ماضي تېروتنې، موسم، د ټول هېواد وضعیت، د خلکو بد چلند او بدني کمزورتیاوې نشئ بدلولی، ځکه نو په دې اړه د فکر کولو پر ځای پخپل چلند، باورونو، پوهې، صلاحیتونو او د خپلې نړۍ بدلولو په اړه فکر وکړئ.

دښمن ته د ماتې ورکولو یوه غوره لاره دا ده چې ځان پیاوړی کړو. مهمه خبره دا ده چې تاسې په بد وخت کې د څه ډول چلند انتخاب کوئ، بریالیتوب په چانس (Chance) نه دی په چوایس (Choice) دی.

هېلېن کیلز وایي:

«خدای ما ته دومره ډېر څه را کړي چې له ما سره اوس ددې فکر کولو وخت نشته چې ما ته کوم څیزونه نه دي را کړل شوي».

که تاسې خپله خپل حالت بدل نه کړئ، نو هېڅوک ستاسې حالت نشي بدلولی. متعال رب په قرآن کریم کې فرمایلي:

«موږ تر اوسه د هېڅ کوم قوم حالت نه دی بدل کړی چا چې خپله خپل حالت بدلول نه دي غوښتي».

شاعر بیا د آیت ترجمه داسې په شعر کې راوستې:

«خـــدای هم نه بدلوي حال د هغه قوم

څوک چې نه بدلوي خپل حالت پخپله»

یو لک او څلېریشت زره پیغمبرانو، لکونو ولیانو، زرگونه نېکو انسانانو او سلگونه پوهانو او علماوو هم د هغوی حالت نه دی بدل کړی، چا چې پخپله د خپل حالت بدلولو هڅه نه ده کړې.

د حضرت محمدص خپل سکه تره چې هر څه یې پخپلو سترگو ولیدل، خو بیا یې هم پخپل وراره او د هغه په رب ایمان را نه ووړ.

نو لومړی تاسې پخپل وجود کې یوه ریښتینې جذبه پیدا کړئ چې تاسې به خپل حالت او خپل فکر بدلوئ. که تاسې بدلون وکړ، ستاسې د کورنۍ غړي به پخپله بدلون وکړي، همداسې به د بدلون دا انگېزه ستاسې له کور څخه کوڅې ته او له هغه ځایه سیمې او ټول کلي ته سرایت وکړي، ځکه نو باید نور ټول کارونه څنگ ته کړئ او لومړی خپل ځان بدل کړئ.

# سخته او سړه ډېره

د انسان په سترګو کې د اوښکو راتلل او د زړه نرموالی یې د الله تعالی د رحمت دلیل دی. له ستونزو او تکالیفو سره بیا بیا مخ کېدل هم انسان پیاوړی کوي او هم یې کمزوری کوي. ډېر خلک وایي، دومره ډېرې ستونزې مې ولیدلې چې اوس راته هر څه اسانه شوي دي. که چېرې همدا ستونزې- مصیبتونه ستاسې زړه سختوي او له تاسې څخه یو بې حسه انسان جوړوي، نو پخپل حالت زړه وسوځوئ.

زما په دوستانو کې یوه ښاغلي د خپلو نظریاتو د شریکولو پر وخت سخت د بې‌حسۍ اظهار کولو. هغه د لاهور د سترې محکمې چاودنه پخپلو سترګو لیدلې وه، خدای هغه ساتلی و او اوس هغه په هر ځای کې د هماغې پېښې تبصرې کوي. د هغه په خبرو کې د شهیدو شویو ځوانانو لپاره هېڅ همدردي نه وه. هغه به بیا بیا دا خبره کوله چې پولیس او امنیتي ځواکونه په اداري فساد کې ښکېل دي، نو په دې لحاظ یې د هغوی وینه بې ارزښته بلله، خو د هغه ددې سړو احساساتو په لیدو ما خپله مخه ونشوی نیولی، ورته ومې ویل: «ښاغلیه! زه ستاسې نظر ته احترام لرم، خو تاسې لږ فکر وکړئ هغوی له پولیس اوسېدو نه مخکې انسانان دي او د یوه انسان غم او تکلیف نور انسانان ښه درک کولی شي»، خو هغه بیا هم کومه خواخوږي و نه ښوده، زه مجبور شوم چې له هغه ځایه پاڅېږم، ځکه په دې ډول ناولي ماحول کې ناسته- ولاړه کول ستاسې لطافت

مسخه کوي او د خيال لطافت لويه سرمايه ده چې بايد له لاسه يې ور نکړو.

د انسان ذهن هم د يو ژور تالاب (حوض) په څېر دی چې کله هم کومه اغېزناکه خبره د کوچنۍ ډبرې په څېر په تالاب کې غورځېږي، نو څپې يې تر ډېره د اوبو په سطحه خورېږي او د تالاب څنډې بيا بيا لمس کوي.

د بېرته تګ په وخت ټوله لاره د خواخوږۍ او احترام څپو زما احساسات لمس کول او ګرمول. زما موټر له مال روډ څخه د جي پي او په لور د تللو په حال کې و، زما کيڼ لور ته په پياده رو کې د ځوانو شهيدو شويو پوليسانو د وژل کېدو په غبرګون کې اعتراض کوونکيو او خواخوږو بېنرونه لګولي ول، د ګلونو بې شمېره ګېډۍ او د ګلابو ډېرې پرتې وې. يو نا ليدلي ځواک زما موټر ودراوه او زه له موټر څخه را ښکته شوم. د ګلونو ډېريو ته څو شيبې د بُت په څېر ولاړ وم. نور مې د خپلو احساساتو په څپو اختيار له لاسه ورکړ او بالاخره هغه څپې د اوښکو په نوم زما له سترګو وڅڅېدې.

نور نو دلته تم کېدل راته سخت شول، د تللو په تکل کې وم چې يو خيال ودرولم چې خپلو وروڼو ته بايد د احترام او عقيدت ښودلو لپاره تحفې وړاندې کړم، هغه وروڼه د کومو د وينې رنګ چې له ما سره يو شان دی او کومو چې زما د الله او زما د رسول ص کلمه ويله. هغوی ته د وړاندې کولو لپاره خو له ما سره کومه تحفه نه وه، خو هغه رومال مې چې زما پر اوښکو لوند شوی و په ډېر عقيدت او احترام ورته وړاندې کړ، ځکه چې هغه وخت له ما سره له هغه لويه نذرانه نه وه.

د دواړو جهانونو د سردار وينا ده: «مسلمانان يو وجود دی، که د وجود يو غړی په درد او تکليف کې وي، نو نور غړي هم ورسره د درد احساس کوي»، خو که موږ د نن ورځې حالت ته ځير شو، نو ډېر ځوروونکی دی. زموږ خواخوږي او ډاډګېرنه هم د تعصب او تفريق ښکار ګرځېدلې. زموږ همدردي هم د خپلو ګټو لپاره وي او مهرباني مو هم د غرض لپاره وي او دا لوی عذاب دی. شايد دا بې حسي زموږ د عادتونو يوه برخه ګرځېدلې، د يوه ساتونکي مرګ؛ مرګ نه دی شهادت دی. موږ دا هېروو چې د هغوی مرګ ملت ته ژوند بخښي، کله چې تاسې د بل درد احساسوئ، نو تاسې دا په ثبوت رسوئ چې ټول مسلمانان لکه يو وجود داسې دي.

موږ د څو کسانو په غلط اوسېدو ټوله محکمه غلطه نه شو بللی. همدا پوليس او ساتونکي د اختر او د خوښيو په نورو ورځو له خپلې کورنۍ سره د نمانځلو پر ځای ستا او ستا د کورنۍ ساتنه کوي. نن ورځ که همدا محکمه نه وي، نو هر لومړنی شخص به ظالم او دوهم به غل شي، ستونزه محکمه کې نه ده، په نظام کې ده. که په يوې ښاړې او کلکې ځمکې کې نيالګی کېنوئ، نو مېوه نيول خو لرې خبره ده، نيالګی به هم وچ شي.

يو سړی دې له خپل سر څخه تېر شي او ستاسې ساتنه دې وکړي او تاسې دې بيا هغه ته درناوی هم ونه لرئ، دا خو سراسر زياتی او بې عدالتي ده. آيا د هغو شهيدانو به مېرمنې او ماشومان نه وي؟ آيا هغوی به بېرته کور ته د تګ ارمان زړه کې نه لاره؟ آيا هغوی ته به يې ژوند خوږ نه و؟ او آيا هغوی به د کومې مور زامن نه ول؟

د خدای لپاره تاسې له انسانانو سره د انسان په حيث مينه وکړئ، تاسې

افسر، سوداګر، خدمتکار، هټیوال، وکیل، ښوونکی او سیاست‌وال وروسته یاست، لومړی خو تاسې انسانان یاست، د انسانانو درناوی کول عبادت دی. د ټولو د سلامتۍ او روغتیا لپاره دعا کول خو رښتینې روغتیا او سلامتي ده.

په خپل زړه کې عاطفي او د همدردۍ احساساتو ته ځای ورکړئ، ځکه دا د انسان فضیلت دی چې هغه د خدای پر وړاندې د خپلې بېوسۍ اقرار وکړي، که نه نو د همدردۍ او خواخوږۍ له احساساتو څخه پرته به له موږ څخه سخته او سړه ډبره جوړه شي، چې هر کله او هر ځای به د یوه نا اشنا لاروي تر پښو لاندې واقع او د هغه د تیندک خوړلو لامل ګرځو.

# د ناکامۍ لاملونه

په دې نړۍ کې ډېری خلک ناکام او ډېر لږ خلک بریالي دي. ددې لپاره چې د نړۍ نظام په ښه شکل پر مخ لاړ شي متعال رب ورته ځینې اصول او قوانین وضع کړي او همدا ددې لامل کېږي چې هېڅ کوم کار پخپل سر نه تر سره کېږي.

هره پېښه یو لامل او هره صحنه یو شالید لري. خلک په غور او فکر کولو عادت نه دي، ځکه هغوی ناخوښو حالاتو او پېښو ته ژاړي او ددې پر ځای چې د پېښې د را منځته کېدو اصلي دلیل او ریښه پیدا کړي او کومه حللاره ورته پیدا کړي، هر څه قسمت ته پرېږدي.

بریالي کېدل ستاسې شعوري انتخاب دی، خو ناکامي په لا شعوري ډول ستاسې د تقدیر برخه گرځي. څرنگه چې د بریالي کېدو لپاره ځانگړې فلسفې او یو لړ قوانینو ته اړتیا ده، دغسې ناکامي هم پرته له دلیله ستاسې لمن نه نیسي. د ناکام انسان بدبختي دا ده چې هغه د خپلې ناکامۍ لاملونه نه لټوي.

ژوند د الله تعالی له لوري یوه نایابه او قیمتي ډالۍ ده، ددې قدرداني به مو هغه وخت کړې وي چې کله د ژوند کولو هنر زده کړو.

وایي، یو عالم به هر سهار له ځنگل څخه تېرېده او ښار ته به تللو، په لاره کې یې یو لرگي پلورونکی ولیده چې ونې اره کوي، عالم چې ماښام مهال بېرته ستنېده ویې لیدل چې لرگي پلورونکی اوس هم هماغه ونه اره

کوي. عالم د خواخوږۍ څرګندولو په موخه وويل: «په يوه ورځ کې تا ونشول کولی چې يوه ونه ووهې، دا ولې؟» لرګي پلورونکي په بې پروايۍ سره وويل، زما اره پڅه ده. عالم وويل: «نو ښاغليه! دا کار به دې څو شېبې ځنډولی وای او لومړی به دې اره تېره کړې وای». لرګي پلورونکي وويل «له ماسره دومره وخت نه و!» عالم په ډېر احترام سره عرض وکړ، «زما وروره! که تا سهار له ونې وهلو څخه مخکې خپله اره تېره کړې وای، نو د نن ورځې د زحمت په بدل کې به دې ډېر شمېر ونې وهلې او ډېر لرګي پلورلي وای».

د ژوند کولو جوهر هم په دې حکايت کې پروت دی. که موږ د ځوانۍ په عمر کې په منظم شکل او ښې طريقې سره کار وکړو، نو راتلونکي کې له ژونده ډېر څه تر لاسه کولی شو. پخپل مناسب وخت زحمت اېستل مو له بې وخته سختيو، مشکلاتو او حسرتونو څخه ژغوري. د لوی هدف د تر لاسه کولو لپاره د جد و جهد پيل بايد له ځوانۍ څخه وشي. د نن ورځې سختۍ او زحمت په راتلونکي کې د ارامتيا او سکون لامل ګرځي. ناکام انسانان د خپل د ژوند غوره وخت (ځواني) په مزو او ارام کې تېروي او په راتلونکي کې د خراب قسمت ماتم کوي. برياليي انسانان پر خپل وخت خواري او زيار وباسي، سخت تکليفونه زغمي او په راتلونکي کې د خپل د زحمت راحت تر لاسه کوي.

ناکام خلک د خپل ژوند له مقصد څخه نا خبره وي. په بل عبارت هغوی ځان نه وي پېژندلی چې هغوی د کومو کارونو د ښه تر سره کولو جوګه دي. ناکامو خلکو د خپل هدف د تر لاسه کولو سفر نه وي لنډ کړی، ځکه نو اړ کېږي چې وروسته بيا له هغه څخه هم سخت او ستونزمن

کارونه وکړي، د کومو په اړه چې هغوی فکر هم نه وي کړي. ناکام انسانان نه پوهېږي چې د ژوند په بدل کې باید دوی څه تر لاسه کړي. هغوی یوازې خوړل، څښل، خوب کول، ویښېدل او په پای کې مړ کېدو ته ژوند وایي. په داسې حال کې چې ژوند د لټون نوم دی.

ناکام انسانان په خیانت او بې ایمانۍ هم عادت وي، په داسې حال کې چې د بریالیتوب لپاره که کوم څه لازمي او حتمي وي، نو هغه ایمانداري او صداقت دی.

د بریالیتوب لپاره کومه لنډه لاره نشته. دا د ایماندارۍ په اوږده مزل تر لاسه کېږي.

ناکام انسان فکر کوي چې هغه په چل او فرېب سره کولی شي ډېره شتمني تر لاسه کړي. په حقیقت کې په دې کار سره انسان تر ټولو لوی خیانت له ځان سره کوي.

که موږ له خدایه څه غواړو، نو باید ښه قسمت وغواړو، ولې چې کله د چا قسمت خراب شي، نو هغه بلکل نه پوهېږي چې د هغه لپاره څه ښه دي او څه بد.

ډېری انسانان په یو یا دوه ځله ناکامۍ ماته مني او هڅه کول پرېږدي. تاریخ گواه دی چې انسان ته یې بریالیتوب څه نه ور زده کوي، خو له ناکامۍ څخه ډېر څه زده کولی شي. له ناکامۍ څخه درس اخېستونکي د خپلې ناکامۍ لاملونه معلوموي او د بیا ځلي لپاره خپلې تېروتنې اصلاح کوي چې په پای کې بریالي کېږي.

برعکس ناکام انسانان د خپلې ناکامۍ پر لاملونو باندې پوهېدل هم نه

غواړي.

د ناکامۍ یو لوی لامل د نفس د نظم او کنټرول کمښت ( Lack of self Discipline) دی. پر ځان له بشپړ تسلط پیدا کولو څخه وروسته تاسې په حالاتو او خپل چاپېریال اغېز پرېښودلی شئ.

ناکام انسان د هر څه بدلول غواړي، خو د ځان بدلون نه غواړي، ځکه خو تل له ناکامۍ سره مخ کېږي. د ناکام انسان په وجود کې د جوش او ولولې په نوم کوم څه نه وي.

برعکس بریالي انسانان د جنون او لېوالتیا له حدودو څخه اوښتي وي. هغوی یوازې د بریالیتوب ارمان په زړه کې نه ساتي، بلکې د هغه د تر لاسه کولو لپاره د لېونتوب تر حده خواري هم کوي.

ناکام انسانان تل د لاټرۍ، پرایز بانډ او نورو جوایزو په تمه وي، چې دا ټول د بریالیتوب (Unfair Means) غلطې سرچینې دي. په یوه چانس کې تر لاسه کړې پیسې په بل چانس کې له لاسه ورکوي.

بریالیتوب د شتمنۍ او شهرت په مانا نه دی، بلکې بریالیتوب هغه ذهني پوخوالي ته وایي چې د هغه په واسطه خپله شتمني او شهرت وساتلی شې. او دا ذهني پوخوالی په خوارۍ او صبر سره تر لاسه کېږي.

ناکام انسانان خپل کار او مسلک ته په ارزښت قایل نه وي، ځکه خو هغوی پکې پرمختګ هم نشي کولی. هغه کار او مسلک چې ستاسې په خوښه نه وي تاسې یوازې هلته خپل وخت ضایع کوئ. که تاسې له خپل مسلک او دندې سره مینه ولرئ، نو هلته به تاسې هېڅ د وخت په تېرېدو پوه نشئ.

یوه ډله انسانان هڅه کوي چې هر کار تر سره کړي او د نورو مسلک کې لاسوهنه وکړي، په داسې حال کې چې بریالیتوب په یوه ځانګړي مسلک او برخه کې په مهارت تر لاسه کولو سره تر لاسه کیږي. په څلورو مسلکونو کې په سند اخیستلو سره به تاسې سواد لرونکي وبلل شئ، مګر تاسې به هېڅکله د عالم (د پوهې خاوند) و نه بلل شئ.

موږ انسانان فطرتاً په ګډه ژوند کول خوښوو. د ناکامو انسانانو ملګرتیا هم له ناکامو انسانانو سره وي. لوی هدف لرونکی انسان هېڅکله له بې هدفه انسان سره سکون نشي تر لاسه کولی. بریالي اشخاص له خپلو هم‌سویه او هم‌فکره انسانانو سره ملګرتیا کول خوښوي. ناکام انسانان له نورو څخه مرسته او خواخوږي نشي تر لاسه کولی، ځکه دوی خپله هم هېڅکله له چا سره مرسته او خواخوږي نه وي ښودلې.

نبي کریم ^ص^ فرمایلي:

«متعال رب چې کله کوم انسان ته د خیر اراده وکړي، نو د هغه باطن د هغه پر وړاندې ظاهروي».

د هېچا لپاره هم له دې څخه لویه سزا نشته چې هغه ته یې د خپلې ناکامۍ لامل هم نه وي معلوم. د بریالي کېدو لپاره تاسې همدا نن د خپلې ناکامۍ لاملونه پیدا کړئ، تاسې به تعجب وکړئ چې په دې لاملونو کې ډېری داسې لاملونه دي چې تاسې یې له منځه وړلی شئ، ځکه چې د کایناتو رب تاسې ټولو ته د ښه او بد د انتخابولو پوره اختیار درکړی.

الله تعالی فرمایي: «انسان ته هماغه څه ورکول کیږي، د کوم څه د تر لاسه کولو لپاره چې هغه هڅه کوي».

# وېره، د بریالیتوب تر ټولو لوی دښمن!

د انسان د شخصیت له منځه وړونکی او د بریالیتوب په لاره کې واقع شوی لوی خنډ وېره ده. په نړۍ کې هر انسان یوه نه یوه وېره لري. ډېری انسانان د حقیقي وېرې پر ځای فرضي وېرې په زړه کې روزي. دا وېره د هغه (Self Respect) د نفس عزت له منځه وړي. او د (Self respect) کمی د (Personality development) ځان جوړونې عملیه ټکنۍ کوي او دروي.

وېرېدونکی انسان پر ځان باور نه لري. تقریباً هر حاکم (Dictator) په ولس کې وېره خپروي او د وېرې په مرسته پر خلکو حکومت کوي.

وېره د انسانانو راتلونکی هم تیاره کوي. وېرېدونکی ولس د خپلو اساسي حقوقو له غوښتلو څخه هم وېرېږي. که تاسې له خپل زړه نه دغه وېره له منځه یونسئ، دا به ستاسې ټولې وړتیاوې وخوري.

بریالي اشخاص د خطر اخیستلو عادي وي. هغوی اړ کېږي بیا بیا مالي خطرات (Financial Risk) واخلي. که هغوی د نورو انسانانو په څېر وېرېدلي وای، نو هېڅکله به نه وای بریالي شوي. هغوی خپل ځانونه پر وېرې او ډار برلاسي کوي او بریا ته رسېږي. موږ ګومان کاوه چې غریب او بېوزله خلک به ډېره وېره ولري، خو د پوهانو د سروې مطابق شتمن خلک د بېوزلو په پرتله له بېوزلۍ او مفلسۍ څخه ډېر وېرېږي.

ستاسې ذهن د (Power House) د ځواک او طاقت د کور په څېر دی.

که تاسې ووېرېدلئ، نو ټوله انرژي مو په وېرې مصرفېږي او تاسې ته د مثبت فکر او هیلې در کولو لپاره مو په ذهن کې انرژي نه پاتې کېږي. د وېرېدونکي انسان مثال داسې دی چې له کوره د پاني پت د جګړې په نوم ووځي، خو په کوڅه کې جنګ وکړي او بېرته راشي. یا داسې چې له کوره په یوه اوږده سفر ووځئ، په لاره کې له سپي سره مخ شئ، تاسې ددې پر ځای چې خپلې لارې ته ادامه ورکړئ له سپي سره اخته شئ او خپل منزل هېر کړئ.

وېره ستاسې منزل له تاسې پټوي، ځکه خو تاسې زیار ایستلو ته زړه نه ښه کوئ، نهیلي او ناکامېږئ. ډېری انسانان خو د ژوند د ناکامیو له امله دومره نهیلي کېږي چې د ځانوژنې هڅه کوي، خو ځینې بیا دې هڅه کې هم ناکامېږي.

که تاسې خپل فکر او توجه د خپل هدف لور ته واړوئ، وېره به له تاسې څخه ډېره لرې لاړه شي. وېره په اصل کې د یوه ذهني کیفیت او حالت نوم دی چې دا حالت د بدلون وړ دی. ذهن مو هغه وخت ستاسې د خوښې کار کوي چې کله خپل ذهن د وېرې په لور له راغب کېدو څخه وژغورئ او خپل هدف ته پوره توجه وکړئ.

د وېرې په حالت کې د مغزو تر منځ تشو ځایونو ته وینه او اکسیجن نه رسېږي، د همدې لپاره هغوی خپله دنده په ښه شکل نشي تر سره کولی. د سکون په حالت کې نوي نوي فکرونه او فرصتونه ستاسې لور ته نږدې کېږي.

حساس طبعیت لرونکي انسانان د تصور او فکر کولو ډېره وړتیا لري،

ځکه نو کوچنۍ ستونزې او مسایل ورته لوی ښکاري. دوی بې شمېره فرضي وېرې په زړه کې ساتلې وي. که کومه ستونزه و نه لري، بیا نو یوه فرضي ستونزه پیدا کوي او ځان پرې ځوروي. ددې خلکو په اړه ویل کېږي:

*(No Problem is a Problem)*

ددې خلکو توجه د هرې نوې پېښې د را منځته کېدو پر مهال د خطر او وېرې پر لور وي، د دوی په فکر هر شخص دوی ته دوکه ورکوي او هره ناروغي دوی تر مرگه رسولی شي.

منفي فکره او بد گومانه انسان که د جنت په څېر ښکلي ځای ته هم ولاړ شي، زړه به یې نا ارامه او وېره به پرې غالبه وي. له بدگومانۍ څخه زموږ مبارک دین اسلام هم منعه فرمایلې ده. د څېړنو مطابق ۹۸% وېرې بې معنا او فرضي وي. او ۲% وېرې په حقیقت بدلېږي، مگر هغه ضرر رسوونکې نه وي. پخپل ځان برلاسي کېدل په ټولې نړۍ برلاسي کېدل دي.

په عمومي ډول شپږ ډوله وېرې دي چې د انسان د پرمختگ مخه نیسي:

۱) د فقیر کېدو وېره

۲) د مرگ وېره

۳) د ناروغۍ وېره

۴) د نیوکې او بې عزتۍ وېره

۵) د کمزورتیا او زړښت وېره

۶) د مینې له لاسه ورکولو وېره

په ټولو انسانانو کې دا وېرې موجودې وي، خو یوه وېره تر ټولو شدیده او غالبه وي. معمولاً ددغو وېرو لاملونه په ماشومتوب کې ځینې پېښې وي. یو سړی به د عمر وروستیو کلونو ته رسېدلی وي، خو وېره به یې هماغسې د ماشومتوب د وخت په څېر پرې غالبه وي.

ارواپوهان د وېرې د له منځه وړلو لپاره د ناروغ تېر ژوند مطالعه کوي. دا هم ترې په ډاګه کېږي چې د وېرېدونکي انسان نظریات او باورونه کمزوري او خام وي. هغوی چې کله دغه باورونه بدل کړي، وېره یې له منځه ځي.

ناپوهي (Lack of Awareness) وېرې را منځته کوي. د ژوند د هر اړخ په رابطه چې تاسې وېره لرئ، په هغه برخه کې تاسې خپله پوهه او معلومات زیات کړئ، چې ستاسې وېره له منځه لاړه شي. د کوم کار له تر سره کولو چې تاسې وېره لرئ، که ورسره مخ نشئ او ترې وتښتئ، ستاسې وېره به نوره هم ډېره شي. یو دوه ځله همت وکړئ چې هغه کار تر سره کړئ، د درېیم ځل لپاره ستاسې وېره په بشپړه توګه له منځه ځي. د لامبو وهلو د کتابونو په لوستلو سره تاسې لامبو وهل نشئ زده کولی، بلکې د لامبو زده کولو لپاره باید تاسې اوبو ته ځانونه ور وغورځوئ.

زړورتیا په دې مانا نه ده چې تاسې دې بالکل د وېرې او ډار احساس لا و نه لرئ. که داسې وای، نو په نړۍ کې به هېڅوک هم زړور نه بلل کېده. له وېرې څخه په بشپړه توګه هېڅوک هم خلاص نه دی. زړور هغه څوک دی چې پر وېرې سربېره خپلو هڅو ته دوام ورکوي.

یوه ځانګړې ورځ مشخصه کړي او په هغه ورځ د چکر او تفریح لپاره ووځي. ځیني نازولي چې یو ځل ناکام شي، بیا ځلي د خطر اخیستلو له نوم څخه هم وېرېږي چې په دې ډول د ټول عمر لپاره ناکام انسانان پاتې کېږي.

«زه وایم ټول انسانان الله تعالی پیدا کړي او هغه خپله ټولو ته رزق ورکوي او ساتنه یې کوي، نو زه ولې او له څه شي ووېرېږم؟».

خپل د فکر کولو طرز او لیدلوری بدل کړئ، ذهن مو پراخه کړئ، زړه مو ژوندی وساتئ، هېڅکله مه نهیلي کېږئ، د پیاوړي او باهمته انسان تمثیل وکړئ.

د خپلې وېرې په هکله له یوه مخلص ملګري څخه مشوره وغواړئ، په حقیقت ولاړ افکار او باورونه خپل کړئ او د خپلې وېرې لامل او ریښه پیدا کړئ چې پر ځان باور مو لوړ شي او وېره مو له منځه لاړه شي. تل په یاد ولرئ څوک چې له الله تعالی وېرېږي هغه هېڅوک نشي وېرولی، څوک چې په زړه کې د خدایج وېره نه ساتي، یوه معمولي وېره به هغه انسان له منځه یوسي.

د علامه اقبال د یوه بیت مفهوم دی:

«دا یوه سجده چې په تا ګرانه تمامېږي، په اصل کې په زرو سجدو انسان خلاصون مومي».

# له شتمنۍ سره مینه یا ترې کرکه

هر انسان له شتمن کېدو سره مینه لري، خو له شتمنو څخه کرکه کوي. خلک د پیسو او شتو په هکله حیرانوونکي نظریات لري. ډېری په دې نظر دي چې په شتمنۍ تر لاسه کولو سره د اړیکو ارزښت له منځه ځي. شتمني د فرعون میراث دی. شتمني مو د زړه سکون اخلي، شتمن خدای هېروي او زړه سختوي.

په پیسو تاسې کتابونه اخیستلی شئ، خو علم نه، د خوب نرمه بستره اخیستلی شئ، خو خوب نه، بې شمېره اړیکي او تعلقات جوړولی شئ، خو یو رښتینی دوست پرې نه شئ را نیولی، په پیسو خواړه او درمل را نیولی شئ، خو روغتیا نه، عینکې را نیولی شئ، خو د سترګو دید پرې نه شئ راستنولی، شتمن انسان ټوله نړۍ فتحه کولی شي، خو د یوه انسان زړه نشي تر لاسه کولی.

«دوه وږي لېوان چې د پسونو د رمې په منځ کې پرېښودل شي، دومره ضرر به ور و نه رسوي څومره یې چې یو انسان د مال او شتمنۍ په حرص او مینه کې خپل ځان او خپل دین ته رسوي». (حدیث شریف)

که فکر وکړو دولت او شتمني پخپل ذات کې بد شی نه دی، بلکې له شتمنۍ سره مینه او حرص یې بد شی دی. د شتمنۍ هوس انسان ړندوي. خلک د مال په جمع کولو او شتمن کېدو سره خپل او پردي هېروي. د شتمنۍ وږي هېڅکله حقیقي ارامتیا نشي تر لاسه کولی. ډېری شتمن

خلک داسې دي چې د سکون او ارام خوب نه لري او کورنۍ یې د هغه د نه پاملرنې له امله له منځه ځي. داسې خلک د شتمنۍ مالکان نه وي، بلکې شتمني د دوی مالکه وي. دوی د ځان ساتنې لپاره مال جمع کوي، خو وروسته پخپله د مال او شتمنۍ ساتونکي جوړېږي. د دوی خزانې هغه مهال له ځمکې را وځي کله چې دوی خپله تر ځمکې لاندې لاړ شي.

غوره مال هغه دی چې د ښو مقاصدو لپاره مصرف شي. مال او شتمني موږ د خدای[ج] پر وړاندې لوړ سر درولی شي، په دې شرط چې د الله تعالی د مخلوقاتو د خیر لپاره یې مصرف کړو، کنه نو شتمني هم یو امتحان جوړېږي. له هغه مال څخه چې تاسې، ستاسې ملګري او خپلوان ګټه اخلي یو نعمت دی.

د مال او شتمنۍ د ډېروالي په صورت کې انسان خپل ځان هېروي او د کموالي په صورت کې خلک هغه هېروي. ښه شتمن اوسېدل له غریب اوسېدو څخه غوره دي. د شتمن انسان په حیث تاسې د بې شمېره بېوزلو انسانانو لاسنیوی کولی شئ. په مال او شتمنۍ سره تاسې د حج فریضه اداء کولی شئ، خیریه کارونه او مسجدونه ودانولی شئ. که حضرت عثمان[رض] شتمن نه وای، هغه به څه ډول د مسلمانانو لپاره د اوبو څاه اخیستې وای؟ په شتمنۍ سره د دین خدمت هم ممکن کېږي او کوم غریب ته ډوډۍ هم ورکولی شئ.

«فقر او بېوزلي انسان تر کفره رسولی شي» (حدیث شریف)

بې حده خوښي او بې حده غم انسان غلطې لارې ته سوق کوي. الله تعالی

چې څوک ذلیله کوي هغه د مال او دولت په را جمع کولو اخته کوي.

ناپوهه خلک د شتمنۍ تر لاسه کولو لپاره د زړه سکون له لاسه ورکوي او برعکس هوښیاران د زړه د سکون لپاره ټوله شتمني قربانوي. پیسې او مال؛ دولت نه دی! بلکې د پیسو د مصرفولو همت دولت دی.

په مالي لحاظ بډایه او بې نیازه انسان د ابادۍ او رغونې کارونه کولی شي، مګر غریب انسان خو پخپلو ستونزو کې داسې را ګیر وي چې د بل چا د خیر په اړه فکر هم نشي کولی. د پیسو او شتمنۍ په اړه تاسې خپل فکرونه او باورونه بدل کړئ. مال او دولت ستاسې په ژوند کې د اسانتیاوو او سوکالۍ را وستلو کې ډېر مهم رول لري او تاسې کولی شئ چې د خپلې خوښې پایلې ترې تر لاسه کړئ، مګر شتمني هر څه نه ده.

که تاسې له چا څخه ډېر شتمن کېدای نشئ، نو کولی شئ چې له نورو څخه په اخلاقو او ښه چلند کولو کې مخکې شئ، ځکه ښه والی او نېکي د شتمنۍ په واسطه د انسان په وجود کې نه را منځته کېږي، بلکې په ښېګڼې او ښه انسان اوسېدلو سره شتمني تر لاسه کېدای شي.

ستاسې رښتینولي او غوره شخصیت ډېره لویه شتمني ده. که شتمني له لاسه ورکړئ، کېدای شي بېرته یې تر لاسه کړئ، خو تللی عزت او حیثیت بېرته نه تر لاسه کېږي.

په یاد یې لرئ! بریا د شتمنۍ او ځواک نه، بلکې د رښتینولۍ په برخه کېږي.

«رزق په دوه ډوله وي، یو هغه چې تاسې یې په لټه کې یاست او بل هغه چې ستاسې په لټه کې وي». (حضرت علی رضي الله تعالی عنه)

# د شتمن یا غریب اوسېدو بنسټیز لاملونه

تاسې شتمن یاست یا غریب، بریالي یاست یا ناکام، دا ټول ستاسې د فکر کولو په طرز پورې تړلي. ستاسې بهرنۍ نړۍ ستاسې د داخلي نړۍ عکس دی. حضرت علي رض فرمایي: «څوک چې خپل باطني حالت منظم کړي، الله تعالی د هغه بهرنی حالت غوره او ښکلی کوي».

په نړۍ کې هېڅوک شتمن یا بېوزله نه دی، بلکې دا د هر چا د خپل فکر حاصل دی. که فکر مغلوبه او بېهوده و، انسان غریب دی. غوره فکر او باور تاسې نه پاچا جوړوي. له ځانه ښکته انسانانو سره که ځان پرتله کړئ، نو تاسې شتمن یاست او که له ځانه لوړو کسانو سره ځان پرتله کړئ، تاسې غریب او بېوزله یاست.

د بېوزلو په کلي کې متوسط مال لرونکي شتمن بلل کېږي او د شتمنو په ښار کې متوسط شتمن، غریب او بېوزله بلل کېږي. یعنې له نورو سره ځان پرتله کول له تاسې شتمن او غریب جوړوي، کنه نو تر ټولو ستر غربت دادی چې تاسې خپل ځان غریب او اړمن تصور کړئ.

د څېړنو مطابق د خوښ او خوښي تر لاسه کوونکیو انسانانو فکر له غمجنو او بدحاله انسانانو سره ډېر توپیر لري. که موږ هم د خوشحاله انسانانو د فکر کولو طرز خپل کړو، نو خوښۍ زموږ تقدیر هم جوړېدلی شي.

Robert T. Kiyosaki له ژور فکر او غور کولو وروسته یو غوره کتاب

د Rich Dad Poor Dad (شتمن پلار، نېستمن پلار) په نوم ولیکه، هغه په دې کتاب کې دا حقیقت واضح کړی چې شتمن او بریالي انسانان د خوښۍ او بریالیتوب په اړه خپلو ماشومانو ته څه ور زده کوي؟ کوم څه چې غریب او متوسط شتمن خپلو اولادونو ته نشي ور ښودلای. دا کتاب د شتمنو او بېوزله انسانانو د فکرونو تر منځ موجود تضادونه هم څرگندوي. ددې کتاب په اړه مشهور لیکوال Zig Ziglar ویلي:

«د خپل ټولنیز ژوند د منظمولو لپاره باید تاسې دا کتاب ولولئ. دا ستاسې د ژوند مالي راتلونکی (Finanacial Career) روښانه کوي».

د امریکا پخواني صدراعظم (Sobran) د کتاب په اړه داسې ویلي:

«کاش چې دا کتاب مې په ځوانۍ کې لوستلی وای، یا کاش زما والدینو لوستلی وای».

د لیکوال افکار پر حقیقت ولاړ دي، چې موږ یې په دې ډول ترتیبولی شو.

۱- خوشحاله او شتمن خلک د خپلو ناکامیو او تېروتنو مسوولیت مني او د هغو په اصلاح کولو سره بریالي کېږي. برعکس ناکامه انسانان د خپلو ناکامیو پړه پر حالاتو، پېښو، چاپېریال، مور او پلار او قسمت اچوي، هغوی دا شیان نشي بدلولی او ناکامه کېږي.

«تر هغې چې پخپل ځان بشپړ تسلط و نه لرئ، په نړۍ تسلط نشئ تر لاسه کولی. ددې لپاره چې نړۍ فتحه کړئ، باید لومړی خپل ځان فتحه کړئ».

۲- شتمن او بریالي شخص د بریالي کېدو لپاره کلکه اراده کړې وي. هغه

د بریالي کېدو لپاره یو ډول جنون لري، په داسې حال کې چې ناکامه اشخاص یوازې د بریالي کېدو هیلې لري چې یوازې هیلې لرل کفایت نه کوي. یوه کلکه اراده او قطعي پرېکړه تاسې عمل کولو ته هڅوي.

د اردو بیتونو مفهوم دی:

چې عمل نه وي جذبات ګټه نه لري

چې ځمکه شاړه وي برسات ګټه نه لري

عمل لازم دی د هیلې د پوره کولو لپاره

کنه نو رنګین خیالات ګټه نه لري

دا یو افاقي اصل دی چې کله تاسې د کوم څه د تر لاسه کولو هیله لرئ، د کایناتو ذره ذره له تاسې سره د هغه هدف په تر لاسه کولو کې مرسته کوي.

۳- بریالي اشخاص په هر میدان کې د ګټې هڅه کوي، په داسې حال کې چې ناکام خلک تل له ناکامۍ څخه تېښته کوي. همدارنګه لایقه زده کوونکي د لوړو نومرو د تر لاسه کولو په اړه فکر کوي او د ښې درجې تر لاسه کولو هڅه کوي. په داسې حال کې چې تنبل زده کوونکي یوازې د بریالي کېدو لپاره کتاب خلاصوي.

۴- شتمن خلک ډېر مال تر لاسه کول غواړي چې وکړای شي خپلې هیلې پرې پوره کړي او د خپلې خوښې ژوند وکړي. غریب خلک یوازې دومره پیسې تر لاسه کول غواړي چې ورځني لګښتونه پوره کړي.

۵- بریالي او خوښ خلک لوړ اهداف لري، کوم چې د هغوی تر منځ

جوش او جذبه پیدا کوي. غریب خلک خو لومړی کوم واضح مقصد نه لري او که لري یې هم نو دومره کوچنی وي چې هېڅ کومه جذبه او ولوله نه وي پکې او هغوی عمل کولو ته نشي هڅولی.

٦- شتمن خلک پخپله فرصتونه رامنځته کوي او غریب د قسمت په تمه وي.

۷- بریالي او شتمن خلک پخپلو وړتیاوو بشپړ باور لري، ځکه هغوی د ژوند په بېلابېلو پړاوونو کې ځان ازمایلی وي او پر ځان باور لري. غریب پخپل وجود کې له شته وړتیاوو څخه ناخبره وي، ځکه نو هغوی خپلې وړتیاوې په ارزانه بیه خرڅوي او یو عادي ژوند تېروي.

«که مال او شتمني په ټولو انسانانو کې په یوه اندازه ووېشل شي، بیا به هم د ټولو انسانانو عقل برابر نه وي، ځکه که چېرې د ټولو عقل برابر شي، هېڅوک به د بل انسان نوکر نشي او نه به څوک د پاچا یا مشر په توګه څوک ومني».

۸- د شتمنو توقعات ډېر لوړ وي، برعکس غریب خلک د خوښۍ هېڅ امید نه لري. ددې لپاره ویل کېږي چې څوک چې د خیر او خوښۍ تمه نه لري، هغوی خوښي نشي تر لاسه کولی او هرومرو به ورسره بد کېږي.

توقعات Expectations انسان ته لوی طاقت او وړتیا بخښي. دا د حالاتو په را منځته کولو کې مرستندوی ثابت شوي. ښه توقع ستاسې تقدیر بدلولی شي.

۹- شتمن انسانان له خوشحاله انسانانو سره ملګرتیا خوښوي، ځکه خوشحاله انسانان د هغوی د خوښ ساتلو لپاره د هغوی د خوښې

محفلونه او پروګرامونه برابروي.

د غریبو خلکو ملګري هم غریب وي او د ملګرو فکر یې هم غریب وي.

هغه متل دی وایي: «د باز یاران بازان وي او د کارغانو یاران کارغان وي» یعنې باز له باز سره ملګرتیا خوښوي او کارغه له کارغه سره.

۱۰- شتمن او بریالي اشخاص له ستونزو او خنډونو څخه نه ویرېږي، ځکه هغوی پوهېږي چې د بریالیتوب لپاره لازم او ملزوم دي. هغوی د باد مخالف لور ته حرکت کول خوښوي، ځکه چې هغه ورته د لوړ الوت توان ورکوي. هغوی پوهېږي چې یو ارام سمندر هېڅکله یو ښه ملاح (ماڼو) نشي پیدا کولی. غریب خلک له ستونزو او خنډونو څخه تښتي، ځکه نو له بریالیتوب څخه هم تښتي.

۱۱- خوشحاله خلک د خپل عمر له یوه مناسب پړاوه د پیسو سپمول پیلوي. غریب خلک لومړی خو دومره پیسې نه ګټي چې له ورځنیو لګښتونو یې اضافه شي او که اضافه هم شي بې ځایه یې مصرفوي.

«ناکام وویل، له یوه څاڅکي به لا څه شی جوړ شي؟

کامیاب وویل، له څاڅکي څاڅکي سمندر جوړېږي».

۱۲- شتمن د ژوند په لومړیو پړاوونو کې سخت کار کوي او په وروستیو کې د ارام او راحت ژوند تېروي. غریب د معمول په څېر لږه اندازه کار کوي او هېڅکله د غیر معمولي او سخت کار هڅه نه کوي او ټول عمر لالهانده ژوند تېروي.

«بخارات د اوبو له نورو ذرو څخه ډېر حرارت جذبوي او په ټول توان سره د اوبو سطحه څیرې کوي او هوا ته پورته کېږي، ددې هڅې څخه وروسته هغوی لوړتیا ته رسېږي».

که څوک غواړي چې د سرو زرو غوړوالی په غوړو کړي، مجبور دی چې لومړی خپل غوړونه سوري کړي.

۱۳- شتمن له دولت څخه د دولت جوړولو له فن څخه آګاه وي. غریب سړي ته که چېرې میلیونونه پیسې په لاټرۍ کې را ووځي نو هم په څو کلونو کې به یې مصرف کړي او بیا به هم هماغه بېوزله او نورو ته محتاجه تن وي، ځکه خو ویل کېږي چې شتمني تر لاسه کول کوم کمال نه دی، بلکې شتمن او بریالی پاتې کېدل یو لوی صفت او کمال دی.

۱۴- بریالي اشخاص خپل ځان په علم، فنونو او بېلابېلو مهارتونو تر لاسه کولو قیمته کوي. غریب تل دا ادعا لري چې هغه په هر څه پوهېږي او هغه د کتابونو لوستلو ته هېڅ اړتیا نه لري.

دا یاد لرئ! په دې نړۍ کې یوازې یو شخص ستاسې حالت بدلولی شي، هغه انسان که وغواړي تاسې له تیارو څخه روښنایي ته، له پستۍ څخه لوړتیا ته، له مایوسۍ څخه خوښۍ ته او له نهیلۍ څخه بریالیتوب ته رسوي. هغه کوم بل څوک نه دی، تاسې خپله یاست! تاسې اختیار لرونکي یاست چې تاسې دې خوښ واوسئ چې تاسې دې شتمن واوسئ او تاسې دې بریالي واوسئ، که تاسې اختیار لرونکي نه واست، نو په قرآن کې به دومره واضح دا الهي فرمان نه وای موجود «انسان ته هغه څه رسېږي، د کومو د تر لاسه کولو چې هغه هڅه کوي».

د بریالي او شتمن شخص جوړېدو لپاره که تاسې دې ته اړ شئ چې خپل فکر بدل کړئ، نو دا کار هم ډېر سخت نه دی. یوازې مو فکر بدل کړئ. د حالاتو د بدلون لپاره خیالات بدلول شونې دي. راځئ هغه افکار خپل کړئ د کومو په اړه چې (Mark Victor) داسې ویلي:

«د شتمن کېدو او شتمن پاتې کېدو لپاره اړینه ده چې تاسې او ستاسې اولادونه د پورتنیو څوارلسو فقرو په اړه پوهه ولرئ».

# پر فکر، احساساتو او جذباتو بارز ځواک

موږ د حالاتو پر وړاندې مغلوب کېدای هم شو او پرې غالب کېدای هم شو. که موږ وغواړو هر څه جوړېدای شو. موږ خپله ماته په برلاسۍ بدلولی شو. که موږ وغواړو پخپلې بریا کې بې شمېره محروم او بېوزله خلک شریکولی شو. که موږ وغواړو د نورو انسانانو لپاره یوه بېلګه جوړېدای شو. که موږ وغواړو د جهالت تیارې له منځه وړلای شو او د علم ډیوه بلولای شو. موږ د نړۍ تر ټولو لوړه څوکه (ماونټ اېورېسټ) ته ختلای شو، ځکه هغه څوکه چې څومره لوړه تللای شوه تللې ده، خو زموږ همت او جذبه لا ډېره لوړېدای شي او د لوړېدو په حال کې ده.

که موږ وغواړو خپل نوم د تاریخ په زرینو پاڼو کې ثبتولای شو، مګر له دې هر څه نه وړاندې باید موږ یو کار وکړو. د کوم کار له سر ته رسولو پرته هېڅ کوم انسان عظمت او لوړتیا ته نه دی رسېدلی، هغه اړین کار دا دی چې موږ لومړی خپل ارزښتونه، لومړیتوبونه او سرې کرښې وپېژنو او بیا په هغو کې مناسب او اړین بدلون را ولو چې زموږ ارزښتونه، لومړیتوبونه او سرې کرښې ددې وړ وګرځي چې موږ تر خپل مقصود منزله ورسوي.

د هارورډ پوهنتون د څېړنو مطابق د یوه شخص د بریالي کېدا تر شا یوازې ۱۵٪ سلنه د ذهانت، تعلیم، استعداد او تقدیر لاس دی او پاتې ۸۵٪ سلنه زموږ په ارزښتونو او لومړیتوبونو پورې تړلې ده. غوره ارزښت

ټاکل د بریالي کېدو د پیل ټکی دی. که تاسې غواړئ چې د کوم شخص د راتلونکي حالت وړاندوینه وکړئ، د هغه د نن ورځې ارزښتونه وپېژنئ. ستاسې پر وړاندې به د هغه د راتلونکي انځور په واضح توگه جوړ شي.

تاسې په دې پوهېږئ چې د بریالیتوب په سفر کې ستاسې د فکر کولو طرز ډېر رول لري. فکر ستاسې د عمل کولو ذمه‌واري لري، ستاسې عمل ستاسې چلند په ډاگه کوي. ستاسې چلند ستاسې د کردار برخه ده او ستاسې کردار ستاسې برخلیک ټاکي، تاسې به حیران شئ که په دې پوه شئ چې ستاسې د فکر، عمل، چلند، عادتونو او کردار تر شا په پټو محرکاتو کې ستاسې ارزښتونه او لومړیتوبونه له هر څه ډېر مهم دي. داسې فکرونه چې تاسې یې بیا بیا کوئ، ستاسې د بریالیتوب او ناکامۍ ذمه پر غاړه لري، خو دا فکرونه تاسې ته د یوه مشخص ارزښت له امله درځي.

که چېرې موږ غواړو چې خپل احساسات او جذبات بدل کړو، باید خپل ارزښتونه او لومړیتوبونه بدل کړو، ځکه کله چې موږ سبب Cause بدلوو نو پایله Effect پخپله بدلېږي. که څوک تاسې له پامه غورځوي ددې دا مانا نه ده چې تاسې د هغو لپاره د درناوي وړ نه یاست، بلکې تاسې په خپل وجود یا خپلو خبرو کې هغه بدلون نه دی راوستی د کوم بدلون توقع چې هغوی له تاسې څخه لري.

ډېری خلک له دې حقیقته ناخبره وي چې دوی له مادي وجود لرلو ور هاخوا د یوه زړه او په هغه کې د موجودو احساساتو او هم د یوه ذهن او په هغه کې د خیالاتو درلودونکي او مالکان هم دي. تقریباً د نړۍ ټولو انسانانو ته یو ډول مادي جسم ورکړل شوی، مگر د ټولو احساسات،

جذبات او افکار جلا دي، ځکه د دوی ارزښتونه او لومړیتوبونه جلا دي.

غوره لوبغاړی، بریالی سیاستوال، فصیح ویناوال او خطیب، بریالی او شتمن سوداګر او ښه لیکوال په حقیقت کې د انګېزه بخښونکو او تحریک آفرینو ارزښتونو ټاکونکي دي.

لوی خلک د خپلو ارزښتونو او لومړیتوبونو مطابق ژوند کوي. د کومو خلکو چې ارزښتونه واضح وي د هغوی علم او عمل سره برابر وي. هغوی د هر څه له ټاکلو وړاندې خپل لومړیتوبونه په پام کې نیسي او د ژوند هره شېبه د ارزښتونو مطابق تېروي.

د ارزښتونو د جلاوالي له امله د ټولو لیدلوری هم سره توپیر کوي. ددې موضوع په یادولو سره دوه پوښتنې زموږ په ذهن کې پیدا کېږي. یوه دا چې ارزښتونه او لومړیتوبونه څه شی وي او دوهم دا چې دغه ارزښتونه او لومړیتوبونه زموږ په وجود کې څه ډول پیدا کېږي؟ ارزښت یعنې دا چې تاسې څه غواړئ؟ تاسې ته له هر څه مهم څه دي؟ لومړنۍ ټاکنه مو څه ده؟ څه شي ته په نورو شیانو ترجیح او برتري ورکوئ؟ له څه شي پرته مو ژوند نیمګړی او بې مانا کېږي؟ تاسې کومو احساساتو ته ارزښت ورکوئ؟ تاسې د څه شي لټون کوئ؟ هغه کومې پایلې دې چې په تر لاسه کولو سره یې تاسې خوشحاله کېږئ؟ تاسې ته څه شی عزیز دی؟ کوم شیان ستاسې د ژوند لپاره اړین دي؟

ډېری خلک ددې پوښتنو په ځواب کې داسې وایي:

زما په ژوند کې بریا تر لاسه کول ډېر اړین دي. زه عزت او درناوی تر لاسه کول غواړم. زه غواړم خپلواکه و اوسم. له شتمنۍ پرته ژوند ما ته

هېڅ مانا نه لري. زه غواړم چې د خلکو تر منځ محبوبیت ولرم. زه یو ارامه او هوسا ژوند غواړم. پرته له روغتیا ژوند هېڅ ارزښت نه لري. زه غواړم سر و مال مې خوندي او په امن کې وي. تاسې به اوس وایئ چې دا ټول خو هر انسان غواړي، مګر که لږ فکر وکړئ، نو پوه به شئ چې ځینې جذبې او احساسات موږ ته ډېره خوښي را کوي، په داسې حال کې ټول دومره خوښي بخښونکي نه وي. دا په دې مانا چې ټول احساسات زموږ لپاره یو ډول ارزښت نه لري. اوس تاسې ددې ټولو احساساتو تر منځ هغه درې وټاکئ کوم چې ستاسې لپاره له نورو ډېر اړین بریښي او له کومو پرته چې ستاسې ژوند بې مانا کېږي او په تر لاسه کولو یې تاسې ډېر زیات خوشحاله کېږئ.

دغه ټاکنه به ستاسې ارزښتونه او لومړیتوبونه واضح کړي، کوم چې به ستاسې او د بریالیتوب د تر لاسه کولو په لاره کې تاسې ته د Compass قطب‌نما کار ورکړي.

پرته له هغو خلکو چې هېڅ کوم لوی کار نشي کولی او په دې باوري دي چې په وجود کې یې کوم څه خاص نشته چې د حالاتو د بدلون سبب شي، کوم چې موږ ارزښتونه بولو. که تاسې کوم کوچنی هدف وټاکئ، ستاسې انرژي او همت به هم د هدف په اندازه کم وي کوم چې ستاسې بریا نشي یقیني کولی او که چېرې تاسې داسې یو څه تر لاسه کول غواړئ چې هېڅکله مو د هغه په اړه فکر نه وي کړی، بیا به هم تاسې له ناکامۍ سره مخ شئ، ځکه کوم څه چې ستاسې تصور کې نه وي، هېڅکله یې هم نشئ تر لاسه کولای.

تاسې د ارزښت په ټاکلو کې دقت وکړئ او په اړه یې فکر وکړئ

ان شاء الله منزل به پخپله ستاسې د قدمونو لاندې راشي.

«که د انسان باطن ښکلی وي، هغه په هر څه کې ښکلا گوري» (سقراط)

د ژوند د لومړيو ورځو پېښې، حالات، د مشرانو نصيحتونه، چاپېريال، تاثر Inspiration، ذهني کيفيت، پېښې، نه هېرېدونکې ورځې او خاطرې، د خلکو نيوکې او ستاينې، ملگري او خپلوان، رسنۍ، عقايد، باورونه او هغه پوښتنې چې له خپله ځانه يې کوو، دا ټول هغه څه دي چې زموږ په وجود کې ارزښتونه زېږوي. ددې عناصرو له امله زموږ لومړيتوبونه را منځته کېږي.

ډېری خلک لاره خپل ارزښت ټاکي او منزل ترې هېر شي. د زينو (پوړيو) کار دا دی چې موږ لوړ ځای ته وخېژوي، زينه يوه وسيله ده او لوړ ځای ته ختل مقصد دی.

ډېری خلک سره له دې چې ډېر زيات شتمن دي، خو بيا هم سکون او ارام نه لري. لامل يې دا دی چې د دوی ارزښتونه واضح نه دي. کوم خلک چې په پرېکړه کولو کې ستونزه لري د هغوی ارزښتونه هم واضح نه وي.

د ارزښتونو له ټاکلو وروسته بايد هره بله ټاکنه د ارزښتونو مطابق وشي. زموږ لومړيتوبونه د وخت په تېرېدو سره بدلېږي، مگر لوی انسانان پکې مناسب بدلونونه راوړي او د هماغو مطابق ژوند کوي.

د لومړيتوبونو له بدلون څخه وروسته ستاسې احساسات او چلند هم بدلېږي، ځکه د باطن بدلون د ظاهر د بدلون لامل کېږي.

«څوک چې خپل اندروني حالات منظم او ښکلي ساتي، رب تعالی د

هغه ظاهر هم منظم او ښکلی کوي». (حضرت علي رض)

کوم خلک چې روغتیا خپل لومړیتوب نه ټاکي، هغوی بیا سیګرېټ هم څکوي او خپلو خوړو ته هم پام نه کوي.

کوم شخص چې له نورو سره مرسته خپل لومړیتوب ګڼي هغه له پیسو سره مینه نه لري.

هغه شخص چې د الله تعالی رضا تر لاسه کول یې مقصد وي، ولي الله بلل کېږي. په بل عبارت د نورو ارزښتونو او لومړیتوبونو په پېژندلو سره د هغوی اصلیت پېژندل کېږي. انسان د خپلو ارزښتونو او علاقمندۍ په واسطه پېژندل کېږي.

«ځنګه چې زموږ ارزښتونه وي، همداسې زموږ رایه او نظر هم وي» (ګویته)

که د نورو په ارزښتونو وپوهېږو، له هغوی سره یوه ټینګه اړیکه را منځته کولی شو. کولی شو چې ورسره مرسته وکړو او هم کولی شو چې ترې مرسته تر لاسه کړو. که د خپلو والدینو او استادانو په ارزښتونو پوه شو او ورته درناوی وکړو، هغوی به له موږ خوشحاله شي. کوم چاته له دندې ورکولو وړاندې دا پوښتنه ترې کولی شو چې ستاسې لپاره څه شی ډېر ارزښت لري؟ او یا په کومه مسئله کې ډېره لېوالتیا لرئ؟ ددې پوښتنې په ځوابولو سره تاسې د داوطلب شخص د شخصیت په اړه پوهېږئ.

اوس تاسې داسې یو ځواک وپېژانده چې پر فکر، احساساتو او جذباتو برلاسی دی. اوس تاسې د بریا د سفر د پیلولو لپاره نور مه په تمه کېږئ او همدا اوس خپل پینځه غوره او واضح ارزښتونه او لومړیتوبونه په یوې پاڼې در سره ولیکئ او دا هم ولیکئ چې له کومو احساساتو څخه ځان

ژغورل غواړئ، لکه: غوسه، یوازېتوب، ډیپرېشن، ناکامي، ذلت، د گناه احساس او نور...

په دې ډول به تاسې د خپلې بریا د سفر لپاره د لارې واضحه نقشه جوړه کړې وي. بالکل داسې لکه تاسې چې د بریالیتوب جواز تر لاسه کړی وي. ستاسې هر عمل به ستاسې د ارزښتونو تابع وي. ستاسې فکر به ستاسې د لومړیتوبونو مطابق وي او تاسې به وکولی شئ په اسانۍ سره حالات تر خپل واک لاندې راولئ او په چټکۍ سره به د یوه روښانه راتلونکي پر لور گامونه واخلئ.

# بریالي اشخاص کوم کارونه کوي؟

بریالي خلک له کوچنیو تجربو څخه لوی درس او عبرت اخلي. پوهه د تجربو او تصوراتو د نچوړ نوم دی. د یوې پېښې په تړاو د هر چا نظر او رایه جلا وي، څکه نو د هرې یوې تجربې پایله هم د ټولو لپاره جلا وي. که د منزل لور ته تللې لاره بنده وي، ډېری خلک له هماغه خنډه خپل منزل جوړوي او همالته پاتې کېږي او ځینې نېکمرغه خلک د خپل همت او لېوالتیا پر مټ ځانته بله لاره جوړوي او خپل سفر ته دوام ورکوي.

د نړۍ هره اختراع یو وخت مازې یو تصور و. لوی خلک پرېکړه کوي چې هغه به خپل تصورات او خوبونه په حقیقت بدلوي. له بې شمېره ناکامیو وروسته نه نهیلي کېږي، د ستونزو او خنډونو پر وړاندې مقاومت کوي او پر مخ ځي او یوه ورځ خپل منزل تر لاسه کوي. تاسې څه شی لرئ دا مهمه نه ده، بلکې تاسې کوم اهداف (Targets) لرئ دا له تاسې مهم شخص جوړوي.

د بریالیتوب لپاره ځینې افاقي اصول (Universal laws) موجود دي. دغه اصول هر هغه چاته گټه رسوي چې عمل پرې کوي. په دې اصولو نسب، نژاد، مذهب، قوم او د سیمې بدلون هېڅ اغېز نه کوي.

د نړۍ بریالي انسانان د خپل ژوند په لومړیو کې له ډېرو ستونزو، سختیو او غربت سره لاس و گرېوان پاتې شوي دي. هغوی د خپل د ژوند د

ناکامیو او تېروتنو ذمه واري پر خپله غاړه اخیستې، حالاتو هغوی بدل نه کړل، بلکې هغوی حالات بدل کړل. خپل ټول امکانات، لکه روغتیا، مال، وخت، سکون و ارامتیا او ټولې ذهني او جسماني وړتیاوې یې د یوه مقصد لپاره وکارولې، په پای کې د نورو لپاره مثال شول.

باهدفه ژوند، له بریالیتوب سره مینه، د نورو لپاره د څه کولو جذبه او د سخت زیار اېستلو عادت د بریالیو اشخاصو لپاره د پانګې حیثیت لري. شتمني د ارث له لارې هم تر لاسه کېدای شي، مګر ښه عادتونه او باهدفه اوسېدل د خدایج پېرزوینه ده. له شتمنۍ څخه څو چنده ډېر ارزښت لرونکی هغه جسم دی چې د زیار اېستلو عادي وي او هغه ذهن دی چې د غور او فکر کولو عادي وي، کوم چې د ډېرې شتمنۍ تر لاسه کول ممکن کوي، ځکه خو بریالي اشخاص هڅه کوي چې ځان خوشحاله کړي چې راتلونکی یې هم له بدحالۍ څخه وژغورل شي.

له یوه شتمن څخه چا پوښتنه وکړه، ته څه ډول ملیارډر شوې؟ هغه ورته په ځواب کې وویل، ما له خپلو ملګرو څخه میلیونران جوړ کړل، ځکه زه ملیارډر شوم.

هېڅ یو انسان په یوازې توګه څه نشي کولی، په هر قدم کې د نورو مرستې ته اړتیا پیدا کوي. څوک به خپلې ذهني وړتیاوې ستاسې په اختیار کې درکړي، څوک به ستاسې لپاره هر ډول سختۍ زغملو او هر ډول منډې ته تیار وي، څوک به غواړي چې تاسې ته لارښوونه وکړي، په دې شرط چې تاسې د هغوی اړتیاوې وپېژنئ او پوره یې کړئ.

رښتیني بریا هغه ده چې له ځان سره نور هم بریالي کړو، په یوازې ځان

بریا ته رسېدل له ناکامۍ سره مترادف دي.

یو لوی شخص ناڅاپه لوړتیا او عظمت ته نه رسېږي، بلکې د هغه په عظمت کې د بې شمېره ورځو او شپو زحمت شامل وي. «عظمت په محنت کې دی» دا یو څرګند حقیقت دی سره له دې چې ټول پوهېږي، خو بیا هم ډېری خلک دا حقیقت په یقیني ډول نه مني. همدا یې لامل دی چې هغه د خوارۍ او محنت پر ځای تل د قسمت په تمه وي. ددې برعکس بریالي خلک سخت محنت او هڅه کوي، خو پر دې سربېره چې کله د یوه کار په تر سره کولو و نه توانېږي، نو بیا هغه الله تعالی او تقدیر ته وسپاري، همدا ده چې په پای کې بریالي کېږي.

ډاکټر تامس ستېنلې ۲۵ کاله د ۷۳۳ ملیارډرانو ژوند مطالعه کړ، د هغه د ریسرچ مطابق خواري او محنت پېنځم او قسمت ۲۷ مقام لري، نو دې پایلې ته رسېږو چې هر بریالي انسان پر خوارۍ او محنت یقین درلود، له سخت زحمت او خوارۍ وروسته یې خپل اهداف تر لاسه کړي او خپل برخلیک یې پخپله لیکلی.

پرمختګ غوښتونکي انسانان په هغه علم او پوهې بسنه نه کوي کوم چې له هغوی سره شته. هغوی هره ورځ نوي شیان زده کول غواړي. په هغوی کې د خپلو تېروتنو د منلو او د هغو د اصلاح کولو حوصله بې حده ډېره وي ځکه هغوی په (Constant and never ending improvement) دوامداره او نه ختمېدونکي پرمختګ باور لري. دوی د منفرده اوسېدو لپاره د غوره شخصیت او کردار لرونکي وي. د هغوی نن له پرون سره برابر نه وي. دوی په زده کړه کې د شرم احساس نه کوي. نا اهلو ته چې کله کومه خبره وکړې، نو درته وایي به، زه خو په دې خبرې له مخکې

پوهېدم! مگر هوښیارو ته چې کومه خبره وکړې، وایې بېشکه ډېره ښه خبره دې راته وکړه، زه به هڅه وکړم چې عمل پرې وکړم.

دغه له ځان سره خبرې کول (Intra-Communication) ددې لامل کیږي چې په ځان کې لا مثبت بدلونونه را ولو. ځینې خلک په تیارو کې خپله لاره لټوي او ځینې نور په روښنایۍ کې هم همداسې ولاړ دي. لوی خلک د خطر اخیستلو حوصله لري، هغوی ځانونه لاروي گڼي او ژوند یو سفر گڼي. او ټولې نړۍ ته دا ثابتوي چې دوی لوی خلک دي او د ځانگړو کارونو د تر سره کولو لپاره نړۍ ته راغلي.

بهترین انسانان بهترین نیتونه لري چې له امله یې الله تعالی د هغوی ټول کارونه سموي او د کوم کار د تر سره کولو اراده چې رب تعالی وکړي د هغه مخه هېڅوک هم نشي نیولی.

# زه هم له تاسې ګیله لرم!

انسان په یوه حالت کې هم خوښ نه وي، ګیلې او شکایت کول د هر دویم کس عادت وي. په روښانه ورځ کې له ګرم لمر څخه ګیله او په سړې باراني ورځ کې له باران څخه ګیله خو بېخي عامه ده.

کله کله د نورو له پیاوړتیا او خپلې بېوسۍ څخه شکایت کول هم د ډېرو عادت وي. تاسې به داسې ډېر خلک لیدلي وي چې له سهارنۍ ورځپاڼې څخه د نړۍ د بدو پېښو خبرونه را ټولوي او ټوله ورځ د ډوډۍ خوړو پر مېز د کورنۍ له غړو سره، په دفتر کې له همکارانو سره او په سفر کې له ملګرو سره پرې تبصرې کوي، ځکه زموږ په ټولنه کې د چوپتیا پر ځای خبرې کول اړین بلل کېږي، ځکه نو هر یوه په بېځایه خبرو، ګیلو او شکایاتو خوله پرانیستې وي.

که پام وکړئ موږ په‌خپلو نورو ټولو کارونو کې له هوښیارۍ نه کار اخلو، پرته د ګیلو او شکایتونو په مسئله کې. که هر څومره ښه ممثل او د پوهې او ښه شخصیت خاوندان و اوسو هرومرو یوه تېروتنه را څخه کېږي. جالبه دا چې موږ ګیله هم که کوو، نو له اړوند ادارو یا مسوول شخص څخه یې نه کوو. مثلاً که موسم خراب وي، نو د خپل دفتر له رئیس څخه شکایتونه کوو، په داسې حال کې چې رئیس مو د هوا حالت خرابېدو کې هېڅ رول نه لري. د خپلو وظیفوي ستونزو شکایتونه له خپلې مېرمنې کوو، حال دا چې هغه خوارکۍ ټوله ورځ د کور له کارونو څخه یوه شېبه ارام نه لري.

که ماشومان مو نا اهله وي او درس نه وایي، نو ملامتي په ښوونکي اچوو او په کور کې یې بد یادوو. که چېرې مور د خپلو ماشومانو ښوونکي د درناوي وړ و نه ګڼو، زموږ ماشومان به ورته څه ډول درناوی وکړي؟ لنډه دا چې که په ګېډه مو درد شي، ملامتې به ګازرې وي.

که دا حال وي، نو دا عادت به ورځ تر بلې دومره پوخ شي چې له کوره مو سایکل هم غلا کېږي د ورکېدو راپور به یې د برېښنا ریاست کې ثبتوو او د برېښنا بیل به د پولیسو حوضه کې جمع کوو.

که پام مو کړی وي ګیلې او شکایتونه اکثره هغه خلک کوي چې بېوسه وي او پرته له ګیلو کولو یې هېڅ کار په وس کې نه وي. که چېرې یو انسان هېڅ اورېدونکی و نه لري، هغه له دېوال سره په خبرو کولو هم ښه احساس کوي. هسې هم نه د بېوسه انسان لاسونه د غاصب تر ګرېوانه رسېدای شي او نه یې غږ د حاکم د ماڼۍ له پنډو دېوالونو تېرېدای او تر غوږو یې رسېدای شي. ددې دواړو ناشونیو کارونو له منځه درېیمه لاره چې ګیلې او شکایت کول دي غوره کوي او په دې ډول خپله غوسه او خپګان کموي. له دې پرته ګیلې کول هېڅ کومه ګټه دوی ته نه رسوي، بلکې د دوی بېوسي هغه وخت له منځه تلای شي چې دوی هر څه د الله له لوري وګڼي او په دې پوره باور وکړي چې تر څو الله تعالی اراده نه وي کړې د دوی حال به بدل نه شي.

«د بېوسه او بېچاره انسان سجده د هغه لپاره غوره علاج دی» (واصف علي واصف)

وايي، یو ځل شیخ سعدي‌رح په ځنګل کې پښې یېلې روان و، په زړه کې یې تېر شول چې دا زما رب نو په کوم لحاظ پر ما مهربان دی؟ زه یې عابد بنده یم او زه یېلې پښې ګرځم، چې لږ مخکې لاړه، ګوري یو سړی ناست

دی او د الله تعالی ذکر کوي په داسې حال کې چې په دواړو پښو معذور دی، سمدستي یې توبه ووېسته او پخپل حال یې د متعال رب شکر اداء کړ، څکه نو وایي، پرهېزگاره بنده‌گان د گیلې پر ځای شکر اداء کوي.

په اصل کې گیلې کول د ناپوهۍ نښې دي. د ملگرو په بېوفایۍ گیله کوونکي دې پخپلې ناپوهۍ خپگان وکړي چې له یوه بېوفا انسان سره یې ملگرتیا کړې وه.

د ژوند ښکلي کولو لپاره په زړه‌پورې اصول جوړ کړئ، هغه شیان او پېښې چې بدلون یې ستاسې په اختیار کې نه دی، له هغو شکایت کول پرېږدئ او کومې بدې پېښې چې تاسې یې د بدلون یا مخنیوي توان لرئ ددې پر ځای چې گیله وکړئ لاس په کار شئ او مخه یې ونیسئ. که اسمان ځمکې ته را لوېږي تاسې یې مخه نشئ نیولی، مگر که د خونې چت مو را پرېوځي، تاسې په منډه بهر وتلی او خپل ځان ژغورلی شئ.

د کومو پېښو، د کومو خلکو، د کومو پایلو او د کومو حالاتو بدلون چې تاسې له زړه غواړئ د هغو له لپاره د زړه له کومې دعا وکړئ. د خپل نظر زوایه پراخه او یا بېخي بدله کړئ. په گیلو کولو ژوند نه بدلېږي. د ناپوهه انسانانو غصه تل د همدوی په زیان تمامېږي. که افکار مثبت وي، د شپې تیارې، د ناروغۍ ورځې، کړکېچن حالات او د ژوند ډول ډول ستونزې هم له پامه غورځول کېدای شي، څکه نو زه هم له تاسې گیله لرم!

چې تاسې تل له خدایه شکایت کوئ چې له گلانو سره یې اغزي ولې یو ځای خلق کړي؟ په داسې حال کې چې تاسې باید شکر وباسئ چې متعال رب له اغزو سره ښایسته گلونه هم را ټوکولي دي.

# مخکې له دې چې...

ځینې وخت پر انسان احساسات دومره غالب شي چې د خپلو احساساتو د بیان لپاره یې ژبه ملتیا نه ورسره کوي. په داسې حالت کې همدا اوښکې دي چې د زړه حال بیانوي. کله چې مور غواړو د ژبې له لارې مو د زړه حال بیان کړو، بې اختیاره مو له سترګو د اوښکو چینې وبهیږي او زموږ رښتینولي ثابته کړي.

نن چې کله عمران زما دفتر ته راغی، د هغه همداسې حالت و. د خواخوږۍ لپاره یې ما پر اوږه لاس کېښود او ترې ومې پوښتل، خیر خو دی؟ هغه خو راته څه ونشوای ویلی، مګر د هغه له څوړند سر لاندې پرتو ورځپاڼو -چې د ده په اوښکو لندې شوې وې- راته وویل، اوس ددې پوښتنې وخت نه دی، لومړی یې پرېږده چې لږ ارام شي بیا به ترې پوښتنې وکړې.

له لږ ځنډ وروسته یې خپله وویل، شاه صیب دا درې ورځې مې مور ډېره یادېږي. نن یې د مړینې درېیم کال پوره کېدونکی دی، مګر له هغې د بېلتون درد ورځ تر بلې زیاتېږي. کله چې یې قبر ته ورځم یو ډول عجیب د پښېمانۍ احساس را سره مل وي او ځوروي مې چې کله ژوندۍ وه یوه خبره دې یې هم نه منله، اوس یې پر قبر د ګلونو ګېډۍ اېښودل څه ګټه لري؟!

عمران زما پخوانی ملګری دی، څکه نو زه له اوله پوهېدم چې د مور د

مېرینې یې درې کاله کېږي. مخکې هم عمران د هغې کیسې راته کولې، مگر نن یې په خبرو کې لکه د اور غورځوونکي غره ډېر زور او شور و. ما یې مخې ته د گرمو چایو پیاله کېښوده، هغه وویل: مور به مې ویل، زویه! له کله چې ته لوی شوی یې، پخپلو درسونو او کارونو کې دومره بوخت شوی یې چې په ټوله ورځ کې دوه ساعته هم خپله څېره نه را ښیې، له تا زه نور څه توقع نه لرم، خو بس دا یوه هیله مې پوره کړه چې په 24 ساعتونو کې یوازې دوه ساعته له ما سره کېنه.

زه په هغو وختونو کې ډېر زیات بوخت وم، ما به هره ورځ په دې فکر کاوه چې سر له سبا به مې کارونه منظم کړم او د مور لپاره به مې وخت وباسم. هغه ورځ خو رانغله، مگر مور مې له دې نړۍ څخه د تل لپاره لاړله.

دا یې وویل او د عمران له سترگو بیا د اوښکو چینې په څپو شوې. د چایو پیاله یې پر مېز کېښوده او ویې ویل: شاه صیب عجیبه خو داده چې زه د مور د مړینې پر مهال د 31 کالو وم، مگر یوه شپه هم داسې رانغله چې زما له کور ته را ستنېدو مخکې دې هغه ویده شوې وي. نن زه پوه شوم چې د متعال رب لخوا تر ټولو ارزښتناکه او قیمتي ډالۍ چې موږ ته را کړل شوې هغه مور ده. موږ که هر څومره لوی شو، خو د مور لپاره تل کوچني ماشومان پاتې کېږو.

یوه ورځ یې موږ ټولو خویندو او ورونو ته وویل، ما پر تاسې سربېره ستاسې پلار هم پاللی دی. هغه ډېر زیات بې پروا انسان و. همدا زه وم چې د هغه ټولو اړتیاوو او غوښتنو ته مې پام کاوه. ویل یې، زویه! ما ستاسې لپاره خپل مور و پلار او کورنۍ پرېښودل او ټول ژوند مې ستاسې

په روزنه او خدمت کې تېر کړ، خو خدای پوهېږي چې تاسې ته به ددې خبرې احساس هم کله وشي او که نه.

په هر حال! عمران د خپل زړه غوټه وسپړله او له دفتره ووت او زه یې د احساس او تخیل یوې نوې نړۍ ته یووړلم.

ما ته یې هغه واقعه را یاده کړه چې یو صحابي^رض^ له نبي کریم^ص^ څخه پوښتنه کوي، پر ما د چا حق ډېر دی؟ نبي^ع^ ورته وایي، ستا د مور! بیا یې پوښتنه وکړه، پر ما د چا حق ډېر دی؟ بیا یې په ځواب کې وویل، ستا د مور، درېیم ځل یې هم ځواب همدا و، په څلورم ځل وایي ستا د پلار حق ډېر دی. یعنې په یوه انسان د مور حق له پلار څخه درې چنده زیات دی.

تاریخ گواه دی چې د نړۍ تر ټولو لوی انسان هم د بریالیتوب او عظمت سفر د مور له غېږې پیل کړی. رسول الله^ص^ د مور او پلار خدمت له جهاد څخه غوره عمل بللی. ویل کېږي، د اولادونو د پرمختگ او بریالیتوب تر شا د هغوی د مور و پلار روزنه او هڅې دي. د اولادونو بریالیتوب په اصل کې د مور و پلار بریالیتوب ثابتوي.

په زړه پورې خو دا ده چې کله الله تعالی له خپلو بنده‌گانو سره د مینې اظهار کوي، نو فرمایي، زه له تاسې سره له اویا مېندو څخه زیاته مینه کوم، یعنې د مینې د لفظ شدت د مور له عاطفې سره په پرتله کولو بیان شوی. نبي کریم^ص^ فرمایي، د مور تر پښو لاندې جنت دی.

زه په همدې فکرونو کې ورک وم چې د ټلیفون زنگ مې د خیالونو لړۍ پرې کړه. ټلیفون مې اوکې کړ، غوږ ته مې ونیوه د عمران له درده ډک غږ مې تر غوږ شو، ویل یې، شاه صیب تاسې خو ډېرو زده‌کوونکو ته د

ژوند درس ورکوئ، هغوی ته ووایه! همدا نن مو د جنت ټیکټ تر لاسه کړئ، مخکې له دې چې ناوخته شي او د مور د خدمت موقع له لاسه ورکړئ د خپلو مېندو خدمت ته ملا وتړئ او د پښېمانی له تریخ احساس څخه ځان وژغورئ.

د عمران غږ غرېو ونیوه او له دې ډېر یې څه ونشوای ویلی او له دې سره زما مخې ته پرته ورځپاڼه یو ځل بیا لنده شوه.

# په مور احسان کوونکی

ته ولې دا هېروې چې هغه شخص خو به تل ته پخپلو اوږو ګرځولې، ستا هر فرمایش یې پوره کاوه. په مزدورۍ او سختیو ګټلو پیسو باندې یې درته د لوبو توکي راوړل. ستا د ناپوهۍ دور و او هغه په پوره اخلاص سره خپله پوهه او توجه پر تا مصرفوله. د خپلې ځوانۍ خواږه وختونه او ملګري یې ستا د پالنې لپاره پرې ایښي ول. ستا د ښوونځي د فیس اداء کولو لپاره به یې له خپلوانو او ملګرو پور اخیست او کله به یې بیا ستا د درملنې لپاره له خپل رئیس څخه له وخته مخکې د معاش غوښتنه کوله.

تا خپله راته ویلي ول، ستا د زېږېدو په خوښۍ کې یې پوره 40 کیلو میټایي (خواږه) په خپلوانو او ګاونډیانو وېشلي ول او کله چې تا په لومړي ځل ورته د پلار یا بابا غږ کړی و په هغه ورځ یې لکه لېونی هر چاته کیسه کړې وه چې زوی مې راته پلار وویل.

د خپل حیثیت مطابق یې درته خوراک او پوښاک برابراوه، که څه هم خپله به په نهره ګرځېده او کال پس به یې هم نوې جامې نه په ځان کولې. ته هغه وخت پوهېدې چې هغه به څه ستونزه لرله؟ او له څه شي ځورېده؟ ځواب دې نه دی کنه؟ ځکه چې هغه به له تا سره تل په موسکا او ورین تندي مخامخېده.

په نه زړه مې دا خبرې فهیم صیب ته کولې، ځکه زه پوهېدم چې زما خبرو ته هېڅ ارزښت نه ورکوي. هغه زما ټولې خبرې په ډېرې بې پروایۍ

اورېدې، کله به يې پر مېز پروت د لندو کاغذونو ډبی تاواوه او کله به يې د موبایل پیغامونه چېک کول، مګر ما دا خپل مسوولیت ګاڼه چې دا هر څه ورته ووایم.

د فهیم صیب ماشومان زما زده‌کوونکي دي، ځکه نو فهیم صیب تل د خپل زړه حال له ماسره کوي. فهیم صیب یو لوستی او تحصیل یافته شخص دی، نن- سبا د یوه شخصي شرکت مالک دی، مګر نن د هغه د خبرو په اورېدو مې ډېر تعجب وکړ چې دومره لوستی او د لوړ منصب خاوند او داسې نظریات...

دده په وینا پلار يې لېونی شوی، ځکه کله پرې غوسه کېږي او کله ورته نصیحتونه کوي. کله يې چې په ځواب کې ما وویل: «په دې کې نو ستونزه څه ده؟ هغه خو ستا پلار دی کنه!» فهیم صیب په لوړ غږ را غبرګه کړه، ستونزه څنګه نشته! زه اوس د مېرمنې او بچیو خاوند یم، څه ماشوم خو نه یم چې هره شېبه مې د مېرمنې او بچیو پر وړاندې سپکوي، زه د یوې لویې کمپنۍ مالک یم، آیا زه دومره کم سړی یم؟

ما ورته وویل: فهیم صیب! سمه ده چې ته د خپلو ماشومانو پلار يې، مګر هغه هم ستا پلار دی او د پلار نصیحت او غوسه خو په اولاد په هېڅ عمر کې بده نه لګېږي، خو زما هېڅ کومې خبرې پرې اغېز نه درلود. د فهیم صیب په ذهن کې د لوړو زده‌کړو او موقف غرور او له پلار څخه کرکې ځای نیولی و.

د فهیم صیب له تللو نه وروسته ما د یوه سوال ځواب پیدا کړ کوم چې به فهیم صیب تل له ما نه پوښتلو چې شاه صیب زما بچي ډېر بې ادبه او بې

لارې دي، ددې لامل به څه وي؟ نن راته روښانه شوه چې لامل یې څه و، کله چې فهیم صیب پخپله د خپلو والدینو درناوی نه کوي، نو دده اولادونه به څه ډول دده درناوی وکړي.

انسان فطرتاً ډېر عجیب دی، کله چې کوم شی ورسره موجود وي په ارزښت یې نه پوهېږي او په وړاندې یې بې پروا وي او کله چې ترې واخیستل شي بیا نو فریاد او ماتم پیل کړي. څومره به ښه وای چې د کوم څه په له لاسه ورکولو سبا ماتم کوو نن یې په ارزښت پوه شو او قدر یې وکړو.

په دې پوه شئ چې د نړۍ هېڅ انسان هېڅ کوم مقام ته نشي رسېدای تر کله چې له هغه نه مور و پلار راضي نه وي. که والدین کم‌عقله او کم علمه هم وي بیا یې هم مرتبه ډېره لوړه ده. والدین د انسان تر ټولو لویه سرمایه ده، که څوک یې په قدر نه پوهېږي یو وار دې له کوره بهر ووځي او له هغو خلکو دې پوښتنه وکړي چې ددې سترې هستۍ له سیوري څخه محروم دي. چا چې د مور د غېږې سکون نه دی تجربه کړی او چا چې د پلار شفقت نه دی لیدلی. وبه ګورئ چې د خپل محرومیت څومره خپګان او افسوس کوي او د نړۍ دولت او خوښۍ هم نشي کولی چې د دوی دا کمی پوره کړي، ځکه د چا له برکته چې دوی دې مقام او بریالیتوب ته رسېدلي، اوس هغوی ورسره نشته چې خپلې خوښۍ ورسره شریکې کړي.

مور و پلار که خپله په بې‌علمۍ او ناپوهۍ کې ژوند تېروي، خو د خپلو اولادونو لپاره د علم او زده‌کړې تر لاسه کولو فرصت برابروي، نو په اولاد هم واجبه ده چې د خپلو والدینو درناوی وکړي، د هغه چا به د حشر په

ورځ څه حال وي چې د چا نه والدین راضي نه وي!

ستاسې مور و پلار ستاسې او ستاسې د شتمنیو مالکان دي، له خپلو مالکانو سره چې تاسې څومره په احترام چلند کوئ باید له هغې څو چنده ښه چلند له خپل مور و پلار سره وکړئ.

د دوی درناوی پر تاسې فرض دی او باید له زړه یې وکړئ او د دوی خدمت وکړئ، ځکه ستاسې په حق کې د دوی دعا ستاسې تقدیر بدلوي.

سمه ده چې د ډېری خلکو والدین نالوستي وي او پوهنتونونه یې نه وي لوستي، مګر باور وکړئ د دوی تجربه له کوم پوهنتون لوستي څخه کمه نه ده. د دوی خبرې هم له قیمتي مرغلرو څخه ډېرې ارزښتناکې وي، خو ستونزه دا وي چې موږ جوهر پېژندونکي نه یو.

زوړتوب خو د شعوري پوخوالي نوم دی. کله چې څوک زړېږي د هغه عقل ځوانېږي، مګر موږ یوازې هغو ته د زوړ او بوډا فکر کوو او زړښت یوه ناروغي ګڼو. په داسې حال کې چې باید د هغو له پوهې او تجربو څخه استفاده وکړو او خپلې لاسته‌راوړنې چې د هغوی د خواریو مېوه ده، ورسره شریکه کړو.

څوک نه غواړي چې د هغه اولادونه دې د هغه عزت او درناوی وکړي؟ طبعاً هر مور و پلار یې غواړي، نو یوازې په غوښتلو خو نه کېږي، تاسې یې له ځانه پیل کړئ، د خپلو والدینو عزت او درناوی کول پیل کړئ چې ستاسې اولادونه ستاسې په لیدلو ستاسې درناوی کول پیل کړي.

زما د زوی نوم محسن دی، زه مې تل خپلې مېرمنې ته وایم چې دده په

روزنه کې ډېر پام وکړي، د خپلو او زما د والدینو ډېر عزت وکړي او د محسن تر مخه دې له خپلو او زما والدینو سره ډېر په مهربانۍ چلند وکړي چې زموږ اولاد هم سبا ورځ له موږ سره ښه چلند وکړي، ځکه زه نه غواړم چې سبا ورځ د فهیم صیب په څېر له ملګرو سره کېنم، پلار ته مې لېونی ووایم او اولادونه مې بې ادبه وبولم.

زه له اکاډمیکې او روزنیزې برخې سره تړلی انسان یم، ځکه نو زما ملګرتیا هم تر ډېره له استادانو سره ده کوم چې په بېلابېلو تعلیمي مراکزو کې د تدریس چارې پر مخ وړي. څو ورځې وړاندې د دوډۍ خوړلو لپاره را ټول شوي وو، وروسته له ډوډۍ د خبرو او مجلس موقع برابره شوه، خبره په استاد راغله، د ډېرو رایه دا وه چې استاد په ټولنه کې هېڅ عزت نه لري. نه یې زده‌کوونکي ورته په درنه سترګه ګوري او نه یې د زده‌کوونکو والدین. هېڅوک د استاد خبرو ته ارزښت نه ورکوي. د ټولو له نظریاتو اورېدلو وروسته ما له دې ټولو نظریاتو سره بشپړ مخالفت وښود، ځکه چې زما له تدریس سره تړلي عقاید ډېر کلک دي، ځکه چې زه دې مرتبې ته له 10 کاله مسلسلو خواریو او سخت زیار اېستلو وروسته رسېدلی یم، خو دا چې نننۍ ټولنه کې استاد ته درناوی ولې نه کېږي ددې پوښتنې د ځوابولو لپاره باید موږ د ماضي د کتاب پاڼې واړوو او هغه دوره په زړه کړو چې پاچاهانو او شهزادګانو به د استاد جونګړې ته ورتګ ویاړ ګاڼه. د استاد خدمت کول به یې ارمان و. د استاد توجه به یې چې ځان ته واړوله دومره به خوښ ول لکه برخلیک یې چې بدل شوی وي. استادان هېڅکله د شاهانو د در ملنګان نه ول، بلکې د دربار شان ګڼل کېدل.

«پرون استاد سلطان و او نن استاد مزدور دی» (ډاکټر سید عبدالله)

دا ټولې زموږ د ماضي خبرې دي کومې چې د تاریخ په زرینو پاڼو کې لیکل شوې. نن که د استاد درناوی نه کېږي، زده‌کوونکي هم له علم و پوهې څخه محروم دي، د ماضي او حال تر منځ دومره ستر توپیر علامه اقبال په دې بیت کې بیان کړی.

د بیت مفهوم:

(شکایت لرمه خدایه د علم او کتابت له خاوندانو څخه، ځکه شاهانو ته د ملګانو درس ورکوي).

په پخوا زمانه کې مسلک د فطرت مطابق ټاکل کېده، استاد به فطرتاً معلم و، خو نن ورځ استاد د خپلې ګېډې مړولو لپاره دا مسلک غوره کړی، سهار په ښوونځي او پوهنتون او ماښام شخصي کلاسونو کې تدریس کوي. پخوا به استاد دومره په اخلاص او بې مقصده تدریس کاوه چې د تدریس طریقې سره به یې پخپلو زده کوونکو کې د نظر لوړ ساتلو، غوره اخلاقو لرلو، اوږد او لرې فکر کولو او د سخت کار کولو هنرونه پیدا کول. د نن استادان د لوړو فیسونو په اخېستلو سره د زده‌کوونکو په وجود کې د ټیټ فکر لرلو، د لنډ فکره اوسېدو، ارام طلبۍ، ټنبلۍ او بې ایمانۍ ماده پیدا کوي او بیا ګیلې کوي چې زده‌کوونکي زموږ درناوی نه کوي.

لمر چې را وخېژي، د شپې تیارې پخپله ورکېږي، ګلانو ته د خوشبویۍ ورکولو لپاره تر ننه کوم ګرداب غوښتلو ته اړتیا پېښه نشوه، د ډیوې په شاوخوا کې پتنګان ډېر را ټولېږي، مګر هوا خپله لاره هرومرو پیدا کوي. او اوبه د لوړو غرنیو څوکو څخه په بهېدلو سره للمې او وچې شګلنې

ځمکي خړوبوي، د همدې فطري قاعدو په څېر د يو حقيقي استاد (Real Teacher) هم سلګونه او زرګونه داسې زده‌کوونکي وي کوم چې د استاد په شاګردۍ د وياړ احساس کوي.

دا يو څرګند حقيقت دی چې انسان د هغه شخص خبره په اسانۍ او ژر مني له کوم چا نه چې هغه متاثره وي. تاسې ته د هغه چا خبره مستنده وي کوم څوک چې خپله ستاسې لپاره سند وي. رښتيا هغه دي چې د رښتيني انسان له ژبې ويل کېږي او پوهه د پوه انسان په تابعدارۍ او درناوي سره تر لاسه کېږي، مګر که استاد خپله پوه او رښتينی نه وي، نو د زده‌کوونکي څه ګناه ده؟ داسې ويل چې شاګرد اهل نه دی، دا په اصل کې د استاد په نا اهلۍ دلالت کوي، له دې معلومېږي چې مسووليت په ښه شکل نه دی تر سره شوی.

څنګه امکان لري چې د استاد شخصيت او د بيان طريقه دې متاثره کوونکې وي او پر زده‌کوونکي دې اغېز ونکړي؟ که استاد د ملي عقايدو ساتونکی، د ملي روحيې پالونکی، د اسلامي ثقافت تطبيقوونکی او ايمان ته تقويت بخښونکی وي، د زده کوونکي تقدير هم بدلولی شي.

د نيت ښکلا د استاد حقيقي ښکلا ده. د رسول اکرم^ص حديث دی: «زه د معلم په حيث را لېږل شوی يم»، ځکه خو تدريس ته پيغمبري مسلک هم ويل کېږي.

د زده کوونکو پر سيرت او چلند تر ټولو ډېر اغېز د استاد وي. که يو استاد په نېک نيت سره خپلو زده کوونکو ته تدريس وکړي، د الله تعالی پر وړاندې يې اجر ډېر زيات دی. قرآن‌کريم کې راغلي «الله تعالی د

مؤمنانو اجر نه ضایع کوي».

که استاد د الله تعالی پر وجود ایمان ولري، پخپلو زده‌کوونکو کې هم ایمان پیدا کوي. حقیقي استاد د یو ډېر جاذبه لرونکي مقناطیس په څېر وي چې د اوسپنې زنګ لرونکي ذرات هم ځانته را کاږي.

زما د مشاهدې مطابق نا اهله استاد خپله د کوم نا اهله استاد شاګرد پاتې شوی وي، ځکه دا امکان نه لري چې کوم زده‌کوونکي ته دې له غوره او حقیقي استاد څخه د زده‌کړې فرصت برابر شي او هغه استاد دې دده برخلیک بدل نشي کړای.

په عمومي توګه د یوه زده‌کوونکي په وجود کې موجود ډېری صفات د هغه د استاد د شخصیت انځورګري کوي، ځکه هر انسان په فطري ډول د نورو انسانانو د چلند او حرکاتو تقلید کوي، په ځانګړې توګه له هغو ډېر تقلید کوي چې ترې متاثره وي.

له محمد اقبال څخه هم په علامه محمد اقبال رح جوړېدو کې د هغه د استاد مولوي میر حسن لاس و. علامه اقبال به یې ټول عمر ډېر احترام کاوه. یوه ورځ علامه اقبال له ملګرو سره په بازار کې روان و او ټوکې یې سره کولې چې ناڅاپه یې پخپل استاد مولوي میر حسن سترګې ولګېدې، سمدستي یې د استاد پر لور ور منډه کړه، له ډېرې بیړې او وارخطایۍ یې له یوې پښې بوټ ووت، مګر تم نه شو چې خپل بوټ په پښو کړي تر څو یې استاد په تمه پاتې نشي او بې احترامي یې ونشي. په همدې حالت کې یې خپل استاد تر کوره ورساوه، چې کله بېرته راغی نو بوټ یې په پښو کړ.

استاد په یو وخت کې باید د زده‌کوونکو خواخوږی، روانپوه، مخلص او سوله‌خوښوونکی و اوسي، هغه وخت به د روحاني پلار حیثیت خپل کړي او د زده‌کوونکو لپاره به د درناوي وړ شي.

کوم استاد چې خپله له هېواد سره مینه و نه لري، هغه خپلو زده‌کوونکو ته هېوادنۍ مینه نشي ور زده کولی.

د چا چې خپل اخلاق لوړ نه وي، هغه به نورو ته څه ډول د ښو اخلاقو او ښه چلند کولو درس ورکړي.

څوک چې زده‌کوونکو ته په زړه کې کینه ساتي او ترې د انتقام اخیستو په فکر کې وي، هغه دې د عفوې او بخښنې خبرې نه کوي.

د چا چې په وینا او عمل کې تضاد موجود وي، هغه دې د نېک نیتۍ خبره نه کوي.

د چا له ژبې چې د زده‌کوونکي د ستاینې لپاره دوه جملې نه وي را وتلې، هغه به نیوکه او اصلاح څه ډول کوي؟

او په چا کې چې خپله کوم جوهر نه وي، هغه به د نورو په وجود کې پټ جوهر او وړتیا څنګه وپېژني؟

کله چې استاد خپله د ځان لپاره د درناوي او ارزښت غوښتونکی شي، دا هم د استاد په نالایقتوب او نا اهلۍ دلالت کوي، ځکه چې حقیقي وړتیا او ښه صفات د ستاینې محتاجه نه وي.

د کوم استاد نیمګړتیاوې او کمزورۍ چې د زده‌کوونکو پر وړاندې څرګندې وي، هغه استاد هېڅکله هم د خپلو زده‌کوونکو په ذهن کې

ځانته ښه تصویر نشي جوړولی.

له نېکه مرغه ما ته خدای ډېر تکړه او مخلص استادان را کړي، زه مې خپلې ټولې بریاوې د هغوی په نوم کوم او تل به یې ښه یادوم.

د علامه اقبال دا بیت له اوسني حالت سره ډېر سمون لري.

د بیت مفهوم دی:

«مرئ یې درته خپه کړه، د مدرسې اهل، له کوم لوري به راشي غږ د لاَ اِلَهَ اِلاَّ الله».

# د صبر مېوه خوږه وي

انسان فطرتاً ډېر بې صبره دی. هر ماشوم بېړه لري چې ژر لوی شي، خو کله چې لوی شي او پر خپلو اوږو د مسوولیتونو دروندوالی حس کړي، بیا بېرته د ماشومتوب ارمان کوي او وايي، کاش هېڅکله نه وای لوی شوی. وخت باید ډېر زیات مزل وکړي او تر منزله فاصلې لنډې کړي او موږ باید په صبر سره ورته په تمه پاتې شو.

هر ماشوم له زیار اېستلو پرته ځوانۍ ته رسېږي او هر ځوان له زحمت پرته زړېږي. وخت د هېچا لپاره نه درېږي او تاسې ددې پر ځای چې د هغه د درولو هڅه وکړئ باید ورسره په منډو شئ.

د ځوانۍ مرحله ډېره ارزښتناکه مرحله وي، هر ځوان له بې کچې انرژۍ او جذبې څخه برخمن وي. یوازې د سم مسیر ټاکلو او زیار اېستلو اړتیا وي. د اورګاډي دوه پټلۍ چې کله په کوم تم‌ځای کې جلا کېږي په لومړیو کې ډېر نژدې برېښي، خو له څو ساعتو وروسته معلومېږي چې د دواړو منزلونه جلا جلا دي. که د اورګاډي کوم مسافر منزل ته د ژر رسېدو بېړه ولري او له روان اورګاډي څخه ښکته شي، نو یقیناً د منزل پر ځای به روغتون ته ورسېږي، ځکه نو داسې ډېر لږ لیدل شوي چې بېړه کوونکي انسان دې زیان نه وي لیدلي او صابر انسان دې نه وي بریالی شوی.

وايي، کوم مرید د *اسم اعظم د تر لاسه کولو ضد وکړ، هغه د خپل پیر

خوا ته ولاړ، پیر ورته وویل، سبا راشه! کله چې مرید په دویمه ورځ بیا راغی، پیر بیا هم د سبا د راتلو ورته وویل. دې کیسې څو ورځې دوام وکړ. بالاخره مرید په ژړا شو، د مرید حالت ته په کتو د پیر په زړه کې هم رحم راغی او ورته ویې ویل، که زما یو کار وکړې، نو اسم اعظم ستا شو. مرید سمدستي موافقه وښوده او پیر د لرګي یو کوچنی صندوق د مرید په لاس کې ورکړ او ورته ویې ویل، دا صندوق په هېڅ صورت خلاص نکړې! په دې کې د چا امانت دی او په فلانۍ سیمه کې یو غر دی چې یوه لویه سمڅه لري، په هغې کې یو درویزګر اوسېږي چې زما ملګری دی، ته به دا امانت هغه ته سپارې.

مرید صندوق واخیست او په بیړه روان شو، په لاره کې یې په زړه کې ور وګرځېدل چې په دې صندوق کې به څه وي، یو ځل خو یې لیدل پکار دي، خو بیا یې د پیر خبره ور په زړه شوه چې هغه ورته ویلي ول، دا به نه خلاصوې، نو د صندوق له پرانیستلو تېر شو، خو شېبه په شېبه یې تجسس زیاتېده او له ځان سره یې ویل، ددې صندوق په پرانیستلو کې نو تاوان څه دی؟ په پای کې یې خوښه په دې راغله چې صندوق یو ځل پرانیزي او وګوري چې په منځ کې یې څه دي او همداسې یې وکړل. ګوري چې یو کوچنی موږک پکې بند کړای شوی چې د سترګو په رپ کې له صندوقه ووت او ورک شو.

مرید له خالي صندوق سره یو ځای حیران پاتې شو. اندېښنه یې بېخي ډېره شوه چې زه به دا خالي صندوق څنګه چاته یوسم اخر د پښېمانۍ او شرمنده‌ګۍ له احساس سره بېرته د پیر خوا ته ور ستون شو او ورته ویې ویل، پیر صیب! ما وبخښه! له ما په امانت کې خیانت وشو. پیر ورته

وویل، ته خو ډېر زیات بې صبره انسان یې، تا یو موړک تر ټاکلي ځایه سمبال نکړای شو، نو اسمِ اعظم به څه ډول وساتې!

د لویې بریا تر لاسه کولو لپاره تر هر څه ډېر اړین که کوم څه وي، هغه وخت دی او همدا د بریالیتوب قیمت دی چې څوک یې ورکولو ته تیار نه دي.

د یوه ډېر شتمن سړي یو بڼ خوښ شو، سمدستي یې د بڼ بڼوال، چا چې دومره ښکلی بڼ جوړ کړی و را وغوښته او ورته یې امر وکړ چې هر څومره پیسې پکارېږي واخله او همدا سبا زما د ماڼۍ تر څنګ بالکل همداسې بڼ جوړ کړه.

بڼوال په جرئت سره وویل، داسې بڼ جوړول پیسې نه، بلکې وخت غواړي. ما خپل ټول عمر ددې بڼ په نوم کړ، نو هله دا بڼ په ګلزار بدل شو او تاسې وایئ چې همدا سبا دې ستاسې د ماڼۍ زینت شي؟!

بالکل په همدې شکل ژوند د بڼ په څېر ښکلي کولو لپاره یو عمر په کار دی، داسې کله امکان لري چې نن زړي وکرل شي او سبا یې مېوه تر لاسه شي، نو همدا د زړي کرلو او د مېوې حاصلولو تر منځ چې کوم واټن دی دا د بریا قیمت باله شي.

ماښام مهال لمر لوېږي، تاسې به د یو بل سهار لیدو لپاره ټوله شپه په تمه پاتې کېږئ. په شپه کې چې د روښنایۍ له هر څومره ډېرو مصنوعي سرچینو څخه ګټه واخلئ بیا هم د لمر بدیل نشي موندل کېدای. د قدرت هره پېښه پخپل ټاکلي وخت ظهور کوي، هېڅ یوه بریا له خپل ټاکلي وخت څخه مخکې نه تر لاسه کېږي. له رب تعالی سره نه د ثانیو سیستم

دی، نه د دقیقو، بلکې هغه خپله جلا ګړۍ لري چې کله ستاسې د ګړۍ ټولې ستنې پر یوه ځای ودرېدې، ستاسې د انتظار وخت پای ته رسېږي او تر هغه وخته باید د صبر لمنه ټینګه ونیسئ.

تاسې په هغو چارو کې اندېښمن شئ چې ستاسې په کنټرول کې دي، هغه چارې چې ستاسې د لاسرسي او تصرف څخه لرې دي د اندېښنې پر ځای یې الله ته وسپارئ او صبر وکړئ.

پر بریالیتوب د ترسره شویو څېړنو مطابق عموماً یو شخص یا یوه اداره له 15 څخه تر 20 کالو پرله‌پسې زیار او هڅو بریالۍ کېږي. اډیسن ډېر کلونه د یوه ګروپ په جوړولو او روښانولو تېر کړل. د پولیو واکسین جوړولو ۲۵ کاله وخت ونیوه. امریکا له کلونو هڅو او د یوې لویې برخې پانګې په لګښت سره وکولای شوای سپوږمۍ ته سفر وکړي او هلته خپل بیرغ ورپوي. د الله تعالی نبي حضرت محمد مصطفی 23 کاله اسلام ته د خلکو د دعوت او د اسلام د خپرولو لپاره سختۍ او تکلیفونه وګالل. تاسې فکر وکړئ که چېرې دا ټول لوی کارونه دغو لویو ستونزو ته په کتو نیمګړي پرېښودل شوي وای، اوس به دا نړۍ داسې وه؟ آیا بشر به پرمختګ او لاسته‌راوړنه درلوده؟ ځکه نو وایو چې پرته له ممکنه هڅو او صبر ستاسې بریالي کېدل ناشوني دي.

که ستاسې نیت د نېکۍ وي، ستاسې د بریالیتوب ګټه به هم تاسې ته رسېږي او هم نورو ته، که چېرې تاسې زیار اېستلو ته چمتو یاست او که تاسې ډاډه یاست چې سم لورې مو ټاکلی او که تاسې واقعاً غواړئ چې بریالي شئ، نو صبر کول هرومرو خپل عادت وګرځوئ، ان شاءالله چې بریالیتوب به هرومرو ستاسې قدمونه ښکلوي.

صبر د همت پایله ده، نه چې له جسماني قوت څخه د شکایت نه کول دې صبر ونومول شي. سره له دې چې ستونزې لرئ، خو په اړه یې چاته نه وایئ، دا نه ویل هم صبر بلل کیږي. په نړۍ کې به هېڅ داسې عالم نه وي چې له احمقانو سره دې یې ژوند وي او ورسره دې په صبر گوزاره نه وي کړي. پوهه او معرفت وایي همدې ته چې له احمقانو سره هم وخت تېر کړای شې.

بیړه کوونکي او عجول انسانان تل پړمخې لوېږي. رب تعالی د ټولو مخلوقاتو د روزۍ بندوبست کړی دی، نو ولې دومره بیړه او بې صبري؟

څکه خو ویل کیږي، صبر کول ظاهراً تکلیف او سخت ښکاري، خو مېوه یې ډېره خوږه وي.

د شاعر د بیت مفهوم دی:

«د صبر مېوه خوږه وي او د بې صبرۍ مېوه ترخه وي، منزل ته هغه نشي رسېدلی څوک چې له وخت څخه مخکې رسېدل غواړي».

# ستاسې لپاره یو اړین نصیحت

هره خبره، هر قول، هر فرمان او هره نظریه ډېره قیمتي وي، خو ستاسې لپاره هغه نصیحت تر ټولو قیمتي دی چې ستاسې په ذهن کې ځای ونیسي او پر تاسې داسې اغېز وکړي چې تاسې د هغه په عملي کولو مجبور شئ.

په نړۍ کې له هر څه نه ډېر کېدونکی او اسان کار نصیحت دی او تر ټولو سخت کار پر نصیحت عمل دی. نصیحت په هر ځای کې له هر چا څخه په وړیا توګه تر لاسه کېږي. کوم ښه نصیحتونه چې خلک نورو ته کوي که په همدې نصیحتونو خپله عمل وکړي، نړۍ به څومره ښکلې او د ژوند کولو غوره ځای شي. څرنګه چې هر شخص د نصیحت کولو عادي دی داسې به د نصیحت اورېدو او پرې د عمل کولو عادي ول. له ماشومتوب څخه موږ ته دا نصیحتونه کېږي چې په محنت او خوارۍ کې عظمت دی، ایمانداري ډېره ضروري ده، د لمانځه ګټې ډېرې دي، درواغ ویل بد کار دی او داسې نور... دا دومره اوږده موده د نصیحتونو اورېدو پایله دا شوه چې موږ ټولو ته معلومات وشول چې په خوارۍ او زحمت کې عظمت شته، خو پوښتنه دا ده چې نن څومره خلک زحمت‌کښه دي؟ نړۍ خو له ټنبلو او جاهلو انسانانو څخه ډکه ده.

د ایماندارۍ او صداقت ډېرې زیاتې ګټې موږ ته معلومې دي، خو د ایماندارۍ لاره خپلول راته ډېر سخت ښکاري.

ټولو ته معلومه ده چې لمونځ فرض دی او ډېرې گټې هم لري، په قرآن کې هم هر ځای د لمانځه په کولو تاکید شوی، د لمانځه په اړه پر دومره ډېرو خبرو له پوهېدو سره سره ټول خلک د لمانځه د اداء کولو پابند نه دي.

درواغ ویل ډېر بد کار دی، په دې ټول پوهېږي چې د یو ځل درواغ ویلو د پټولو لپاره انسان مجبوره کېږي چې سل ځله نور درواغ ووایي. د درواغو په هکله دوه قرآني آیتونه او درې احادیث د ډېرو زده دي، خو نن ورځ رښتیني انسانان کوم دي؟

نو معلومه شوه چې دا ټول نصیحتونه کتابي خبرې دي او موږ یوازې ددې په ویلو خوشحاله اوسو چې "Knowledge is Power" (علم ځواک دی)، په داسې حال کې چې باید ووایو:

"Implementation of knowledge is power" (په علم عمل کول ځواک دی).

مازې په علم تر لاسه کولو او نصیحتونو کولو کوم څه نه بدلېږي، بلکې په عمل کولو نړۍ بدلولی شو.

نېکمرغي دا ده چې د انسان علم او عمل سره برابر وي. نصیحت هغه وخت ښه اغېز کوي چې ناصح یې لومړی په ځان عملي کړي. د کوم انسان شخصیت چې موږ متاثره نشي کړای د هغه نصیحت به هېڅکله په موږ اثر ونکړي.

که تاسې په کوم ډاکټر باور ونه لرئ او د هغه د کار د طریقې څخه متاثره نشوئ، د هغه په لاس لیکل شوې بهترینه نسخه هم تاسې ته گټه نشي

رسولی. زموږ نوی نسل په جومات کې له مولوي صیبانو څخه متاثره نه وي، ځکه د ملا صیب د ژوند ځینې اړخونه ډېرې کمزورۍ لري. په مالي لحاظ ډېر کمزوری وي او خپلې ورځنۍ اړتیاوې او لګښتونه په صدقو، زکاتونو، چندو او فیسونو پوره کوي.

د نن ځوان د ماډرن او عصري تعلیم او تګلارې پلوی دی، ځکه نو د ملا پر ځای په نورو برخو کې له بریالیو اشخاصو څخه ډېر متاثره کېږي. عملي مثال یې دا دی چې اوس خلک یوازې د جمعې د لمانځه لپاره جوماتونو ته مخه کوي. د بهترین دین د دعوت او وړاندې کولو لپاره د غوره سیرت لرونکو، ذهینو او د موجوده عصر له غوښتنو څخه باخبره او برابرو اشخاصو ته اړتیا ده.

نصیحت هغه وخت اثر کوي چې نصیحت اورېدونکي د نصیحت غوښتنه کړې وي، ځکه داسې د ناصح ژبه لا پیاوړې کېږي او د نصیحت کولو لپاره اړینه ده چې وکتل شي څوک په کومه برخه کې نصیحت ته اړتیا لري. داسې نشي چې خلک د خوړو غوښتنه وکړي او تاسې کلمه ور زده کول وغواړئ.

ناصح ته پکار دي چې د نصیحت کولو ژبه نرمه او خوږه وساتي، له طنز او تنقید څخه دې ډډه وکړي، په مینه او درناوي دې مقابل لوری پوه کړي. مخلص ملګري ستاسې ښېګڼې په ډک مجلس کې بیانوي او ستاسې نیمګړتیاوې تاسې ته په یوازېتوب کې در په ګوته کوي.

هېڅ انسان مکمل نه دی، هر انسان مشورې او نصیحت ته اړتیا لري، خو تاسې باید په دې هم پوه شئ چې هر شخص د نصیحت کولو او مشورې

ورکولو وړ نه دی. که کمعقل ملګری مو هر څومره مخلص وي، هېڅکله ترې مشوره مه غواړئ او یا د پوهې او حکمت له خاوند شخص څخه - که ستاسې خپلوان هم وي، خو چې مخلص نه وي- له هغه هم هېڅکله مشوره مه اخلئ چې له ګټې به یې تاوان ډېر وي.

ستاسې لپاره یو اړین نصیحت دا دی چې مشوره تل له پوه او مخلص انسان څخه تر لاسه کړئ، کوم چې ستاسې خیر غوښتونکی وي او تاسې پرې پوره باور لرئ.

# اندازې (باورونه، فرضیې) بدلېدای شي

عموماً په ورځني ژوند کې موږ داسې جملې ډېرې اورو:
1- پرته له واسطې او پېژندګلوۍ دنده نه پیدا کېږي.
2- د دنیا ژوند دومره ډېرې ستونزې او اندېښنې لري چې انسان تر مرګه پورې ورسره لاس و ګرېوان وي.
3- په ازموینه کې په نقل کولو سره ډېرې نومرې تر لاسه کېږي.
4- په دې نړۍ کې هر سړی لومړی خپلې ګټې سنجوي.
5- ښه انسانان ډېر کم، یا په نشت حساب دي.
6- که بخت یاري وکړي، انسان بریالی کېږي.
7- موږ ډېر ګناهګار بنده‌ګان یو، ځکه مو ورځ نه ښه کېږي.
8- نن- سبا ایمانداره، مخلص او زحمت‌کښه انسانان هېڅ ځای نه لري.
9- د لمانځه او ورزش لپاره سهار وخته پاڅېدل ناشونی کار دی.
10- زه د خلکو نه خوښېږم، ځکه بدرنګه یم، یا زما ونه ټیټه ده.
11- ټول خلک په غلطو لارو او ګناهونو اخته دي، خیر په هېچا کې نشته.
12- ټوله نړۍ بې وعدې او بې وفا ده.
آیا دا ټولې خبرې په حقیقت ولاړې دي؟
نه! دا ټول ګومانونه دي چې د محدودو لیدلوریو پایلې دي.

دویمه خبره دا ده چې دا ټولې ویناوې د ځینو مخصوصو حالاتو زېږنده دي چې ویونکي یې سم ګڼي.

د يوه ړانده لپاره دېوال او غر يو شان دي، ځکه هغه دواړه د لاس په واسطه اندازه کوي، په سترګو يې نشي ليدای.

د تخمين او قياس پر مټ باور هغه لاره ده چې په مرسته يې تاسې د يو شي په اړه تر يوه حده پوهېدای او په اړه يې يو فرضي نظر وړاندې کولی شئ.

ګومان د تورو عينکو مثال لري، که چېرې تاسې تورې عينکې په سترګو کړئ او نړۍ ته وګورئ، نو دا رنګينه نړۍ به ستاسې په نظر تياره ښکاره شي.

انسانان چې هر ډول ګومان لري د هغه د تصديق لپاره په غير ارادي شکل د اثباتولو په لټه کې وي او عموماً دوی په دې چاره کې بريالي کېږي هم، چې له امله يې د دوی ګومان تر ډېره حده په يقين بدلېږي او هغه يقين چې پر حقيقت بناء نه وي، د انسان ژوند له تباهۍ سره مخ کوي.

ځوانان د خپل ذات او وړتياوو په هکله تل پخپل ذهن کې ځينې ګومانونه او باورونه جوړوي او د خلکو نظريات تر لاسه کوي. دغه ګومانونه او باورونه د دوی وړتياوې محدودوي چې محدودې وړتياوې په پای کې محدودې پايلې او لاسته راوړنې زېږوي.

هغه ګومانونه او فرضيې چې تاسې د خپل ځان په اړه پخپل ذهن کې لرئ ستاسې لپاره ګټور هم ثابتېدای شي او ستاسې د بريالیتوب په لاره کې خنډ هم جوړېدای شي.

د پاچا دښمنانو شهزاده په داسې غليظ چاپېريال کې -چې پکې اخلاقي فساد عام و- وساته چې د نفسي خواهشاتو عادي شي او سبا ورځ د پاچا

کېدو اهل پاتې نشي، خو په یاد چاپېریال کې له اوږدې مودې پاتې کېدو وروسته هم پر شهزاده د چاپېریال هېڅ اغېز پاتې نه و. کوم چا ترې وپوښتل، ددې لامل څه دی چې ته ددې خلکو په رنګ کې رنګ نه شوې؟ شهزاده ځواب ورکړ، هغه لاره ما ځکه نشوه ټاکلی چې زه د پاچا کېدو لپاره پیدا شوی یم او بیا داسې وخت هم راغی چې شهزاده د وخت حاکم شو.

پایله دا شوه چې که تاسې د خپل ځان او خپلو وړتیاوو په اړه پخپل ذهن کې سم او کلک باور ولرئ، د نړۍ هېڅ ځواک به تاسې له خپلې لارې را و نه ګرځوي او یقین ولرئ چې متعال رب تاسې د بریالي کېدو لپاره نړۍ ته استولي یاست. که تاسې د خپل بریالیتوب خوب لیدلی وي، ډاډه اوسئ چې تاسې به هرومرو بریالي کېږئ. تاسې خپل نظریات، فرضیې او باورونه لوړ کړئ او د اشیاوو او واقعیتونو په اړه مو لیدلوری پراخ کړئ. په دې فکر وکړئ چې خلک د کومو لارو په خپلولو بریالي شوي. تاسې هم هغه لارې معلومې او عمل پرې وکړئ چې د بریالیتوب لوړو پوړیو ته ورسېږئ.

موږ ټول د بې شمېره باورونو او فرضیو په مرسته د ژوند کولو عادي شوي یو. د نورو تجربې زموږ فرضیې په عقایدو بدلوي او دا عقاید زموږ د بریالیتوب په لاره کې خنډ ګرځي. په لاره کې د پرتو خنډونو لرې کولو لپاره تاسې یو عادت خپل کړئ. هغه فرضیې، ګومانونه او قیاسونه چې ستاسې ذهن نا ارامه کوي، د هغو په اړه له ځانه پوښتنې وکړئ چې آیا په حقیقت ولاړ دي او که نه؟ د خپلو نظریو په اړه له یو جلا لیدلوري څخه فکر وکړئ، وبه ګورئ چې ورو ورو ستاسې لومړني باورونه او نظریات

کمزوري کېږي.

د بېلابېلو فرضیو د رامنځته کوونکیو واقعیتونو لیست جوړ کړئ او بیا ددې ټولو پر حقیقت خپله هم فکر وکړئ او له کوم ارواپوه او مخلص ملګري سره هم پرې بحث وکړئ.

هره خبره او پېښه له مختلفو زاویو څخه وڅېړئ. که تاسې تل پخپل ټولګي کې په دویمه درجه بریالي کېږئ، دا وګورئ چې ستاسې په دویمه درجه د بریالي کېدو له امله مو بل ټولګیوال په لومړۍ درجه بریالی کېږي. څه چې تاسې له لاسه ورکوئ هغه بل څوک تر لاسه کوي.

بې شمېره خلک په خپل ژوند کې له ناکامیو سره مخ کېږي او تاسې په وړیا توګه د هغوی له ناکامۍ څخه زده‌کړه کوئ. شپه او ورځ د لمر د دوو حالتونو نومونه دي.

د هرې خبرې او موضوع په اړه د حتمي نظر څرګندولو پر ځای د موضوع حقیقت ته د رسېدو لپاره د فکر او پلټنې عادت خپلول ډېر اړین دي. که چېرې ستاسې کوم باور او فرضیه ناسمه خېژي، نو د خپلو افکارو په بدلولو کې دوه زړه‌توب د څه لپاره؟

بریالي خلک د فرضیو او باورونو په مرسته ژوند نه کوي، بلکې هغوی د خپل عقل، پوهې او د پوهانو د لارښوونو په مرسته د ژوند لپاره غوره اصول جوړوي.

اصولي انسانان د ښو اخلاقو او غوره چلند څښتنان وي. دا په یاد ولرئ چې باورونه او فرضیې بدلېدای شي، خو اصول او قوانین بدلول ممکن نه دي، بلکې دا خو زموږ د بدلولو لپاره په کار وړل کېږي.

# پرته له مقصده يې ووېشئ!

آيا داسې کومه لاره شته چې ستاسې انګېزه، جوش او ولوله جاري وساتي؟ او تاسې د خپل منزل لور ته په چټکۍ سره پر مخ يون وکړئ. د بريالیتوب په لاره کې انسان له بې شمېره محروميتونو او خنډونو سره مخ کېږي او د لارې خنډونه او اندېښنې تاسې نهيلي کوي. نهيلي ستاسې خوبونه او هيلې له تاسې څخه اخلي. د بريالیتوب په لاره کې زموږ تر ټولو لوی دښمن نهيلي ده چې د کلونو خوارۍ او زحمتونه په څو شېبو کې له منځه وړي. له دې دښمن څخه د خلاصون لاره دا ده چې تاسې پخپل دې سفر کې يو شمېر محروم او مجبور انسانان د لارې مل کړئ. څه چې خپله تر لاسه کوئ د هغه يوه برخه پرته له کوم مقصده پر نورو هم ووېشئ. بيا به له تاسې سره د بريالیتوب تر لاسه کولو يو ښکاره جواز موجود وي.

ځينو خلکو دا پوچه عقيده د ايمان يوه برخه ګرځولې چې؛ په ډېر مال را ټولولو سره انسان شتمن کېږي، په داسې حال کې چې حقيقت بل شی دی. غوره او ګټور يقين جوړول او پالل هم عبادت دی. تاسې په دې خبره پوره باور ولرئ چې د شتمنۍ په وېشلو سره شتمني زياتېږي، ځکه کومې پيسې چې تاسې جمع کوئ هغه ستاسې بېنک اکونټ ته ځي او کومې چې وېشئ هغه د الله تعالی بېنک اکونټ ته ځي، چېرته چې د هېڅډول زيان وېره نه وي.

هر هغه شی چې ووېشل شي زیاتېږي. انسانان د مینې او درناوي غوښتونکي دي حال دا چې باید د هغوی له غوښتنې څخه پرته ورسره مینه او ورته درناوی وشي.

د اسانتیاوو تر لاسه کولو هڅه خامخا وکړئ، خو په هغو تر لاسه کړیو اسانتیاوو کې نور خلک هم در سره شریک کړئ. داسې به خدای هر څه درته اسانه کړي.

علم د چا د پلار میراث نه دی، که خدای وغواړي، د جاهلانو تر منځ عالمان پیدا کولی شي.

هوښیارتیا د احمقو انسانانو د حماقتونو زغملو څخه تر لاسه کېږي.

په کوم ځای کې چې اوبه ساتل کېږي ترې ناولی ډنډ جوړېږي او بهېدونکي اوبه تل د ښېرازۍ او تازه‌گۍ احساس بخښي، ځکه خو ویل کېږي چې په نړۍ کې دوه ډوله انسانان اوسېږي، یو هغه چې علم تر لاسه کول غواړي او بل هغه چې علم وېشل غواړي. له دې دواړو پرته چې کوم انسانان دي په اصل کې انسانان نه، بلکې حیوانات دي. انسان چې علم حاصل کړي او ویې وېشي، نو هله به د عالم نوم او مرتبه تر لاسه کوي، کنه نو جاهل بلل کېږي.

کله چې تاسې په دې نیت مطالعه کوئ چې زه به له ځان پرته نورو ته هم خیر رسوم، نو علم پخپله ستاسې لور ته راښکل کېږي. علم وېشل هم د سخاوت برخه گڼل کېږي.

د اصراف کوونکي ژوند تیاره وي او د بخیل راتلونکی نه تیاره وي او نه روښانه. د بخیل بدمرغي دا ده چې ټول عمر د نورو د مال ساتنه کوي او

خپله ترې هېڅ خیر نه ګوري او له مړینې وروسته دده نا اهله ورثه دده پاتې مال په بې پروايۍ سره مصرفوي. که ستاسې خپله را ټوله کړې شتمني ستاسې هېڅ کوم درد نه دوا کوي، همدا ستاسې د بدبختۍ ښکاره او لوی ثبوت دی. دغه مال پخپل لاس وویشئ. همدا رنګه د علم او پوهې خاوندان هم چې خپل علم له نورو سره و نه وېشي او تر زده کوونکو يې -چې د علم اصلي وارثان بلل کېږي- و نه رسوي، داسې وګڼه چې بې اولاده مړ شو.

پرته له کوم مقصد او بدله د يو څه وېشل چې کوم خوند لري، په بل هېڅ شي کې نه موندل کېږي.

هڅه وکړئ په سخاوت او اخلاص ولاړ افکار او نظريې خپلې کړئ، ځکه ستاسې په بريالیتوب کې د ډېرو خلکو حق دی.

نبي کريم ص فرمايي:

«سخي انسان الله تعالی ته نږدې، جنت ته نږدې او خلکو ته نږدې وي،

بخیل انسان له الله تعالی لرې، له خلکو لرې او جهنم ته نږدې وي».

سخاوت د کايناتو د مالک له صفاتو څخه يو صفت دی. د سخي انسان لپاره دا صفت د الله له لوري يو لوی انعام دی. د نورو مال ته سترګې نه نیول او تمه نه کول هم سخاوت دی. که په چا احسان کول غواړئ، نو داسې يې وکړئ چې هغه مو د احسان بوج پر ځان حس نکړي. له خلکو سره له احسان او نېکۍ کولو وروسته له هغوی د منني هيله مه لرئ، ځکه تر ټولو بدتر احسان هغه دی کوم چې تاسې پخپله خوله بيا بيا بيانوئ او غوره احسان هغه دی چې مقابل لوری يې خپله احساس وکړي او خپله

يې ومني. په نورو انسانانو احسان کوونکي الله ته ګران دي او خپله يې بدل ورکوي.

که چېرې تاسې خپلې برياوې يوازې تر خپله ذاته محدودې کړئ، تاسې ته به هم هېڅ څه پاتې نه شي. که يو ښوونکی د نورو د بچيو راتلونکی روښانه نکړي، د خپلو بچيو راتلونکی به يې هم تياره پاتې شي. په موږ کې د مذهب، قوميت او نسل توپير خو موجود دی، مګر موږ بيا هم د يوه خدای بنده‌ګان يو او پر يو بل بايد مهربانه واوسو. د خپل عايد لږ تر لږه لسمه برخه بايد نورو ته ورکړو. دا چاره يوازې د شتمن او بريالي کېدو وروسته مه تر سره کوئ، بلکې له همدې نن څخه يې پيل کړئ چې د هغوی دعاوې ستاسې بريا يقيني کړي.

«سره زر له معدن څخه د کان کيندنې پر مهال تر لاسه کېږي او له بخيل انسان څخه د ځنکدن پر مهال تر لاسه کېږي» (شيخ سعدي رح)

ويل کېږي، خدای تعالی له هغو سره مرسته کوي چې څوک له خپل ځان سره مرسته کوي او خدای له هغو سره هرومرو مرسته کوي څوک چې له نورو سره مرسته کوي. نن که تاسې له کوم چا سره مرسته کوئ، سبا ورځ هغه شخص پخپلو پښو درېږي او له نورو سره مرسته کوي او په دې ډول به ستاسې ښېګڼه تل ژوندۍ پاتې شي.

موږ ټول د خپلو والدينو، استادانو او مخلصو ملګرو پوروړي يو او دا پور هغه وخت اداء کېږي چې موږ هم له نورو سره ښېګڼه او پرې احسان وکړو. تاسې چې هر څومره غواړئ شتمن او بريالي شئ، خو بيا به هم همدا درې وخته ډوډۍ خورئ، هېڅوک هم د غنمو د ډوډۍ پر ځای بانک

نوټونه نشي خوړلی. د ویده کېدو پر وخت چې د بنګلو خاوند څومره ځای نیسي، همدومره ځای یو غریب بزګر هم نیسي. له نړۍ څخه د رخصتېدو پر وخت به ټول انسانان هماغه څو متره کفن له ځانه سره وړي.

څرنګه چې له شپې وروسته د ورځ راتلل حتمي دي همداسې به له بې مقصده نېکۍ وروسته ستر څښتن تعالی نېکي کوونکی هرومرو نازوي.

نورو ته بې مقصده خیر رسول د الله تعالی د شکر اداء کولو په مانا ده.

څومره مهم کار چې د پیسو ګټل او جمع کول دي، همدومره مهم یې وېشل هم دي، پیسې د لاس خیرې وګڼئ، بیا به یې تر لاسه کړئ، خو کوم اړمن به بیا ستاسې دروازه و نه ټکوي.

ددې پر ځای چې د پیسو تر لاسه کول خپل هدف وټاکئ، د خپلو نېکو مقاصدو د تر لاسه کولو په لاره کې ترې کار واخلئ. خلکو ته یوازې د کار اجوره مه ورکوئ، بلکې ورسره درناوی، مینه، ستاینه، اخلاص او ښه چلند هم کوئ، ځکه هر انسان ستاسې د منني مستحق دی.

چا ته چې هیله نشئ وربخښلی، هېڅکله یې د نهیلۍ کندې ته هم مه ور غورځوئ، ځکه نهیلي د فقر او بې وسۍ دویم نوم دی. الله تعالی تاسې په بې شمېره نعمتونو او وړتیاوو نازولي یاست، دغه نعمتونه او پېرزوینې به هغه وخت تلپاتې شي چې تاسې یې پرته له کوم مقصده د الله تعالی د مخلوق د ګټې، هوساینې او خیر لپاره استعمال کړئ.

یاد یې ولرئ! هغه قلم او ژبه چې د څښتن تعالی د مخلوق د خیر او کامیابۍ لپاره وکارول شي، یوازې قلم او ژبه نه پاتې کېږي، بلکې توره ترې جوړېږي، 313 بتان مات او پر ځمکه را غورځوي.

# د خوشحاله اوسېدو هنر

څوک خوشحاله اوسېدل نه غواړي؟ مګر دا چې هر څوک د خوشحاله اوسېدو له هنر سره اشنا نه دي، نو نشي کولی ډېرې خوښۍ را ټولې کړي.

جبران خلیل وایي: «په هر حالت کې خوشحاله اوسېدای شئ، که چېرې تاسې په هر حال کې د خوشحاله اوسېدو هنر زده کړ او دا د ژوند تر ټولو لوی هنر دی».

خوشحاله اوسېدل له خپه اوسېدو څخه ډېر اسانه دي، خو ددې هنر له زده کولو څخه وړاندې باید تاسې په لاندې لاملونو پوه شئ، د کومو له امله چې خلک عموماً خپګان کوي:

1- انسان هغه وخت خوښ نشي اوسېدلی کله چې هغه د خپلې خوښې شیان نشي تر لاسه کولی او په بدل کې یې هغه څه تر لاسه کوي چې خوښ یې نه وي.

2- چې له نورو انسانانو سره مینه او لېوالتیا و نه لري، خوشحاله نشي اوسېدای.

3- خوشحالي په هیلې کولو نه تر لاسه کیږي، بلکې د هیلې په پوره کولو تر لاسه کیږي.

4- له نورو ډېره توقع او تمه کوونکي خوشحاله نشي اوسېدلای.

5- هغوی چې خوښۍ یې په کوم شرط پورې تړلې وي، هم خوشحاله نه

شي اوسېدای، لکه چې وايي: که ماته فلانی شی را کړل شي، نو خوشحاله به یم.

6- څوک چې د کوچنیو موضوعاتو د لویولو عادت لري هم خوشحاله نشي اوسېدای، ځکه کوچنۍ ستونزې کوچني فکرونه نا ارامه کوي.

7- په هر کار او هر شي کې د عیب لټوونکي هم خوشحاله نشي اوسېدای.

8- هغوی چې په مهربانۍ او مینې له خلکو سره چلند نه کوي هم خوشحاله نه وي.

9- وزګار او بې هدفه انسانان هم خوشحاله نه وي.

په پورته لاملونو فکر وکړئ چې تاسې د کوم لامل له امله ناخوښ یاست. په دې پوه شئ چې ستاسې خوشحاله اوسېدل ډېر اړین دي، ځکه خلک هغه انسانان خوښوي چې خوښ وي. کله چې تاسې خوشحاله اوسئ، ستاسې چلند به له نورو سره مهربانه وي او په ټولنه کې به یو مثبت شخص و اوسئ. تاسې نورو ته خوښۍ هغه وخت ورکولی شئ چې کله تاسې خپله خوښ اوسئ.

وايي: «د زړه مضبوطه کلا د تورې په زور نه فتحه کیږي، مګر یوه تشه موسکا یې دروازه پرانیزي».

که تاسې خوښ اوسئ نو په نورو ښه (First impression) لومړنی تاثر پرېښودلای شئ او ستاسې اړیکي به هم پراخ وي. خندا ستاسې د روغتیا

لپاره ګټوره وي. خوښ انسان د ناخوښ انسان په پرتله ډېر ژوند کوي. خوشحاله انسانان د زړه په ناروغیو نه اخته کېږي، ځکه خوښ انسانان په دې هنر ښه پوهېږي چې څه ډول د خلکو زړونه وګټي.

تاسې باید تل پر شونډو موسکا ولرئ. د خوښ اوسېدو له امله ستاسې له زړونو څخه کرکه او کینه له منځه ځي.

«که ته خاندې، نو ټوله نړۍ در سره خاندي او که ته ژاړې، نو دا کار باید یوازې وکړې». (بیکن)

ستر انسانان تر ټولو سخت حالت کې هم په شونډو موسکا ساتي، که خوشحاله انسان هټۍ جوړه کړي، نو دده ګټه به له هغه سړي دوه برابره ډېره وي چې تل غمجن ښکاري. نن سبا تر ټولو ارزانبیه، خو ارزښت لرونکې ډالۍ یوه له اخلاصه ډکه خندا ده. د خندا او خوښۍ لپاره لامل لټولو ته اړتیا نشته. همدا چې نن ورځ دې صحت ښه دی، په خوشحالۍ او خندا ارزي. ستاسې خندا په خلکو مینه، امید او انرژي وېشي.

د خوشحاله اوسېدو ځینې اسانه لارې دا دي:

1- د خپلې خوښې د کارونو او فعالیتونو لیسټ جوړ کړئ، کوم چې درته ډېر په زړهپورې وي، ځان پکې بوخت کړئ. بوختیا د اندېښنو مخه نیسي.

2- د نورو تېروتنې له پامه وغورځوئ او بخښنه کوئ، په یاد ولرئ چې الله تعالی هغه انسانان بخښي، څوک چې د الله تعالی بندهګان بخښي.

3- که چا در سره ښه وکړل، مننه ترې وکړئ او احسان یې مه هېروئ، مګر که تاسې له کوم چا سره ښه وکړل، له هغو د منني او احسان منلو تمه مه ساتئ.

4- دا ومنئ چې حتمي نه ده چې ستاسې هره غوښتنه او هره هیله دې پوره شي، ځکه دا نړۍ یوازې ستا لپاره نه ده جوړه شوې.

5- ډېری انسانان دې ته نه ګوري چې کوم شیان لري، بلکې دې ته ګوري چې کوم شیان نه لري. دوی د رحمتونو پر ځای زحمتونه شمېري چې دا غلط کار دی، نور تاسې د هغه څه په اړه فکر وکړئ چې له ژونده مو تر لاسه کړي او دا هېر کړئ چې له کومو شیانو محروم یاست.

6- له زړه د رب تعالی شکر اداء کړئ او هغه نعمتونه چې تاسې ته رب تعالی در کړي، د هغه په لاره او د هغه پر بنده‌ګانو یې ولګوئ. دا د شکر اداء کولو غوره طریقه ده.

7- له نورو انسانانو سره مینه او لېوالتیا پیدا کړئ، د هغوی د استعدادونو او کارونو ستاینه وکړئ، خپلې خوښۍ ورسره ووېشئ، په دې کار سره به هغوی هم بېرته ستاسې د خوښیو لامل وګرځي.

8- د ژوند هدف مو معلوم کړئ او تل یې په اړه فکر وکړئ، که چېرې تاسې ته داسې ښکاري چې اندېښنې او خپګانونه کول ستاسې د هدف ته رسېدو په لاره کې خنډ جوړېدای شي، نو خوشحاله اوسېدل عادت کړئ.

9- د ماضي بدې پېښې او غمونه تل زموږ په حافظه کې ساتل کېږي او بیا بیا یادول او په اړه یې فکر کول زموږ حال نا ارامه او موږ اندېښمن کوي، نو ددې پر ځای خواږه یادونه او ښې خاطرې یادې کړئ چې زړه مو خوشحاله شي.

«کومو خلکو ته چې موږ په‌خپل مرګ غم ورکوو او ځو، هغوی ته په

ژوند باید ځینې خوښۍ هم ورکړو». (واصف علي واصف)

الله تعالی په قران کریم کې فرمايي: «زما له رحمت څخه مه نا امیده کېږئ!»

که تاسې په دې حکم عمل وکړئ، و به ګورئ چې زړه مو خوشحاله او ډاډمن دی. په پای کې باید ووایم چې موږ د خلکو برخلیک نشو بدلولی، مال او دولت هم نشو ورکولی، نه هم ناروغانو ته شفا ورکولی شو، خو د خپل شاوخوا اندېښمنو او بېوزلو خلکو ته په موسکا او ښه چلند یوه خوله خندا ډالۍ کولی شو. راځئ څو شېبې خپل ټول کارونه پرېږدئ او لږ وخاندئ.

# کتاب غوره ملګری

په دې نړۍ له پاچاهانو ډېره واکمني کتابونو کړې ده. د انسان د شخصیت په جوړولو کې د نورو عواملو ترڅنګ یو لوی عامل «د کتاب د مطالعې عادت» دی. مطالعه له ډوډۍ خوړلو څخه هم ضروري ده، ځکه کتابونه د انسان راتلونکی روښانوي. برنارډ شا وايي: «څوک چې د ښو کتابونو لوستلوشوق نه لري، هغه د انسانیت له لوړ مقام څخه پرېوتي».

پوهان وايي، جامې زړې واغونده، خو کتابونه نوي وپېره او ویې لوله. هغه قوت چې موږ د عمل ډګر ته ښکته کوي، زموږ خپل فکرونه او تصورات دي، کوم چې د همدې کتابونو په لوستلو غښتلي کېږي.

د لیکوال هغه فکرونه او خیالونه کوم چې هغه د کتابونو لیکلو ته هڅوي، ډېر لوړ او قوي دي، نسبت هغه څه ته چې هغه یې پخپلو کتابونو کې لیکي، ځکه خو څوک چې د هغه لیکل شوي کتابونه لولي، نو د هغه په څېر جوړېدو هیله کوي او تر یوه حده د هغه په څېر کېږي هم. د علامه اقبال رح شاعري چې څوک ولولي، د هغه په څېر د خودۍ نظریې پیرو شي.

(Leaders are Readers) رهبران لوستونکي وي.

د کتاب له لوستلو وروسته لیکوال ستاسې په شخصیت کې خپله برخه تشه ډکه کړې وي، ځکه خو د کتابونو له لوستلو وروسته لوستونکي د لیکوال په څېر فکر او تخیل خپلوي.

د یوه هوښیار سړي یوه هوښیاره خبره ستاسې د تیارې لارې مشال جوړېدای شي. یو ښه لیکوال هم خپلې کرښې د کتاب پر پاڼو نه، بلکې د لوستونکیو پر زړونو کښلې وي. د یوه ښه کتاب مطالعه تر ډېرو کلونو وروسته هم ستاسې شخصیت ته ځلا بخښي او تاسې د بریالیتوب لارې ته سوق کوي، خو څه رنګه چې ښه کتاب تاسې را ویښوي او انرژي در کوي، دارنګه بد کتاب ستاسې روح ځپي او تاسې نهیلي کوي.

«څنګه چې د ملګرو په انتخابولو کې په احتیاط کولو تاکید کېږي، همدومره احتیاط د کتابونو په انتخاب کې هم پکار دی!».

ځکه د ښو کتابونو ټاکنه او لوستل د انسان تقدیر بدلوي. له کتابونو د ګټې اخېستنې لارې:

1- ښه کتاب ټاکل هم یو هنر دی چې د تجربې په مرسته کسب کېږي، خو یوه بله غوره لاره یې دا ده چې د کتاب د عنوانونو لړلیک وکتل شي، یا هم له هغه چا مرسته وغوښتل شي چې ډېر کتابونه یې لوستلي وي.

2- د ځینو کتابونو ټولې برخې د کار نه وي، نو د کتاب لوستلو مقصد ته په پام سره ځینې مفیدې برخې د یو مارکر په واسطه په نښه کړئ.

3- یوه لاره یې دا هم ده چې د کتاب لوستلو پر مهال مهم ټکي ترې په یوه کتابچه کې ولیکئ.

4- هر څومره چې کتاب لولئ پخپل ورځني ژوند کې یې عملي کوئ.

5- که غواړئ کومه خبره او کوم درس د تل لپاره ستاسې په ذهن کې پاتې شي، نو له ملګرو سره پرې بحث وکړئ.

# آسان او سخت ګڼل

د یوه انسان لپاره یو کار ډېر اسان وي، خو هماغه کار د بل انسان لپاره سخت وي. اروا پوهان وایي، که موږ کوم کار اسان وګڼو، راته اسانه کېږي او که سخت یې وګڼو، راته سختېږي، ځکه سخت او اسانه ستاسې د خپلو فکرونو نومونه دي.

«اسان کار هغه دی کوم چې تاسې اسانه ګڼئ» (حدیث شریف)

زده کوونکي باید له زده کړو او علم حاصلولو سره مینه ولري، مګر ډېری زده کوونکي له زده کړو په تېښته وي او وایي، درس ویل سخت کار دی. دوی په اصل کې داسې ذهنیت جوړ کړی چې زده کړه سخت کار دی. خلک له وړاندې تګ څخه وېره لري او ګومان کوي چې که مخکې لاړ شي، نو شاید له ناکامۍ سره مخ شي، حال دا چې ناکامي ورته تجربه او زده کړه ورکوي، کومه چې د ځان باورۍ کچه ډېروي.

انساني ذهن ډېر پیاوړی دی. تاسې یو کار په شعوري توګه سخت تصور کړئ، بیا وګورئ چې ستاسې لاشعور په څومره لږ وخت کې هغه کار تاسې ته له سخت څخه سخت‌تر معرفي کوي او تاسې ته د تېښتې سل لارې در ښیي.

تاسې چې کله د هغه کار په اړه فکر هم کوئ، نو وارخطا کېږئ. بیا نو د هغه کار کول خو لرې خبره ده، فکر کول یې هم نه غواړئ. ددې کارونو غوره بېلګې درس ویل، لمونځ اداء کول، ورزش کول، سهار وخته

پاڅېدل او له نورو سره ښه اړیکي ساتل دي. دا ټول کارونه موږ ته سخت ښکاري، ځکه چې موږ یې سخت ګڼو. که موږ یې اسان وګڼو، په څو ورځو کې به راته اسانه شي. ډېری وختونه موږ ګورو چې یوه کوچنۍ ستونزه په یوې لویې ستونزې بدله شوې وي، دا ځکه چې موږ هغه له پیله لویه او ستونزمنه ګڼلې وي.

کیمبرج پوهنتون کې یوه سروې ترسره شوه، په دې سروې کې یې د یو شان ذهانت لرونکو زده‌کوونکو دوه ګروپونه جوړ کړل، دواړو ګروپونو ته یې یو ډول سوالونه د حلولو لپاره ورکړل، خو یوه ګروپ ته یې له ازموینې مخکې وویل، دا ټول سوالونه ډېر سخت دي او تر ننه هېچا نه دي حل کړي او دویم ګروپ ته یې وویل، دا نهایت اسانه سوالونه دي که یو ماشوم ته یې هم ورکړې، نو حلولی یې شي! چې کله د ازموینې پایلې را ووتې، ټول حیران شول، ځکه هغه ګروپ ته چې ویل شوي ول تر ټولو سخت سوالونه دي، ډېری زده‌کوونکو سوالونه نه ول حل کړي او دویم ګروپ چې ورته ویل شوي ول، سوالونه ډېر اسانه دي، تقریباً ټولو حل کړي ول، نو له سروې څخه همدې پایلې ته رسېږو چې کارونه زموږ د خپلو فکرونو له امله سخت او اسانه کېږي.

کله چې موږ کوم کار سخت ګڼو او پرېږدو یې، د هغه کار په اړه زموږ د فکر دایره محدودېږي، کنه نو نن- سبا خو هغه کارونه چې ناشوني بلل کېدل، هم اوس شوني دي.

کوم وخت چا ویلي وو، موږ به یو وخت هوا ته والوځو، ټولو خلکو ویل، دا ناشونی کار دی، خو موږ ولیدل چې دا ناشونی کار هم شونی شو او د انسانانو د الوت لپاره الوتکې جوړې شوې.

د نړۍ له پیدایښته تر ننه چې بشر کوم پرمختګ کړی، دا ټول د انساني تجسس او د ژوند اسانوونکو فکرونو له امله ممکن شوي.

د بریالیتوب د اصولو مطابق کوچني او اسانه کارونه تر سره کول ژوند نه اسانه کوي. ددې لپاره باید سخت کارونه اسانه کړئ او یا ځان بدل کړئ. د بریالیتوب سفر خو ښکاره ده چې سخت وي، پورته ختل چېرته اسانه وي، خو د لوړتیا تر لاسه کولو لپاره مجبوره یو چې وخېژو.

منزل ته له رسېدو وروسته د لارې ستونزې هسې هم له خلکو هېرېږي. په یاد ولرئ که تاسې له ستونزو سره مخ نه شئ، نو د بریا خوند به هم و نه ګورئ. جنت ته د تللو لپاره مړه کېدل حتمي دي.

که چېرې ستاسې پر وړاندې ستاسې منزل ته د رسېدو دوه لارې وي چې یوه اسانه او دویمه ستونزمنه وي نو یقیناً تاسې به اسانه لاره غوره کوئ، خو که چېرې ډېرې لارې وي او ټولې له ستونزو ډکې وي، نو چې هره لاره مو ټاکله دا هوډ هم باید وکړئ چې په هر حال به دا سفر تر سره کوئ او هېڅکله به نه په شا کېږئ، ځکه د لویو هیلو پوره کولو لپاره باید له لویو ستونزو سره مبارزه وشي.

د لارې د خنډونو او ستونزو د اسانه کولو ځینې لارې چارې دا دي:

1- هر کار چې تاسې ته سخت ښکاري د لامل معلومولو هڅه یې وکړئ، هغه محرکات چې دا کار درته سختوي، په یوه کاغذ کې ولیکئ او بیا یې د حلولو هڅه وکړئ.

2- د سخت کار د تر سره کولو طرزالعمل بدل کړئ، که په لوستلو مو درس نه زده کېږي، ویې لیکئ.

3- د کومې مسئلې د حل لپاره له کوم مخلص ملګري، یا داسې کس سره -چې په دې مسایلو پوهېږي- مشوره وکړئ چې د مسئلې په حلولو کې در سره مرسته وکړي.

4- په یوه ارام ځای کې کېنئ او د خپلې ستونزې لپاره بېلابېلې حللارې ولیکئ، بیا پرې فکر وکړئ چې کوم حل ډېر ګټور دی او له هغې وروسته ترې یو وټاکئ.

5- لس څله ژورې ساه‌ګانې واخلئ، ځان ارامه کړئ او فکر وکړئ چې ستاسې الګو (Role Model) که ستاسې په څېر ستونزه لرله، نو څه به یې کول، بیا مو چې ذهن کوم ځواب درکړ، هغه ولیکئ.

6- کوم کار چې درته سخت ښکاري، یا ترې وېره لرئ، بیا بیا یې تر سره کړئ، له تکرار سره مو وېره له منځه ځي او هغه کار درته اسانېږي.

7- کوم کار چې تاسې ته سخت ښکاري، د هغه په تر سره کولو چې کومې ګټې تاسې ته رسېږي هغه ولیکئ، یا یې پخپل غږ رېکارډ کړئ او هر وخت یې اورئ، داسې به سخت کارونه درته اسانه ښکاره شي.

8- یو لوی سخت کار په څو کوچنیو برخو ووېشئ او په ترتیب سره یې تر سره کړئ.

9- د سخت کار له تر سره کولو وروسته ځان‌ته انعام ورکړئ، ځان تشویق کړئ، د بېلګې په ډول، یوه رسټورانټ ته لاړ شئ او د خوښې خواړه مو وخورئ، داسې به تاسې د سخت کار کولو لپاره یوه انګېزه ولرئ.

10- د سخت کار له ترسره کولو وړاندې خپلې سترګې د څو شېبو لپاره پټې کړئ او دوه یا درې څله خپل ځان د هغه کار د تر سره کولو په حال

کې تصور کړئ، داسې به درته هغه کار اسانه شي.

11- د هر کار له پیلولو څخه مخکې د الله نوم (بسم الله) ووایئ، رب تعالی به له تاسې سره د هغه کار په تر سره کولو کې مرسته وکړي.

# بریا بخښونکي الفاظ

په ورځني ژوند کې ویل شوي او اورېدل شوي الفاظ د انسان پر ژوند ډېر اغېز کوي. الفاظ پر احساساتو، جسم، زړه، ماغزو، کړنو ان پر روح هم ژور اغېز لري.

په الفاظو کې دومره طاقت دی چې واکمنان او د اقتدار خاوندان د همدې الفاظو په مرسته عام وګړي تحریکوي او انقلابونه پرې را منځته کوي.

انسانان د مذهب او ملت لپاره خپل سر و مال قربانولو ته د الفاظو په زور چمتو کېږي. خاینان او تخریب کاران هم د خپلو شومو اهدافو لپاره له الفاظو ګټه اخلي. له بده مرغه موږ چې کومې خبرې کوو دغه الفاظ په لاشعوري توګه ټاکوؤ ځکه خو مو په ژوند کې ډېرې پایلې زموږ په خوښه نه وي. موږ اکثره هماغه خبرې کوو کومې چې موږ په‌خپل شاوخوا کې ډېرې اوروؤ ځکه خو عموماً زموږ، زموږ د ملګرو او شاوخوا خلکو احساسات یو ډول وي.

د غیر معمولي بریاوو د تر لاسه کولو لپاره، غیر معمولي احساساتو او جذبو ته اړتیا وي او د غیر معمولي احساساتو پیدا کولو لپاره پاروونکو او هڅوونکو الفاظو ته اړتیا وي.

د جنګ په میدان کې پرته له وسلې کوم سرتېری نه لیدل کېږي، ځکه د وسلې په مرسته هغه دښمن په شا تمبوي او له خپله ځانه دفاع کوي. د

ژوند په جنګ کې هم الفاظ له وسلې څخه کم نه وي. ډېر کله د همدې ویل شویو الفاظو د مخکې او وروسته کولو په مرسته د اورېدونکو احساسات بدلوو. د احساس له بدلون څخه وروسته د انسان د فکر کولو طرز بدلیږي او د فکر طرز د بدلون له امله چلند بدلیږي او د چلند د بدلون له امله ستاسې ټول ژوند بدلیږي.

انسان د ژوند بېلابېلې تجربې د الفاظو په واسطه بیانوي، یعنې د اظهار وسیله الفاظ دي. تاسې مو کله د اظهار وسیله (الفاظ) په قصدي توګه بدله کړئ، پایله به یې تاسې حیران کړي.

د بېلګې په ډول، تاسې ته کوم څوک سپکاوی کوي او تاسې ته ډېره زیاته غوسه درځي، ددې پر ځای چې ووایئ، ما ته ډېره غوسه راځي، داسې ووایئ، «زه ښه احساس نه کوم»، یا ووایئ، زه لږ غوسه یم، نو ستاسې احساسات به بدل شي او تاسې به ډېر و نه ځورېږئ.

بریالي اشخاص د الفاظو په کارولو ډېر ښه پوهېږي او دوی پوهېږي چې د مناسبو الفاظو کارول دوی ته ښې پایلې په لاس ور کوي.

بې ضرورته احساسات ستاسې د لارې خنډ جوړېږي، ځکه د هغو مطابق د الفاظو له کارولو څخه ډډه وکړئ.

د کرکې او نهیلۍ د ښکاره کولو لپاره خلک د الفاظو په کارولو کې افراط او تشدد کوي، کوم چې د دوی ژوند له بربادۍ سره مخ کوي. دغه الفاظ په غوره الفاظو بدلولای شو. «زه ډېر زیات خپه یم»، «زه لږ خپه یم»، «زه خوشحاله نه یم» دا درې واړه جملې ظاهراً یو ډول ښکاري، خو درې واړه د جلا جلا احساساتو پیدا کېدو لامل کېږي، ځکه نو د منفي کیفیت

پر وخت مو خپلو الفاظو ته پام وکړئ.

«څوک چې د خپلو ستونزو د لوی ښودلو هڅه کوي، خدای تعالی د هغه ستونزې هېڅکله نه حل کوي» (حدیث شریف)

زموږ خلک ډېر زیات احساساتي دي، په کوچنۍ خبره او ښکنځلو جنګ او وژنې کوي. دا هم په احساساتو پورې د تړلیو الفاظو نتیجه ده. که کوم څوک په غوسه کې تاسې ته د کوم حیوان د اولاد خطاب کوي، نو عموماً 99% خلکو ته غوسه ورځي، خو که تاسې په همدې مسئلې لږ فکر وکړئ او حقیقت ته ځیر شئ، نو تاسې خو د انسان اولاد یاست، د حیوان اولاد خو نه یاست! تاسې خو باید د هغه په عقل شکمن شئ، خو نه! ډېری خلک د داسې کنځلو په اورېدو بد احساس کوي او همدا بد احساس دوی دومره بد چلند او سخت غبرګون ښودلو ته هڅوي چې شاید د کوم حیوان اولاد یې هم ونشي ښودلای.

کله چې تاسې وایئ «زه ډېر خپه یم» نو له دې سره ستاسې په وجود کې د ستونزو د حلولو کوم طاقت چې موجود دی هغه له منځه ځي او د ستونزې له حل څخه عاجزه کېږئ. ډېری انسانان چې کله ستونزه کې وي ډېر پام یې همدې ستونزې ته وي، ځکه نو اندېښمن وي، خو ډېر لږ انسانان پرته له دې چې ستونزې ته اندېښمن شي، د ستونزې د حل په اړه فکر کوي او حللاره ورته پیدا کوي، ځکه څه چې شوي هغه خو هسې هم نه بدلیږي، نو ولې د هغه څه د بدلولو هڅه ونکړو چې بدلیږي، نو هڅه وکړئ چې د اندېښنې ښودلو الفاظ مو بدل کړئ، کنه نو خپل کنټرول له لاسه ورکوئ. پر ځای یې داسې جملې ووایئ «زه باید له دې ازمایښت څخه بریالی را ووځم» یا داسې ووایئ «زه دا ستونزه حل کوم

او نوي څه ترې زده کوم».

په ژوند کې د منفي احساساتو د څرګندولو لپاره کوم منفي الفاظ چې ستاسې په ذهن کې دي، هغه مو د ذهن له قاموس څخه وباسئ. هغه الفاظ چې تاسې عمل کولو ته هڅوي، خپل عادت کړئ. ددې پر ځای چې ووایئ «کوم شیان مې نه خوښېږي» ووایئ چې «کوم شیان مې خوښېږي».

«چې د الفاظو په قوت پوه نشو، د انسانانو په احساساتو نشو پوهېدای». (کنفوسیوس)

خپلې تجربې په ښکلو الفاظو ښکلې کړئ، ستاسې ژوند به ور سره بدل شي. کله چې دې څوک حال وپوښتي، ددې پر ځای چې ووایې «زه ښه یم» داسې ووایه چې «زه بېخي ښه یم»، یا زه ډېر ښه احساس کوم. په انګلیسي کې (Great) او (Fantastic) هم ویل کېږي. که چېرې کوم څوک مو د کوم کار په اړه وپوښتي، ووایئ «ډېر ښه و» یا «ډېر عالي و»، هغه الفاظ چې موږ کم را ولي او کمزوري مو معرفي کوي، نور له ژونده وباسئ، دا ستاسې شخصیت متضرره کوي.

د بدو احساساتو شدت د مناسبو الفاظو په کارولو سره کم کړئ او د ښو احساساتو شدت د ښو او قوي الفاظو په مرسته لوړ کړئ، داسې به مو پر ځان باور ډېر شي.

موږ او تاسې ډېر ځله لیدلي چې کوم خلک پخپل ژوند کې د ښو الفاظو له کمښت سره مخ وي، دوی له خبرو کولو وړاندې هڅه کوي خپل احساسات په عمل کې څرګند کړي. دا خلک نورو ته په زیان رسولو

کې هېڅ څنډه نه کوي. همدا خلک په جرایمو هم لاس پورې کوي، نو که غواړئ له دې ډلې و نه اوسئ، پخپلې حافظې کې د زړورتیا، ښکلا، همت او غښتلتیا الفاظ ځای پر ځای کړئ، ځکه ددې الفاظو کارول ستاسې احساسات ښکلي کوي او ستاسې برخلیک بدلوي.

نورو ته په ښو نومونو او الفاظو غږ کوئ، زه پهخپله اداره کې ټولو کارکوونکو ته د ښاغلیه، محترم او صیب په نومونو غږ کوم، ځکه که چېرې زه دوی ته په درناوي نوم واخلم، دوی هم بېرته ماته درناوی کوي. د عزت ځواب په عزت ورکول کېږي او د ذلت ځواب په ذلت.

که ملازم هم وي تاسې یې له نوم سره صیب یو ځای کړئ، بیا وګورئ چې هغه هم تاسي ته څومره درناوی او په اخلاص کار کوي.

زموږ ذهن له هر هغه شي سره مینه کوي کوم چې موږ د یوه سخت حالت څخه ژغوري او موږ ته خوښي را بخښي. تاسې هم له هغو الفاظو سره مینه وکړئ چې له سخت حالت څخه مو وباسي او ښه احساس در کوي، باور وکړئ بهترین ژوند به مو کړی وي.

همدا نن مو د لسو منفي احساساتو پر وخت د ویلو منفي الفاظ په نښه کړئ او پر ځای یې مثبت او انرژي بخښونکي الفاظ غوره کړئ او د بریا د سفر په لار کې یو ګام مخ ته لاړ شئ.

# استعداد (وړتیا) د الله تعالی غوره ډالۍ ده

د هغه څېره اندېښمنه او سترګې یې نمجنې وې. ژبې یې د احساساتو د بیان قدرت له لاسه ورکړی و. دومره نا ارامه و چې خپل نوکان به یې په غاښونو چیچل. ما بیا بیا دا پوښتنه تکرار کړه «زویه! څه شوي دي؟ ماته یې نه وایې؟» اخر له خپلې څوکۍ پاڅېدم او د هغه په څنګ کې کېناستم. د هغه پر اوږه مې لاس کېښود او په مینه مې د هغه په غوږ کې وویل: «بچیه! زه ستا استاد هم یم او ستا مشر ورور هم یم، ته له ما سره په ډاډه زړه خبرې وکړه چې ستا د خپګان په لامل پوه شم».

ویې ویل: «استاده! ټول خلک ما نالایق او تنبل ګڼي، مور، پلار او ټول استادان راته وایي، ته نا اهله یې او له درس ویلو څخه ځان پټوې. ددې ټولو خبرو له اورېدو وروسته زما زړه نه غواړي چې درس ووایم. اوس تاسې ووایئ چې زه څه وکړم؟ تاسې ووایئ آیا خدای تعالی ما ته هېڅ کوم استعداد نه دی راکړی؟».

د هغه درد مې حس کړ، د مېز له سره مې څو وچ دسمالونه ورکړل چې خپلې اوښکې پرې وچې کړي. ورته ومې ویل: «بچیه! موږ په دې پوهېږو چې څوک یو، خو په دې نه پوهېږو چې موږ کوم کارونه کولی شو او څه را څخه جوړېدلی شي. په اصل کې خدای تعالی موږ هر یوه ته بې شمېره وړتیاوې را کړې وي، د کومو په مرسته چې موږ ډېرې لویې بریاوې تر لاسه کولی شو، خو موږ ته معلومې نه وي. کله د چا وینا د زړونو دروازې پرانیزي، د چا غږ په غوږونو کې خواږه شیندي، د چا لیکنه د چا ژوند بدلوي، د چا غزل لوستل د چا زړه کراروي، د چا هڅونه او فکر څوک ماونټ اېورېسټ (د غره لوړې څوکې) ته وخېژوي، له رهبر جوړ شي او د ټول ملت قیادت په لاس کې واخلي.

ځوان په حیرانتیا وویل: «مگر ښاغلیه! تاسې خو د لویو انسانانو مثالونه راکړل، موږ خو عام انسانان یو، موږ څه وکړو؟» ما د ستاینې په نیت په اوږه وټپاوه، ورته ومې ویل: آفرین زویه! تا ډېره ښه پوښتنه وکړه، په دې نړۍ کې عام انسانان په دوه ډوله وېشل شوي، یو ډول هغه دي چې خپلې وړتیاوې او استعدادونه یې پېژندلي وي، دویم هغوی په دې نه پوهېږي کومې وړتیاوې لري. لومړۍ ډله خلک د ناکامۍ په صورت کې نهیلي کېږي او دویمه ډله خلک لومړی خو نه بریالي کېږي، که چېرې بریالي هم شي، نو حیران وي او خپله بریا نشي ساتلی. له خپلو وړتیاوو څخه ناخبري کوم جرم نه دی، هر وخت کېدای شي چې د خپلو وړتیاوو معلومات وکړو، مگر چې په‌خپلو وړتیاوو خبر اوسې او هېڅ کار ترې نه اخلې، یقیناً چې دا یو لوی جرم دی.

ځوان په رډو حیران راته کتل، بیا یې پوښتنه وکړه: «آیا یو انسان په بل

انسان کې کومه وړتیا پیدا کولی شي؟» ومې ویل، نه! هر انسان د خپلې مور له ګېډې باید له ځان سره وړتیاوې راوړي، دا په ارث نه وړل کېږي، نسب او علاقې پورې هم اړه نه لري، ځکه نو کوم استاد، مرشد او رهبر نشي کولی ستاسې په وجود کې کومه وړتیا پیدا کړي، خو هو ستاسې په وجود کې پټې وړتیاوې را ښکاره او غوړولی شي.

کله کله د سخت کار او زیار په نتیجه کې ستاسې پټ استعدادونه را برسېره کېږي. پټه وړتیا د هېڅ درد دوا نشي جوړېدای. که کومه وړتیا مو تاسې یا نورو خلکو ته ګټه ورسوي، په ټولنه کې ستاسې د شهرت او سرلوړۍ لامل ګرځي. هېڅوک تاسې ته کومه وړتیا در کولی هم نشي او در نه اخیستلای یې هم نشي.

ډېری کله ستونزې او حالات ستاسې د وړتیاوو د پټ پاتې کېدو لامل کېږي، خو ډېر کله یې د را برسېره کولو او غوړولو لامل هم کېږي. د وړتیاوو غمي د کاڼو او شګو لاندې ښخ کړای شوي وي، د ستونزو او حالاتو له کبله چې کومې اوښکې پیدا کېږي، هغه دومره ډېرې شي چې ټولې شګې او کاڼي ورسره یوسي او د وړتیاوو غمي په لاس راشي، ځکه متجسس او باغي انسان د سیند د څپو په څېر خپله لاره خپله جوړوي.

ښاغلیه! یوه وروستۍ پوښتنه: «مور د خپلو پټو وړتیاوو په اړه څه ډول پوهېدای شو؟» ومې ویل: «دا کوم سخت کار نه دی. ددې لپاره هم الله تعالی سیستم برابر کړی. کوم رب چې دومره ښکلی جهان جوړ کړی، د هغه د لیدلو لپاره یې خپلو بندهګانو ته د سترګو نعمت هم ورکړی. له ګل سره بورا او له شاتو سره مچۍ لیدل کېږي. همدا رنګه ستا د کارنامو په لیسټ کې به هم هرومرو ځینې داسې کارونه وي چې له امله به یې ته

ستایل شوی یې. هو! دا جلا خبره ده چې په انسان منفي نظر او نیوکې ډېر اغېز کوي او ستاینه کم اغېز کوي، خو که ستاینه کېږي، نو دا په دې مانا ده چې وړتیاوې هم موجودې دي. د نړۍ غېږه د وړتیا لرونکو انسانانو لپاره تل پرانیستې وي، نو په هغه کارونو دې ډېر تمرکز وکړه او ډېر کار پرې وکړه، د کومو له امله چې ته ستایل شوی یې. دغه وړتیاوې د الله تعالی له لوري ډالۍ وګڼه کومې چې تا مضطرب او اندېښمن کوي او په تمه اوسه کله چې ستا د وړتیا ونه لویه شي، مېوه یې هرومرو ستا لمنې ته درلوېږي».

اوس هم د هغه په سترګو کې اوښکې وې. مخکې له دې چې د اوښکو لامل یې وپوښتم هغه خپله وویل: «ښاغلیه! دا اوښکې تاسې ته د منني ویلو په پار زما د سترګو له دریڅو وبهېدې».

# د خپل ځان لپاره مو وخت جلا کړئ!

زیارکښه انسانان ژر یا لږ څنډ وروسته هرومرو بریالي کېږي. د بریالیتوب له تر لاسه کولو وروسته له انسان سره هر څه ډېر وي، خو د خپل ځان لپاره وخت وېستل ورته ډېر سخت وي.

ستاسې د ژوند ټولې برياوې، شهرت، شتمني، عزت، روابط او کاروبار او نور... ستاسې له برکته دي او ستاسې لپاره دي، نو که تاسې خپل ځانته وخت ور نکړای شئ، دا ټول شیان بې گټې دي.

زیارکښه انسانان له پوره ورځ کار کولو وروسته د شپې له ځان سره فکر کوي چې کاش ورځ لږه نوره اوږده وای او ټول کار مې ختم کړی وای، مگر په یاد ولرئ چې کار هېڅکله نه ختمېږي، ستاسې پر ډېرو هڅو سربېره څه نا څه کار پاتې کېدل یو فطري حالت دی. تاسې انسان یاست خدای نه یاست. نیمگړی اوسېدل ستاسې لپاره باید ویاړ وي، مکمل خو یوازې خدای تعالی دی.

وخت هېڅکله د هېچا لپاره نه تم کېږي، دا د بهېدونکي سیند په څېر دی، دا خپله چاته نه درېږي باید ته ترې خپله برخه پخپله واخلې. که تاسې مسلسل کار وکړئ، تفریح او ارام ته وخت جلا نکړئ، ډېر ژر به ناروغان شئ او ټولې وړتیاوې به مو بې گټې پاتې شي.

د خپل ځان لپاره وخت جلا کړئ او کوم ښه ځای ته له خپلې کورنۍ سره د تفریح لپاره لاړ شئ. که کوم لرې ځای ته نشئ تللی، ښکلي پارک

ته د قدم وهلو لپاره لاړ شئ. له ښکلو منظرو، تازه هوا، د مرغانو له نغمو، طبیعیت او د ښکلو ګلونو له ورمو څخه خوند واخلئ.

موږ عجیبه خلک یو، د کاروبار مسایل او جنجالونه کور ته وړو، خپله مېرمن او ماشومان پرې نا ارامه کوو.

د ژوند لپاره مو د اصولو یو منظم لیسټ جوړ کړئ، هر کار پخپل ټاکلي وخت وکړئ. کور ته په داخلېدو د دفتر او کاروبار مسایل بهر پرېږدئ. په کور کې تاسې سوداګر یا رئیس نه یاست، بلکې د ماشومانو پلار جان او د هغوی د مور جانې د ژوند ملګری یاست. دا وخت د هغو دی، په دې وخت کې له هغوی سره خبرې، شوخۍ او خنداوې وکړئ، څکه دا د ماشومانو په روان باندې ډېر اغېز کوي.

که کورنۍ دې خوشحاله وي، ستا فکر به هم ارامه او زړه به دې خوشحاله وي، داسې به بله ورځ ښه په انرژي سره خپل کارونه پیل کړې.

دغه راز په وزګارو وختونو کې له خپلو همفکره او مخلصو ملګرو سره ناسته ولاړه وکړئ او په یوې ښې موضوع بحث وکړئ. د هغوی نظریاتو ته غوږ ونیسئ او خپل نظریات هم ور سره شریک کړئ.

د هر انسان په وجود کې یو ماشوم اوسېږي، هېڅکله ددې هڅه مه کوئ چې هغه ووژنئ. له ماشومانو سره ماشومان شئ. دا هېر کړئ چې تاسې ډېر زیات سندونه او لوړ موقف لرئ.

کور د امن او سکون نوم دی، که چېرې تاسې په کور کې هم سکون نه تر لاسه کوئ، نو دا یو عذاب دی. امن او سکون له اسمانه څخه نه را غورځېږي، دا باید خپله را منځته کړو، د کور ماحول باید خپله له خندا

او خوښیو ډک کړو.

مینه او درناوی په غوښتلو نه تر لاسه کیږي، په ورکولو تر لاسه کیږي. انسان خپل وخت په بې ضرورته فکرونو او اندېښنو ضایع کوي، کله د ماضي ترخې خاطرې او پښېمانۍ او کله د راتلونکي اندېښنې د دوی له ژونده سکون اخلي.

ماضي خو چې هر څه و، تېر شو او راتلونکی چې کله راغی بیا به ورسره گورو. د یوې ورځې لپاره دا پرېکړه وکړئ چې نن به زه د ماضي بدې پېښې او بد یادونه نه پرېږدم چې ذهن ته مې راشي او په پوره ازادۍ او ارام فکر سره به ژوند کوم، ځکه زما جسم ازاد دی، خو ذهن مې تړل شوی، خو نن به زه خپل فکر هم ازادوم.

ددې نړۍ د ښکلاوو په اړه فکر وکړئ. موږ د نیمگړتیاوو په لټون عادت شوي یو. د مچ په څېر موږ یوازې د ناولتیا په لټه کې یو، د بورا په څېر د گلونو لټه پیل کړئ. ډېری خلک پوره اونۍ د رخصتۍ په تمه وي او وایي، په رخصتۍ کې به ډېر خوند واخلي، خو چې رخصتي راشي په هغه ورځ بیا د دوی ورځ هم په ځنډ پیلېږي او دومره ژر تېرېږي چې هېڅ به پرې پوه نه شي. ماښام مهال بیا دې ته خفه وي چې سبا به بیا درس وایي، یا به کار ته ځي. راځئ نور له رخصتۍ یوه ورځ مخکې له خپلې کورنۍ او ملگرو سره پلان جوړ کړئ او خپله رخصتي ښکلې او خوشحاله تېره کړئ. که همداسې دوام ورکړئ نو هېڅکله به اندېښمن نه شئ. کله نا کله د خپلې خوښې خواړه پاخه او په خوند یې وخورئ.

ددې لپاره چې له خپل کار څخه ستړي نه شو یوه لاره یې دا ده چې له

خپل کار سره مینه وکړو. د مینې او لېوالتیا پیدا کولو لپاره لاملونه پیدا کړئ. زه یوه تعلیمي اداره پر مخ وړم چې دا یو سخت کار دی، خو زه له 12 یا 14 ساعته کار کولو وروسته هم نه ستړی کېږم، ځکه زه له دې کار سره مینه لرم او ددې لامل دا دی چې دا کار ما ته د زده‌کړې فرصتونه برابروي. نوې تجربې ترې تر لاسه کوم او له نورو سره هم د هغوی په بریالیتوب کې مرسته کولی شم.

کوم وخت او فرصت چې نن لرو هغه به سبا نه وي. څوک چې نن له موږ سره دي، شاید سبا نه وي. دا ژوند هسې هم د ستر رب له لوري موږ ته یوه ډالۍ ده. راځئ لږ وخت مو د تر ټولو ارزښتمن او قیمتي انسان لپاره جلا کړئ، ځکه هر څه د همدې انسان له برکته دي او د همده له امله هر محفل ښکلی دی او دا قیمتي او مهم انسان کوم بل څوک نه دی، تاسې خپله یاست.

# نېکي وکړه او سیند ته یې گوزار کړه

هر انسان له ستونزو او خنډونو سره مخ کېږي. په تېر ژوند کې چې موږ کوم نېک کارونه کړي وي، د هغو له امله زموږ د نن ورځې کارونه اسانه کېږي.

الله تعالی د خپل هر بنده لپاره د اعمالو یو اکاونټ جوړ کړی چې نېکۍ یې په کې جمع کېږي. ټولې دعاوې او هیلې په یو ځل نه قبلېږي او نه د هرې نېکۍ بدل فوراً ور کړل کېږي. ځینې دعاوې او نېکۍ زموږ د راتلونکو بدو وختونو لپاره ساتل کېږي. تر دې چې زموږ د ځینو نېکو اعمالو بدل زموږ راتلونکو نسلونو ته ور کول کېږي او د هغوی د ارام او خوښیو باعث گرځي.

زموږ د نن ورځې دعاوې زموږ پر سبا ورځې اغېز کوي، نو د دعاوو د قبلېدو بیړه مه کوئ، الله تعالی له تاسې ښه پوهېږي چې څه وخت ستاسې د دعاوو د قبلېدو لپاره مناسب وخت دی.

«نېکي وکړه او سیند ته یې گوزار کړه»، «ښه وکړه چې ښه در سره وشي»، «څه چې کرې، هغه به رېبې» او «انجام ښه، هر څه ښه» دا ټول متلونه هسې نه دي ویل شوي، له دې ټولو څخه یو حقیقت څرگندېږي. موږ ټولو انسانانو ته پکار دي چې د خپلو نېکو اعمالو بدل له خدایه وغواړو، که هر څومره سختو کارونو کولو ته اړ شو، له انسانانو یې د منني او احسان منلو تمه باید ونکړو او نه هم په انسانانو خپل احسان واچوو. تاسې چې

هره ښېګڼه کوئ، د خپلې وسې مطابق يې کوئ، مګر چې ستر ذات يې بدل درکوي د خپل شان او قدرت مطابق يې در کوي.

د حديث شريف مفهوم دی: «بې شمېره انسانان څکه جنت ته ځي چې په نړۍ کې د هغوی هېڅ يوه دعا نه وي قبوله شوي».

نو تاسې د اسبابو د لټولو پر ځای خپلو هڅو ته دوام ورکړئ او څه چې مو په وس نه وي پوره له الله تعالی يې وغواړئ. رب تعالی خپله مسبب الاسباب دی.

«دعا مکمله غواړئ، څکه که څوک د کوم څه لټون کوي هغه پيدا کوي، څوک چې دروازه ټکوي هغه ورته خلاصېږي او څوک چې کوم شی غواړي هغه ورکول کېږي». (حضرت عيسی ع)

ملګرو! يو بل مهم راز به درته ووايم، تاسې چې له کوم چا سره نېکي کوئ، په حقيقت کې تاسې له خپل ځان سره نېکي کوئ، څکه الله تعالی د يوې ذرې په اندازه نېکي هم بې بدله نه پرېږدي او هرومرو يې تاسې ته غوره بدله درکوي.

# ستاسې ديانتداري نور خلک هم ديانتداره کوي

کاندله د هند د اتراپردېش ايالت يو مشهور کلی دی. شاوخوا يوه نيمه پېړۍ مخکې پکې د مولوي مظفر حسين په نامه يو نامتو ديني عالم اوسېده. مولوي صيب ډېر پرهېزګاره او نېک انسان و. د حج د اداء کولو لپاره يې اوه ځله تر مکې مکرمې پياده مزل کړی و. د قرآن د ترجمې او تفسير درس به يې خلکو ته ورکاوه. خپله يې هم ښه کارونه کول او نور به يې هم نېکۍ ته را بلل. په ټول کلي کې دده په اړه مشهوره وه چې هېڅکله دروغ نه وايي او ژمنه نه ماتوي.

ويل کېږي، په 1866م کال کې مولوي صيب له خپلې کورنۍ سره له کاندلې څخه ګنګوه سيمې ته روان شو، په هغه وخت کې خلکو پلی او ځينو په بګيو کې سفر کاوه، د مولوي صيب کاروان هم په همدې شکل سفر پيل کړ.

په لاره کې د لوټمارانو د حملې وېره وه. يوې دښتې ته چې ورسېدل مولوي صيب احساس کړل چې کاروان د لوټمارانو لخوا محاصره دی، نو له خپلې بګۍ ښکته شو او د لوټمارانو د مشر خوا ته ورغی، ورته وېيويل: «مخکې له دې چې تاسې زموږ پر کاروان حمله وکړئ او لوټ يې کړئ، زما يوه خبره واورئ!»

د غلو مشر وويل: ووايه! څه ويل غواړې؟

«زه له تاسې سره يوه معامله کول غواړم، که تاسې پيسې، ګاڼې او قيمتي

توکي غواړئ، دا ټول به تاسې ته پرته له حملې کولو هم در کړل شي، که تاسې زموږ مېرمنو او ماشومانو ته لاس ور نه وړئ، نو موږ به خپل ټول مال او قیمتي توکي په‌خپله خوښه تاسې ته در وسپارو».

د لوټمارانو مشر ومنله او یوې خوا ته کېناست. مولوي صیب خپلې کورنۍ ته راغی او ویې ویل: «له تاسې هر یوه سره چې هر څومره پیسې، سره زر او قیمتي توکي دي، هغه ټول راکړئ، یو شی هم در سره و نه ساتئ!».

ټولو مېرمنو چې هر څه درلودل را ټول یې کړل او مولوي صیب ته یې وسپارل. مولوي صیب له ټول مال سره د لوټمارو مشر ته ورغی، ټول مال او توکي یې د هغه مخې ته کېښودل، د باور کولو او وړاندیز منلو لپاره یې ترې مننه وکړه او له هغه ځایه روان شو.

لوټمارانو په خوښۍ ټول شیان واخیستل. د مولوي صیب قافله د ګنګوه پر لور وخوځېده. قافله لږه وړاندې تللې وه چې د ښځو تر منځ ګونګوسي پیل شول. مولوي صیب پوښتنه وکړه، څه خبره ده؟ یوې ښځې زړه نازړه وویل، فلانۍ نجلۍ وایي، ما خپل د سرو زرو امېل د جامو په منځ کې پټ کړی و، هغه را سره پاتې دی. ددې خبرې په اورېدو مولوي صیب د بګۍ د درولو امر وکړ او خپله ترې را ښکته شو. د نجلۍ خوا ته راغی، ویې ویل: «لورې! دا خو وعده خلافي ده کنه، ما له غلو سره وعده کړې وه چې له موږ ټولو سره موجوده ټوله شتمني هغوی ته سپارم، نو دا ګناه هم د هغوی کېږي، دا ما ته راکړه چې ور یې وړم». نجلۍ خپل امېل له جامو وویست او مولوي صیب ته یې ورکړ. مولوي صیب په چټکو ګامونو د لوټمارانو لور ته ور روان شو. کله چې هماغه

ځای ته ورسېد، لوټمارانو ولیدل چې مولوي صیب په تېزۍ سره د دوی لور ته راروان دی، دوی فکر وکړ چې مولوي صیب به کوم زورور خپلې مرستې ته را وستی وي، په موږ به حمله کوي او خپل مال به را څخه بېرته اخلي، خپلو ټولو کسانو ته یې د تیار اوسېدو امر وکړ. کسانو یې وسلې پورته کړې او تیار ودرېدل. ددې په لیدو سره مولوي صیب خپل لاسونه پورته کړل او ویې ویل: نه زه تاسې څارم او نه له تاسې سره د جګړې اراده لرم، بلکې زه راغلی یم چې ستاسې امانت در وسپارم. وسلې مو کېږدئ او خپل امانت له ما څخه واخلئ. دا یې وویل او مولوي صیب د لوټمارو د مشر خوا ته ورغی. ویې ویل: وروره! زه له تا بخښنې غوښتلو او ستا د امانت در سپارلو لپاره راغلی یم. ما ژمنه در سره کړې وه چې زه به زموږ ټوله شتمني تاته سپارم، خو له بده مرغه یوې ماشومې دا امېل له ځان سره ساتلی و. اوس ته دا واخله او د ژمنې نه پوره کولو کومه ګناه چې له ما شوې د هغې بخښنه راته وکړه.

د مولوي صیب له خبرو اورېدو وروسته د لوټمارو مشر حیران پاتې شو، بیا یې وویل: ته خو به مولوي مظفر حسین کاندلوي نه یې؟ په دې سیمه کې خو له هغه بل رښتینی انسان نشته.

مولوي صیب وویل: «هو وروره! مظفر حسین زما نوم دی». ددې خبرې په اورېدو د لوټمارو مشر په ژړا شو او ویې ویل: مولوي صیب! زه به همدا نن له دې کار څخه توبه کوم تاسې دعا وکړئ چې الله تعالی ما ته بخښنه وکړي. د خپل مشر په لیدو سره نورو لوټمارو هم له خپلو ګناهونو توبه وکړه. د مولوي صیب له قافلې څخه لوټلی ټول مال یې بېرته ور وسپاره او دا ژمنه یې وکړه: «موږ چې هر څوک لوټ کړي او ځورولي،

هغوی به لټوو، لوټل شوی مال به يې بېرته ور سپارو او بخښنه به ترې غواړو».

«دیانت‌دار انسان هغه دی چې له هغه سره نور انسانان خپل سر و مال خوندي وګڼي» (حديث شريف)

دیانت‌داري يو داسې الماس دی چې هره ډبره پرېکوي. خلک ستاسې له وېناوو دومره نه اغېزمنېږي، څومره چې ستاسې له کړنو اغېزمنېږي. نن ورځ که د ملا وعظ او نصیحت په چا اغېز نه کوي، علت يې دا دی چې ملا صيب نور خلک منع کوي، خو خپله هماغه کارونه کوي.

د نړۍ په برياليو او شتمنو اشخاصو د تامس ستېنلي له کلونو څېړنو څخه دا پايله په لاس راغې چې د ټولو برياليو او لويو انسانانو مشترکه ځانګړنه دیانت‌داري وه. تاسې تر هغې نشئ بريالي کېدای چې هر کار مو په دیانت‌دارۍ سره س رته و نه رسوئ. دیانت‌داري غوره تګلاره ده. د چل، فرېب، بد دیانتۍ او دروغو ويلو ترغيب موږ ته د رسنيو، ټلوېزيوني خپرونو، اشتهاراتو او د کور له خراب چاپېريال څخه را کول کېږي، ځکه خو نن ورځ بد دیانتي او چالبازي کول موږ ته لوبه او تفريح ښکاري. بد دیانتي د پټولو شی نه دی. خلک به يو ځل په تاسې تېروځي، مګر وروسته له هغې به ستاسې شخصيت د هغوی له نظره د تل لپاره ولوېږي. بد دیانتي د اړيکو د پرېکون سبب کېږي. دا رنګه زموږ له ژونده سکون او خوښۍ هم اخلي.

له عزت سره ناکامېدل هم په ذلت سره تر برياليي کېدو غوره دي. ځينې ماتې له فتحو څخه ګټورې وي. په بد دیانتۍ سره ګټل د کردار د

خرابوالي نښه ده. د یوه فرد د ځلند ازمایښت موږ هغه وخت کولی شو چې وګورو هغه څه کوي او څه نه کوي، په داسې حال کې چې هغه هر کار کولی شي.

د دیانتدارۍ خپلولو دوه غوره لارې دي. یوه لاره یې دا ده چې د کوم غلط کار کولو پر وخت دا در په زړه کړئ چې الله تعالی مېویني او بل دا یاد ساتئ چې تاسې یوه نه، یوه ورځ هرومرو مړه کېږئ او خدای ته بېرته تګ لرئ، نو د کوم انسان په حق کې که تاسې تېری کړی وي، هغه به ستاسې د بخښنې مخه ونیسي. ستاسې دیانتداري د نورو انسانانو د دیانتدار جوړېدو لامل کېږي. دا په یاد ولرئ چې نېکي هېڅکله له منځه نه ځي.

«دیانتدار سوداګر به د قیامت په ورځ د انبیاء[ع]، شهداوو، صالحینو او صدیقینو په کتار کې ولاړ وي» (حدیث شریف)

# ستاسې واقعي پېژندګلوي

شاوخوا سل کاله مخکې یوه سړي په سهارنۍ ورځپاڼه کې یو خبر ولوست چې ډېر زیات یې حیران کړ او و وېرېده، ځکه دده نوم د مړو شویو په جدول کې لیکل شوی و. کوم چا په تېروتنې دده د مرګ خبر خپور کړی و. ددې خبر له لوستلو سره هغه سخته صدمه ولیدله. له ځان سره یې وویل، آیا زه ژوندی یم که مړ شوی یم؟ څو شېبې وروسته کله چې یې حواس پر ځای شول، ویې غوښتل وګوري خلکو دده په مړینې د خپګان ښودلو لپاره کوم الفاظ کارولي؟ د خبر سر ټکي داسې ول: «د ډاینامایټ پاچا ومړ» (Dynamite king) بل ځای لیکل شوي ول: «هغه د مرګ سوداګر و».

په اصل کې دا سړی د ډاینامایټ بم جوړوونکی و. کله چې هغه ولوستل چې ده ته د مرګ د سوداګر لقب ورکړل شوی، له ځانه یې وپوښتل، آیا تا د همداسې یوه لقب ګټلو هیله لرله؟ آیا له مرګه وروسته به زه په دې نوم یادېږم؟ له ځان سره یې وویل، نه! هېڅکله نه!. له هماغې ورځې څخه یې د امن لپاره کال کار پیل کړ.

د ډاینامایټ پاچا کوم بل څوک نه و، (Alfred Noble) الفرېډ نوبل و او نن ورځ ټوله نړۍ هغه د نوبل جایزې د را منځته کوونکي په حیث پېژني.

تاسې کله پر دې فکر کړی چې ستاسې اصلي پانګه څه شي ده؟ تاسې له مړینې وروسته په کوم نوم یادېدل غواړئ؟ آیا تاسې غواړئ چې

خلک مو په درناوي او مینې یاد کړي؟ آیا تاسې غواړئ چې وروسته له مړینې مو خلک کمی احساس کړي؟ او آیا ستاسې راتلونکي نسلونه به ستاسې نوم په ویاړ سره واخلي؟ دا هغه پوښتنې دي چې ستاسې له راتلونکي سره تړاو لري، خو که تاسې دغه پوښتنې د هر کار له کولو څخه مخکې په نظر کې ونیسئ، بیا به تاسې پوه شئ چې کوم کار مو د کولو دی او کوم نه او ورو ورو به مو په کړنو او رفتار کې مثبت تغیرات راشي.

د سبو بوټي ژر حاصل ورکوي، خو ژر له منځه هم ځي او د مېوو نیالگي ډېر وخت نیسي چې په ونې بدلیږي، خو تر ډېره دوام کوي. دنیاوال د گلپي د بوټي د گل سیوري ته کېناستل نه غواړي، بلکې هغوی د یوې لویې سیوري لرونکې ونې په لټه کې وي.

«داسې ژوند وکړه څه ډول چې له مرگه وروسته یادېدل غواړې»(مهاتما گاندي)

ژوند کومه لوبه نه ده چې موږ په کراره کېنو او له لوبې لیدلو خوند واخلو. موږ ته پکار دي په شخصي گټو سربېره ملي او ټولنیزې گټې هم وسنجوو او کار ورته وکړو. د لنډ مهاله گټو لپاره غلطې پرېکړې ونکړو، بلکې د اوږدمهاله گټو لپاره سمې پرېکړې وکړو. موږ باید په دې پوه شو چې څه وخت او ولې مخالفت وکړو. پر لوی باور سربېره که موږ لاره ورکوو، تر دې دا غوره ده چې موږ خپل هدف په نظر کې نیولو سره په کوچنیو گامونو اخېستلو مخ ته لاړ شو

یاد یې لرئ چې موږ دې سیارې ته د یوه مقصد لپاره را لیږل شوي یو. موږ د یوه سبا برخه یو. موږ د یوه لوی انځور ارزښتمنه برخه یو.

لوی انسانان له خپل تگ څخه وروسته ډېر څه په میراث پرېږدي، دوی

د نورو په خیر پوهېږي. دوی پخپل ژوند کې متحرکه انسانان وي، مرگ یې په خلکو کې د تحریک او خوځښت باعث کېږي. سر سید احمد خان، ماوزې تینگ، کمال اتاترک، ایت الله خمیني، مولانا مودودي، علامه محمد اقبال، مهاتما گاندي، سید قطب او خان عبدالغفار خان (باچا خان)، دا ټول هغه خلک دي چې له مرگ وروسته هم د یوه غږ او یوه خوځښت لامل شوي. همدې بې عیبه ماضي لرونکو انسانانو د بې عیبه راتلونکي بنسټ ایښی دی. دا خلک پوهېدل چې انسانانو ته تعلیم ورکول او روزل په دې مانا دي چې ستا افکار د هغوی په ذهنونو کې ژوندي پاتې شي او ستا هیلې د هغوی هیلې شي.

سقراط د افلاطون روزنه وکړه، افلاطون د ارسطو روزنه وکړه او ارسطو لوی سکندر وروزه. هر یو د نورو د نوم او علم د ژوندي پاتې کېدو باعث شول. که چېرې علم له یوه فرد څخه بل ته د انتقال وړ نه وای، نو علم به له منځه تللی وای او نن به هر انسان جلا پوهه او جلا منطق درلود.

په تېرې پېړۍ کې د رو کفلر نوم د څو ډېرو شتمنو کسانو په نوملړ کې لیکل کېده. هغه یو وخت یو عادي مزدر و چې هره ورځ یې پینځلس ساعته کار کاوه. په 1929م کال کې کله چې هغه له خپلو کارونو څخه تقاعد واخیست، د هغه شتمني 230 میلیونه پاونډه وه چې په هغه وخت کې دا یوه لویه اندازه پانگه وه. دومره ډېرې پیسې یو مزدور له کومه پیدا کړې؟ په اصل کې کله چې هغه د ځوانۍ له وخته په کار کولو پیل وکړ، دا ژمنه یې وکړه چې د خپلې گټې پینځلسمه برخه به صدقه کوي. هغه به له بېوزلو او بې کوره خلکو سره مرستې کولې، له پوهنتونو او روزنیزو مرکزونو سره یې همکاري کوله. په دې ډول هغه د نړۍ شتمن شخص

شو چې تر ننه یې نوم ژوندی دی. هغه په اوسط ډول پخپل ټول ژوند کې 700 میلیونه پاونډه صدقه کړي دي.

هیڅ یو انسان له دې امله د درناوي او مینې وړ نه دی بللی شوی چې هغه ډېر زیات مال تر لاسه کړی، بلکې له دې امله یې درناوی شوی چې نورو ته یې هم له خپلې شتمنۍ څخه برخه ورکړې.

ژوند یوازې دا نه دی چې تاسې څومره خوښ یاست، دا هم مهمه ده چې نور خلک له تاسې څومره خوښ دي. څوک چې یوازې د ځان په اړه فکر کوي هغه په اصل کې د یوه حیوان په څېر ژوند کوي، ځکه حیوانات هم یوازې د ځان لپاره ژوند کوي او د نورو پروا نه ساتي. کوم خلک چې هم د ځان په اړه فکر کوي او هم د نورو په فکر کې وي، دا په واقعي مانا انسانان دي او هغوی چې د ځان غم ورسره لږ او د نورو غم ورسره ډېر وي، د الله تعالی دوستان دي او د دوی نومونه به له مړینې وروسته هم ژوندي وي.

«لوی انسانان هم مري، خو مړینه یې د دوی د لا عظمت او لویۍ لامل کېږي» (واصف علي واصف)

رومي مولانا وایي: «ټول انسانان له مرګ وروسته قبرونو ته ځي او ښه انسانان له مرګ وروسته د خلکو زړونو ته ځي او خلک یې په یادولو ژوندي ساتي».

اوس نو پرېکړه ستاسې په لاس کې ده چې یوازې د ځان لپاره ژوند کوئ، که د ټولو خلکو لپاره؟ په قبر کې ښخېدل غواړئ، که د خلکو په زړونو کې یو ښه یاد جوړېدل غواړئ او که د خلکو لپاره د عبرت درس؟

# وروستۍ خبرې... د ژوند عنوان

هغه بیا بیا یوه خبره تکراروله: «له ما سره وخت ډېر لږ دی». د ناروغۍ له امله نهیلی او مایوسه ښکارېده. څو شېبې یې خپله ناروغي هېره کړه او د ماضي هغه خوږې خاطرې یې ور په زړه کړې چې نن یې هم هیله‌من ساتلی و. له معصومیته د ډک ماشومتوب او له شوخۍ د ډکې ځوانۍ د یادونو خوږو وږمو یې د زړه بڼ لکه پسرلی تازه کاوه. د ټولې کورنۍ د مشر په حیث نن هر یوه ورته د عزت او درناوي په نظر کتل. نن د هغه له خبرو داسې ښکارېدل چې زړورتوب یوازې د نظر د یو ډول نوم دی، خو پر دې سربېره زړورتوب په نړۍ کې تر ټولو مهلکه ناروغي هم ده. شیخ صیب په ډېر زیار او هڅو په دیانت‌دارۍ خپل کاروبار ته پراختیا ورکړې وه. پخپلو اولادونو یې پر دیني زده‌کړو سربېره عصري زده‌کړې هم کړې وې او خپله د دوی لپاره یو رول ماډل و. همدا یې لامل و چې نن د هغه لمسیانو هم د خپل نیکه مینه خپله سرمایه ګڼله.

دوه ورځې وړاندې یې وکیل راغوښتی و او خپل ټول جایداد او شتمني یې په منصفانه توګه وېشلې وه، خو هېچا ددې فکر هم نه شو کولی چې مشر میا صیب د خپل رب خوا ته د تګ په چمتو والي بوخت دی.

وروستی وخت هم ډېر عجیب وخت وي، لکه د یوې اوږدې کیسې نیمګړی پای. زرګونه هیلې، مینې، بې شمېره روابط او بې شمېره د ویلو خبرې نیمګړې پاتې کېږي.

دنیا هم لکه مېله د څېنو شتون مو ژوند ښکلی کوي او د څېنو شتون مو ژوند په عذاب بدلوي. څنګه چې د پوره ورځې د سترګیا له منځه وړلو لپاره د شپې خوب ته اړتیا وي، همداسې د پوره ژوند د سترګیاوو له منځه وړلو لپاره د مرګ خوب هم اړین دی.

ډاکټر په کراتو د اکسیجن ماسک ور اغوسته او مشر میا صیب به په لاس لرې کړ او د خدای تعالی د وحدانیت او د رسول^ص^ د رسالت اقرار به یې کاوه. د اقرار او اظهار په جریان کې بالاخره دده د ژوند لمر د تل لپاره پرېواته او یو ارزښتناک ژوند پای ته ورسېده.

له مرګه وړاندې ویل شوې وروستۍ خبرې د پوره ژوند فلسفه بیانوي. د الله تعالی د مرستې او لارښوونې په ډاډ د ژوند کوونکو انسانانو په مرګ کې سکون وي. د مرګ وېره له مرګ څخه هم ډېره وېروونکې ده. د مرګ وېره د هغو انسانانو لپاره یوه سزا ده چې بې مقصده ژوند یې کړی وي.

خلیفه مامون رشید د ځنکدن په وخت په وروستي ځل داسې ویلي وو: «ای هغه ذاته چاته چې هېڅکله مرګ نه راځي، په هغو رحم وکړه چې مړه کېږي».

له سکندر کبیر نه یې د ځنکدن پر وخت وپوښتل، خپل سلطنت چا ته سپارې؟ هغه ویلي وو: «تر ټولو زړور انسان ته».

د مشهور شاعر جان ملټن وروستۍ خبره دا وه: «پرده را وغورځوئ! دا لوبه پای ته ورسېده».

شیر شاه سوري ویلي وو: «د روح د تګ وخت را ورسېد».

د نړۍ ټول اروا پوهان په دې اړه یوه خوله دي چې: «انسان په نهایي سخت حالت کې په رښتیا ویلو مجبوریږي». مرګ داسې حقیقت دی چې څوک ورسره مخ شي، نو فطرتاً هغه الفاظ یې په ژبه راځي چې د هغه د ټول ژوند د مقصد عنوان یې بللی شو. د ژوند کولو هیله کول هم یوازې د هغه چا حق دی چې څوک په ژوند کې د کوم څه د تر لاسه کولو هڅه او تلاش کوي، ځکه ویل کیږي، «که پایله ښه وي، نو هر څه ښه دي» *(If end is well, All is well)*

ښه انسانان په نړۍ کې د سیوري لرونکو او میوه لرونکو ونو زړي کري، کوم چې د هغوی له مړینې وروسته هم نورو انسانانو ته د خیر او اسانتیاوو را منځته کولو باعث کیږي.

بل خوا د بدو انسانانو بدمرغي دا ده چې دوی مري، خو د دوی ګناهونه نه مري، د دوی ژوند هم د اغزیو لرونکو بوټیو په څېر تل د نورو د تکلیف او اذیت سبب کیږي او د دوی مرګ هم د اغزیو په څېر په هر انسان کې نښلي او ځوروي یې.

په وروستي ځل کلمه ویل ستاسې پر ژبه، ستاسې کلمې او ایمان ته کوم قوت نه ور کوي، بلکې ستاسې اعمال قوي کوي.

هغه انسانان چې د الله تعالی په ډاډ ژوند کوي، دوی کومې بینایۍ ته اړتیا نه پیدا کوي، بلکې دوی دغه بینایي د رسوایۍ لامل بولي، ځکه نو دوی له خپلو انساني هڅو او کوښښ وروسته خپل کارونه خدای تعالی ته سپاري.

په ژوند کې د بې باوریو، نا ارامیو، بدو حالاتو او نا برابریو له منځه وړل

یوازې یوه لاره لري، هغه دا چې د خپل فکر کولو طرز بدل کړئ او خپل ځان خپل رب ته وسپارئ.

راځئ دعا وکړو چې زموږ ژوند د کلمې (کلمه طیبې) وضاحت وکړي او زموږ مرګ د کلمې عنوان شي. آمین.

*پای*